# د ماسکو لاس

لیکوال:
ل.و. شیبارشین
ژباړن
محمد طاهر کانی

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# د مسکو لاس


ليکوال: ليونيد ولاديميروويچ شيبارشين

ژباړن: محمد طاهر کاني

ketabton.com - The Digital Library

# د مسکو لاس

لیکوال: لیونید ولادیمیروویچ شیبارشین

ژباړن: محمد طاهر کاني

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه :

د کتاب نوم: د مسکو لاس

لیکوال: لیونید ولادیمیروویچ شېبارشین

ژباړن: محمد طاهر کاټی

خپرندوی: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه - جرمني

د خپرېدو لړ: ۵۵

چاپ زیار: سید عبدالله پاچا

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ نېټه: ۱۳۸۲ل / ۲۰۰۳ ز

کمپوزر: ذبیح الله شفق

چاپ او کمپیوټرځای دانش کتابتون، قصه خوانی بازار، پېښور

.........................................................................................

یادونه: د دغه ننبیر د چاپ او انلاین خپرولو ټولې ربنتې له ژباړن سره خوندي دي.

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

زموږ د ګران هېواد افغانستان ټولو هغو ربښتینو بچیانو ته چې د
بېلابېلو خامو او ناجوړو سیاستونو بلهاري شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

## د سريزې پر ځای:

# «د مسکو لاس»

## د تېرو پېښو د حقيقت ځينې اړخونه

«د مسکو لاس» نومي کتاب ليکوال تورن جنرال  ليونيد ولاديميروويچ شېبارشين د روسانو له خوا د افغانستان د اشغال په کلونو کې د «ک.گ.ب» له ډېرو مهمو چارواکو څخه و. مرستيال او لنډه موده يې سرپرست.

د افغانستان په اړه د هغه ليکنې سره له دې، چې د هغه وخت د شوروي نظر ځرگندونه کوي او ټولې رښتيانې پېښې نه بيانوي، خو بيا هم د پېښو له ځينو حقيقتونو څخه پرده پورته کوي. په تېره بيا له کارمل څخه ډاکتر نجيب ته د روسي واک سپارلو بهير په تفصيل سره بيانوي. سره له دې، چې ښايي بيا يې هم ځينې برخې ناويلې پرې ايښې وي او د خپلو گوډاگيانو د بدلون رابدلون ټول حقايق يې نه وي رابرسېره کړي. هغه د خپل اثر په سريزه کې وايي چې د ضرورت له مخې بايد ځينې حقيقتونه «چې له ډولونو څخه په يو ډول ژوندي يو ته ضرر رسوي او يا هم د مړو خلکو پر ياد باندې سيوری اچوي» بايد پټ شي.

شېبارشين په عمومي ډول پر افغانستان تېرې يوه تېروتنه گڼي او د شوروي هر گام په دغه هېواد کې تېروتنه ورته ښکاري. هغه ليکي: «په افغانستان کې

ketabton.com - The Digital Library

زموږ له خوا پورته شوی گام، چې په ۱۹۷۹ کال کې پیل شوی و او یوازې اوس پای ته ورسید ، یوه ماجرا وه...په افغانستان کې د شوروي لوري هر گام په پټو سترگو اخیستل کېده او کله چې به ژوند د هغه ناسموالی وښود ، نو په همدې ډول د یو بل ناسم او ناچمتو شوي گام نیت کېده...»

او یا یې دغې جملې ته پاملرنه په کار ده: «شوروي سیاسي مشرتابه دا مېړنتوب او زړورتوب نه لاره، چې په دې اعتراف وکړي چې د ببرک کارمل او زموږ د پوځونو پر وړاندې باندېونه نه دي ولاړ، بلکې پراخ ولسي مقاومت ولاړ دی.»

د جنرال شېبارشین دغه اثر د شوروي یرغل ځینې نوي اړخونه موږ ته راسپړي. هیله ده یو وخت هلته داسې زړور «سخاروفان» راپیدا شي، چې د ټولو حقیقتونو په بیان کې نه د ژوندیو له سیوري وډار ېږي او نه هم د مړو له سیوري.

د دې اثر ژباړن ښاغلی محمد طاهر کانی د زیاتې ستاینې وړ دی، چې دغه کتاب یې له روسي ژبې څخه په پوره حوصله په روانه او خوږه پښتو ژباړلی دی.

هیله ده گران مینه وال لوستونکي او د دې موضوعگانو څېړونکي په دې اثر کې د روسي یرغل په اړه نوي او په زړه پورې ټکي پیدا کړي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه

جرمني - د کولن ښار

ketabton.com - The Digital Library

**د ۲۰۰۳ کال د اپرېل ۱۷**

**د ۱۳۸۲ لمریز د وري ۲۸**

ketabton.com - The Digital Library

# د ژباړن سریزه

درنو لوستونکیو !

د پخواني شوروي اتحاد د کې. جي. بي د لومړي لوی ریاست (بهرنۍ څارګرۍ) مشر او د کې.جي. بي د مشر د مرستیال تورن جنرال لیونید ولادیمیروویچ شیبارشین کتاب «د مسکو لاس» لومړی وار په ۱۹۹۲ ز کال کې او دویم وار په ۲۰۰۲ ز کال کې په مسکو کې چاپ شوی دی. دغه کتاب لیکوال د خپل تېر ژوند په اوږدو کې لیکلی دی. په هغه کې لیکوال د خپل شخصي ژوند ، کورنۍ، په پاکستان، هند ، ایران او افغانستان کې د خپل کار او سفرونو ، د شوروي اتحاد د کې. جي. بي د بهرنۍ څارګرۍ او د ۱۹۹۱ ز کال د اګست میاشتې د ناکامې کودتا په اړه بیان کړی دی.

ما د دغه کتاب د پاکستان، هند ، ایران برخې په لنډیز سره، یانې یوازې هغه ځایونه، چې ماته اړین او مهم برېښدل وژباړل، خو د افغانستان برخه مې بشپړه راوژباړله. د متن هغه برخې چې ژباړه یې راته اړینه نه برېښېده، د هغوی پر ځای مې له [...] نښې کار اخیستی دی. همدا راز په هغو ځایونو کې، چې زیاتونې ته اړتیا وه، هلته مې د [ ] نښه کارولې ده. د کتاب په ځینو برخو کې ما ځینې نورې اړینې څرګندونې هم کړې دي. هغوی ته مې د کتاب په لمنلیک کې ځای ورکړی، چې د ستورو * او (ژ) (ژباړن) په توري سره یې د لیکوال له متنه توپیر شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

زما په اند هغه څه چې ل. و. شېبارشين د افغانستان او يو شمېر نورو هېوادو په اړه کښلي دي، ډېر مسايل يې له واقعيتونو سره تړاو لري. هغه هڅه کړې ده، چې د مسايلو په باب ناپېيلی قضاوت وکړي او پېښې داسې انځور کړي لکه څنگه چې رامنځته شوې وې. که غلط نه شم ل. و. شېبارشين د پخواني شوروي اتحاد د کې. جي. بي لومړنی او وروستنی هغه لوی چارواکی دی چې د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ اړيکو او مسايلو په باره کې يې په دې کچې سره سپين ويل کړي دي. په ځينو مسايلو کې ليکوال ښايي چې روسی دريځ ولري، خو له دې سره سره په ټوليزه توگه دغه کتاب تاريخي ارزښت لري.

هيله من يم چې دغه ژباړه به زمونږ د لوستونکيو، ليکوالو او څېړونکيو لپاره گټوره واقع شي.

په پای کې په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې له ټولنې او نورو ټولو هغو دوستانو، چې په يو ډول د ډولونو يې د دغه کتاب د چاپ او خپرولو په کار کې ونډه اخيستې ده، د زړه له کومي مننه کوم. په ځانگړې توگه له انځور صاحب نه مننه کوم، چې له ما څخه يې خپلې سلا مشورې نه دي سپمولې.

محمد طاهر کانی

مسکو- د ۲۰۰۳ ز کال د مارچ څوارلسمه

ketabton.com - The Digital Library

# د ليکوال لنډه پېژندنه

ليونيد ولاديميرووېچ شېبارشين په ۱۹۳۵ ز کال کې د مسکو ښار د «مارينه روشه» په سيمه کې زېږېدلی دی. په ۱۹۵۲ ز کال کې يې ښوونځی پای ته ورساوه. څه موده وروسته د ختيځ پېژندنې د انستيتوت د هند په څانګه کې شامل شو. هلته يې د اردو ژبې، د هند تاريخ، جغرافيې او ادبياتو په زده کړه پيل وکړ.

په ۱۹۵۸ ز کال کې کله چې په شپږم ټولګي کې و، د عملي درس لپاره پاکستان ته ولېږل شو. شېبارشين په پاکستان کې د شوروي اتحاد د سفير د مرستندوی او ژباړونکي په توګه وټاکل شو. په ۱۹۶۲ ز کال کې له پاکستانه هېواد ته راستون شو. په مسکو کې هغه ته په کې. جي. بي کې د کار کولو وړانديز وشو. نوموړی د يو شمېر دوستانو په سلا سره د کې. جي. بي د کشف په ښوونځي کې شامل شو. په ۱۹۶۴ ز کال کې له خپلې مېرمنې او يوې کوچنۍ لور سره يو ځای د دويم وار لپاره د پاکستان کراچۍ ته ولاړ. هلته يې د شوروي اتحاد  په سفارت کې د سفير د سلاکار په توګه کار پيل کړ او تر ۱۹۶۸ ز کال پورې يې په نوموړي هېواد کې کار وکړ.

د ۱۹۷۱ ز کال په پسرلي کې هند ته ولاړ. هلته يې د کې. جي. بي. د بهرنۍ څارګرۍ د استازي د مرستيال په توګه د ۱۹۷۷ ز کال تر اپرېل پورې کار کار ته دوام ورکړ. له ۱۹۷۸ ز کال نه د ۱۹۸۳ ز کال د فبرورۍ تر ۱۵ نېټې پورې په ايران کې د کې. جي. بي د بهرنۍ څارګرۍ استازی وو. له دې نه وروسته يې په مسکو کې کار کولو ته دوام ورکړ او ځينو نورو هېوادو ته يې لنډ سفرونه

ketabton.com - The Digital Library

وکړل. د ۱۹۸۹ ز کال په جنوري کې د کې. جي. بي د لومړي لوی ریاست د رئیس او د کې. جي. بي د مشر د مرستیال په توګه وګومارل شو. د ۱۹۹۱ ز کال د اګست له ۲۲ تر ۲۳ نېټې (تر کودتا وروسته) یانې دوه ورځې د شوروي اتحاد د کې. جي. بي. سرپرست هم و. د همدغه کال د سیپټمبر په میاشت کې یې استعفا وکړه. وروستۍ پوځي رتبه یې تورن جنرالي وه.

ketabton.com - The Digital Library

# سریزه

د ۱۹۹۱ ز کال د سیپتمبر د میاشتې په ۲۳ زه د وروستي ځل لپاره د شوروي اتحاد د کې. جي. بي د لومړي ریاست دفتر ته ننوتم. له کړکۍ نه د سپېدارو ونې ښکارېدې، چې د مني په رارسېدو یې طلایي مړاویتوب په برخه شوی وو. په الماری کې کتابونه پراته ول، د ف. د. دزېرژینسکي عکس او د افغانستان یوه منظره پر دېوال ځوړند وو. نیم درجن تیلیفونونه ټول غلي پراته ول. د مېز پر سر یوه پاڼه کاغذ هم نه وو. په رېک کې د کوچني مسېدونکي هلک یو عکس وو. دا کوچنی هلک زما لمسی سېریوژه وو.

ما د ۱۹۸۹ ز کال د فبروری میاشتې له ٦ نېټې راهیسې دغه دفتر نیولی وو. په هغه کې مې په یوه شواروز کې له ۱۳ تر ۱۵ ساعتو پورې وخت تېراوه. د رخصتیو په ورځو کې مې کار کاوه، غمونه او خوښۍ مې پکې زغملې، په زرګونو لاسوندونه (سندونه) مې پکې لوستل او له سلګونو خلکو سره مې پکې لیدنې کتنې کولې. ماته داسې برېښېده، چې د ځمکې د غونډارې د زړه درزا دلته احساسېږي.

دا ټول څه باید په یاد کې وساتل شي. که چېرې کوم وخت بیا هم دې دفتر ته راپېښ شم، نو دا راتګ به یوازې د یوه مېلمه په توګه وي.

زه له ګهیځه په لوبیانکه د [کې. جي. بي] د کومېټې په ودانۍ کې وم، چې د کې. جي. بي د سکرتریت مشر د. ا. لوکین ماته تیلیفون وکړ او خبر یې راکړ چې د ولسمشر م. س. ګورباچوف د فرمان له مخې زه د کې. جي. بي د مشر د

ketabton.com - The Digital Library

مرستیالۍ او د شوروي اتحاد د کې. جي. بي د لومړي لوی ریاست له څوکۍ
ګوښه شوی یم. د مشر و. و. باکاتین له لوري هم همدا ډول فرمان لاسلیک
شوی دی. زه په دې اند یم چې د کې. جي. بي د کومیټې مشرتابه کولای
شوای، چې څه ناڅه په ادبي ډول د بهرنۍ څارګرۍ رئیس ته ووایي، چې د
هغه نږدې دېرش کلن خدمت پای ته ورسېد. د دې تر څنګ دا مهمه نه ده،
مهمه دا ده چې زه د خپل ژوند له وظیفه شناسۍ سره خدای په اماني کوم.

* * *

انسان د ځوانۍ پر مهال په دې باور نه شي کولای چې ژوند یو وخت پای ته
رسېږي. هغه داسې ژوند کوي لکه د هغه برخلیک چې له ابد او دایمي توب
سره تړلی وي.

د زړښت پر مهال د ځمکې پر سر د شتون او ژوند پای احساسېږي او په عیني
واقعیت بدلېږي [...]

داسې هم پېښېږي چې خدمت او ژوند د انسان لپاره یو بشپړ څیز جوړوي او
ټولې هغه روښانه کرښې چې د ژوند په نامه یادېږي، د کلونو په تېرېدو سره
لا ډېر د خدمت د ګټو تابع کېږي او په هغه کې حل کېږي. انسان چې له خپل
کار او د کار له ځایه ګوښه شي، نو ډېر زړه تنګی کېږي او د مجبوریت له
لامله په هغو وزګارو ورځو کې، چې د ده په ژوند کې ډېرې کمې وي، خپل
ځان ورک احساسوي [...]

ketabton.com - The Digital Library

هغه کار چې ډېر کلونه زه او زما همکاران پرې بوخت ول، زما په اند له نورو ډېرو هغو چارو نه چې ژوند یې سرې ته وړاندې کوي، په زړه پورې او زړه خوښوونکی دی. ماته پخوا هم همداسې ښکارېدل او اوس هم همدغسې برېښي. ژوند د کار یوه برخه ده او ما تل داسې اندل، چې هغوی هممهال یو بل قطع کوي.

خدمت پای ته ورسېد ، خو ژوند دوام لري. هغه چاره هم دوام لري چې زما کار یې یوه کوچنۍ برخه وه. دغه لویه بوختیا او کار زما له زېږېدو سل کاله مخکې پیل شوی وو او تر هغه وخته به پای ته ونه رسېږي، تر څو چې روسیه ژوندۍ وي. د وخت په تېرېدو سره به نوي او نوي خلک راشي، هغوی به تر موږ پوه او لا ډېر تحصیل کړي وي. هغوی به په یوه بله داسې نړۍ کې، چې زموږ نړۍ ته ورته نه وي، ژوند کوي. خو هغوی به هغه کار او هغې چارې ته دوام ورکوي چې موږ او تر موږ پخوا تېر شوي خلک یې یوه برخه وه. هغوی به د روسیې د امنیت د سمبالولو په خدمت کې وي. خدایه له هغوی سره مرسته وکړه !

زما تر گوښه کېدو لږ مخکې د ۱۹۹۱ ز کال په جولای میاشت کې په یوه مرکه کې خبریال له ما وپوښتل: ځار گر په زړښت کې څه شی یادوي؟

ما په نیمه ټوکیزه توگه هغه ته په ځواب کې وویل: «دا به نږدې راتلونکی په ډاگه کړي.» زما دا خبرې د معجزې په شان وې او هغه راتلونکی چې موږ یې په اړه خبرې کولې، ډېر ژر راورسید. هغه زما اوسنی حال شو.

ketabton.com - The Digital Library

د ځارګر لپاره ښه حافظه په کار ده. د تقاعد شوي ځارګر لپاره داسې یو مهارت په کار دی، چې ځینې مسایل له یاده وباسي او هېر یې کړي. پټه خوله باید کېني، بلکې ټول هغه څه هېر کړي چې په یو ډول د ډولونو ژوندیو خلکو ته ضرر رسوي او یا هم د مړو خلکو په یاد باندې سیوري اچوي. ماضي تل له موږ سره ده. د پېښنو په اړه بې احتیاطه خبره، چې سړي ته داسې برېښي چې په تاریخ پورې اړه لري، نابېره د خلکو په برخلیک کې لاسوهنه کوي. دا له هغو قاعدو څخه یوه قاعده ده چې ما قلم ته د لاس کولو او د څه کښلو پر مهال د هغې له مخې عمل کړی دی.

# کراچۍ

موږ زموږ د سفارت په ډېره زړه ودانۍ کې ژوند کاوه. کوټه ډېره کوچنۍ وه، لنده وه، غولي ته یې تل اوبه راپورته کېدې، خو موږ په دې اند وو چې تر دې نور ښه ژوند نشته.

کار زما لپاره ډېر په زړه پورې وبرېښېد. زه د سفیر د مرستندوی او ژباړونکي په توګه وګومارل شوم. په هغه وخت کې سفیر یوان فادییویچ شپیدکه وو، چې اوس په هغې نړۍ کې دی. هغه زه په ډېره ښه توګه ومنلم. ډېر څه یې رازده کړل او په نااشنا وضعه کې یې ښه مرسته راسره وکړه.

## د خاطرو له کتابچې نه:

ketabton.com - The Digital Library

په باراني، واورينه او هغه هوا کې، چې ډېر سوړ شمال لګېږي، زه تل زما ختيځ په خوب وينم، هغه ځای چې ما د ژوند ډېره لويه برخه پکې تېره کړې ده.

کراچۍ او راولپینډۍ، پېښور او لاهور، ډیلی، تهران، رشت، اينزيلي، اصفهان، کابل، هرات ټول په خوب کې داسې سره ګډ شي چې يو عجيب او غريب ښار ترې جوړ شي.

زه په دغه ښار کې ژوند کوم، په اردو او پارسي خبرې کوم او حيرانېږم، چې ما تر اوسه لا دغه ژبې نه دي هېرې کړې [...]

زه اسيايي هوا تنفس کوم، په خوب کې دغه هوا کوم بوی نه لري، خو زه په دې پوهېږم چې هغه تېزه او خوشبويه ده، ان په ډېره ګرمۍ کې هم دغه هوا ښه تنفس کېږي. اسيا زرغونه خوښۍ ښښونکي او بړوس غرونه لري، چې لوړې څوکې يې نيغې د اسمان په لور پورته شوې دي. اسيا د عربو سمندرګي پر غاړه ډېره پاکه شګه او سوربخونې دښتې لري، په خپلو کوڅو او بازارونو کې د خلکو لويې ګڼې ګونې لري. اسيا مستوونکې، بې هوښه کونکې ګرمي او ښکلی ژوند ښښونکی سوړوالی لري. دا اسيا ده، چې زما په وينو کې څرخي. زه له خپل برخليکه هيله کوم چې دغه اسيا ماته تل د ژوند تر پايه په خوب کې راشي...

* * *

ketabton.com - The Digital Library

د سفیر د مرستندوی او ژباړن څوکۍ ماته ستونزمنه او په زړه پورې وبرېښېده. هغې ماته دا امکان راکاوه، چې د پاکستان له ډېرو لویو اشخاصو، بهرنیو سفیرانو او لویو سوداګروسره وپېژنم. د دیپلوماتیکو خبرو اترو هنر زده کړم. په ۱۹۵۹ ز کال کې زه د اتشه په توګه وګومارل شوم. په دغه مناسبت مې د پاکستان په یوه ډېر ښه ګنډونکي حمید باندې یوه درېشي هم وګنډله او ځان مې د یوه دیپلومات په توګه احساس کړ.

په ۱۹۶۰ ز کال کې م. س. کاپیڅه په پاکستان کې د شوروي اتحاد د سفیر په توګه وګومارل شو. نوموړي بې پایه فضیلت، پراخه سینه، لوی زړه او بې اصوله لیدونه درلودل. [...] ژباړن د سفیر لپاره په دې خاطر اړین وو چې د خبرو اترو، لیدنو کتنو یادښت وکړي، سپارښتنې سرته ورسوي، د هېواد بېلابېلو سیمو ته ولاړ شي چې د سیمو د وګړیو د ژبې له زده کړې پرته ستونزمنه ده چې سفر وشي. [...]

د ۱۹۶۱ ز کال په جنوري میاشت کې د پاکستان د کانو او صنایعو ځوان وزیر زوالفقار علي بوټو سفیر کاپیڅه ته له مېرمنې سره بلنه ورکړه چې په لړکانه کې د بوټو د کورنۍ ملک او جایداد ته ورشي. سفیر او د هغه مېرمن لیدییا یلینچینا تر ښاره پورې په ریل ګاډي کې روان شول. له کراچۍ نه یو «دوج» له موټروان او ژباړن سره ورولېږل شول. ژباړن یې پخپله زه وم. [...]

د سفیر لپاره یو مالوماتي تفریحي پروګرام جوړ شوی وو. دغه سفر د وزیر له خوا یوازې د دې لپاره نه وو پلان شوی، چې له سفیر سره د سیاست په اړه وغږېږي. زوالفقار علي بوټو د خپل ځان د نامتووالي اوپرګنیز ملاتړ په

ketabton.com - The Digital Library

ارزښت ډېر ښه پوهېده او خبر وو. وزیر او سفیر دواړو د سند بېلابېلو اطرافي سیمو ته تګ کاوه، خلکو ته یې ویناوې کولې، له عادي خلکو سره یې په لاس سترې مه شي کولې، د خلکو ګیلو او شکایتونو ته یې غوږ نیوه او ډالۍ یې ورکولې. د لړکانه په میټینګ کې وزیر او سفیر دواړو یو ځای ویناوې وکړې. وزیر اورېدونکو ته خپله وینا داسې پیلوي: «ګرانو وروڼو او خویندو». هغه ډېر ښه ویناوال دی. خلک ځان ته ورجلبوي او لېوالتیا ورسره پیدا کوي. له سلګونو اورېدونکو نه یو هم بې علاقې نه پاتې کېږي. وزیر د څه شي په اړه خبرې کوي؟ په ټولیزه توګه «لوی» خلک عادي پاکستاني وګړي ته څه وایي؟ (د بوټو له خپلوانو نه یې یو کس د هغه وینا د شوروي مېلمنو لپاره ژباړي). ښکاره خبره ده چې وزیر د عدالت په اړه، په دې اړه چې هر انسان باید د لوی څښتن تعالی له لارښوونو سره سم کار او ژوند وکړي، خبرې کوي. وزیر وایي چې د فیلډمارشال ایوب خان حکومت د پلار په شان د هېواد د ټولو اتباعو غم خوري. [...]

وزیر په خپلو خبرو کې ډېر زړور او ان بې سنجشه وو. یوازې وروسته څرګنده شوه چې هغه د خپلو کړنو په اړه ایوب خان ته خبر ورکړی وو او د هغه له سپارښتنو سره یې برابر چلند کاوه. خو له دې سره سره د زوالفقار علي بوټو لپاره دغه اډانه (چوکاټ) هم تنګه وه. هغه لا په هماغه وخت کې خپل ځان د کانو او صنایعو وزیر نه احساساوه (د ۱۹۶۱ ز کال په جنوري کې نوموړی په همدغه څوکۍ ګومارل شوی وو.) نه یې ځان د باندینیو چارو وزیر لیده، چې وروسته یې پر همدغه څوکۍ دنده پیل کړه، بلکې ځان یې د پاکستان د حکومت او دولت مشر لیده.

ketabton.com - The Digital Library

په هغه وخت کې امریکا په خپلو پوځي او خوراکتوکو مرستو سره پاکستان په خپلو منګولو کې نیولی، په سینټو او سیاټو کې یې ښکېل کړی وو. دلته یې شوروي اتحاد ته په ښه شوې اډې جوړې کړې وې، د پاکستان بیوروکراسي او پوځي سیستم یې په پیسو رانیولی وو. د وزیر لپاره سپین سترګې، بې باوره، خپل مطلبه او مغروره امریکا د اندېښنې وړ وه. د خبرو اترو لړۍ چې به څومره لرې ولاړه، وروسته یا وړاندې به دې ته راستنېده چې پاکستان باید د امریکا له متحدو ایالتونو سره په اړیکو کې هغه دروند پېټی له اوږو وغوځوري، چې دغه هېواد خپک کوي، درغلي نه، بلکې اصلي خپلواکي لاس ته راوړي. څه موده مخکې د همدغه پاکستان په بډه بېره کې د امریکا لـه اډې نـامتو څارګره (جاسوسي) Y-2 ډوله الوتکه والوته، چې پیلوټ یې پاوورس وو. نوموړې الوتکه د شوروي اتحاد په هوا کې وویشتل شوه، چې نړیوالـه لانجه یې راوپارولـه. د هر پاکستاني هېوادپال په زړه یې اغېز وکړ. ښکاره خبره وه چې امریکایانو دا شونې نه ګڼله پاکستانیان په دې خبر کړي چې بډه بېره د کومو موخو لپاره کارول کېږي. د پاکستان پر ډېرو لوړو څوکیو امریکایي څارګران (ایجنټان) ناست دي. د متحده ایالاتو له خوا پیسې ورکول کېږي. د ایوب خان هر ګام او د حکومت ټولې کړنې څاري. وزیر په ټینګار او ډاډ سره ویل چې سیاټو او سینټو د پاکستان امنیت نه سمبالوي او له هند سره د دوستانه اړیکو په ښه کولو کې خنډونه رامنځته کوي. هغه ویل چې «یوازې شوروي اتحاد کولی شي له پاکستان سره د نوي کلونیالیزم د لارو په غوڅولو کې مرسته وکړي.»

ketabton.com - The Digital Library

خو لړکانه ته زموږ له سفره وروسته سفیر او وزیر په خپل منځ کې خبرې اترې دې ته ورسولې، چې د دوو هېوادو ترمنځ داسې هوکړه لیک لاسلیک شي، چې د هغه له مخې به شوروي اتحاد له پاکستان سره د تېلو او غاز په کشف کې مرسته کوي. وزیر زوالفقار علي بوټو هم خلکو د یوه خپلواک او زړور انسان په توګه وپېژاند. د امریکایانو په وړاندې له شوروي سفیر سره د هغه په ډاګه او پټې خبرې اترې بل څه ډول تشریح کېدای شي؟

* * *

لړکانه ته سفر زما د ماموریت یوه له ډېرو روښانو پېښو څخه وه. دغه سفر ماته دا شونتیا راکړه چې زه ماته نااشنا هېواد هغسې ووینم لکه څنګه چې هغه وو... [...]

زما دنده په عادي حالت سره روانه وه. ماته د پاکستان د کورني سیاست راوسپارل شول او زه په جوش او خروش سره په هغو بوخت وم. د اردو ژبې زده کړې ماته دا امکانات راکول، چې نه یوازې له رسمي کړۍ، بلکې د هېواد له عادي اوسېدونکیو سره هم ناسته ولاړه او راشه درشه ولرم. ما د کراچۍ له لویو جوماتونو څخه د یوه جومات له امام سره دوستي پیل کړه. زه به تل د هغه یو ښه مېلمه وم. د جومات په یوه ګوټ کې به له امام سره ناست وم، چای به مو څښنه او د ژوند په اړه به مو خبرې کولې. [...]

کله چې په کراچۍ کې زما د کار څلورم کال پیل شو، زه په مسکو پسې زښت ډېر خپه شوی وم.

ketabton.com - The Digital Library

د ۱۹۷۲ ز کال د سپټمبر په نیمایي کې په پاکستان کې زما موریت پای ته ورسېد. زما مېرمن او کوچنی زوی د ډېرې ګرمۍ له لامله د جون په میاشت کې مسکو ته ولاړل. لږه موده وروسته زه هم د کراچۍ، ډیلي، تاشکند له لیارې مسکو ته راستون شوم. [...]

## په برخلیک کې بدلون:

په کور کې کېدای شي سړی د هغو څلورو کالو د کار پایلنیوی وکړي چې له هېواده مې بهر تېر کړي ول. تر ټولو مهم څه شی وو؟

ښکاره خبره ده تر هر څه لومړی زما لپاره زما زوی وو، چې په کراچۍ کې زېږېدلی وو.

د څلورو کالو په بهیر کې زه له سلاکاره د سفارت تر درېیم سکرتره پورې لوړ شوم. زما له راتګه مخکې د دویم سکرتر په توګه زما د ګومارنې د هویت پاڼه سفیر د باندینیو چارو وزارت ته ولېږله. په ۲۷ کاله عمر کې دا لږ نه وو.

[...] په راتلونکي لنډ وخت کې ما د شوروي اتحاد د باندینیو چارو د وزارت د جنوب ختیځې اسیا په څانګه کې کار پیل کړ. د دویم سکرتر لپاره خالي ځای نه وو، ځکه خو زه دې ته اړ وتم چې د درېیم سکرتر په توګه پاتې شم. [...]

څه موده وروسته له یوه سړي سره مخامخ شوم، چې ماته یې د کې. جي. بي د کارکوونکي کارت راوښود، په ډېر ادب سره یې له ما له لومړني ماموریت نه

ketabton.com - The Digital Library

مخکې یانې ما نه غوښتنه وکړه چې په ټاکلې ورځ د دزیرژینسکي په ډگر کې د کې. جي. بي ودانۍ ته ورشم.

ما له لومړني ماموریت نه مخکې یانې پاکستان ته تر تگ مخکې د کې. جي. بي له هېڅ یوه کارکوونکي سره پېژندگلوي نه درلوده. ما ته کې. جي. بي د یوه خترناک، هر څه لیدونکي، په هر ځای کې موجود بې جسمه ځواک په شان برېښېده. په ۱۹۵۸ ز کال کې چې کله د مسکو د نړیوالو اړیکو د دولتي انستیتوت فارغان وېشل کېدل او پر دندو گومارل کېدل، زه خبر شوم چې زما ځینو انډیوالانو ته داسې وړاندیز شوی وو چې د کې. جي. بي د بهرنۍ څارگرۍ په څانگه کې کار وکړي. هغه چا چې وړاندیز ومانه چوپ وو او د خپل کار په اړه یې له نږدې ملگریو سره هم څه نه ویل، هغوی ته یې په درناوی او لږ څه له شک سره کتل.

ما د بهرنۍ څارگرۍ لومړني کارکوونکي په پاکستان کې ولیدل، له هغه وروسته مې له نږدې ورسره وپېژندل. د هغوی له ډلې یو هم م. ن. و. هغه نه یوازې ما ته جذاب، بلکې له ډېر څه نه خبر او پوه سړی هم ښکاره شو. [...] ن. م. ما ته داسې کیسه وکړه چې د هغه د مېرمنې پلار د شلمې پېړۍ د دېرشمو کلونو په پای کې د وخت د حکومت له خوا ونیول شو او چندماري شو. زه ډېر حیران شوم، ځکه چې زه په دې ډاډمن وم چې د چا خپلوان چې بندیان شوي او یا وژل شوي وي، هغوی په کې. جي. بي کې د کار کولو لپاره نه نیول کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

خو دا هغه وخت وو چې د ستالين د ظلمونو افشا کول پکې پيل شوي وو او خلکو ته يې دا امکان ورکاوه چې څه ناڅه ازاد فکر وکړي او خپل ليد (نظر) څرگند کړي. [...]

هغه وو چې ما ته هم وړانديز وشو چې په کې. جي. بي کې کار پيل کړم. ما له ی. ف. شپېدکه سره، چې په هغه وخت کې د «او. يو. ا» د رئيس مرستيال وو، سلا مشوره وکړه. هغه را ته وويل «دا لوی ويار دی. موافق شئ!»

ما هم په کې. جي. بي کې د کار کولو وړانديز ته مثبت ځواب ورکړ او د ځارگرۍ په هغه ښوونځي کې شامل شوم چې په همدغه څانگه کې يې افسران روزل. [...] د ۱۹۲۴ ز کال په ډيسمبر مياشت کې زه له خپلې کورنۍ سره يو ځای له هېواده بهر د دويم ماموريت په سفر روان شوم. کوم لوري ته؟ کراچۍ ته!

# اشنا لمر

دا دی زه يو وار بيا په کراچۍ کې يم. ډېر پخواني اشنا خلک، زما لپاره د درناوي وړ سفير، هماغه لمر او هماغه ډبرينه ځمکه. ما د سفارت په سياسي ډله کې د و. ف. ستوکالين د سلاکار په توگه ټاکي. ويکتور فيودوروويچ [ستوکالين] د باندينيو چارو د وزارت په سيستم کې نوی سړی دی. هغه له گوندي اپارات څخه په ديپلوماتيکي کار کې ټاکل شوی دی. د لوړ ديپلوماتيکي ښوونځي تر پای ته رسولو وروسته پاکستان ته رالېږل شوی دی. [...]

ketabton.com - The Digital Library

سفیر د نوي سلاکار په وړاندې له مودب، خو له نورو سره له وچ چلنده کار اخلي. [...] زه د سفارت په داخلي سیاسي ډله کې په صادقانه توګه کار کوم، د لیدنو کتنو بهیر لیکم، په غونډو کې ګډون کوم، د سفارت لپاره ګټور تماسونه نیسم. [...]

زما نه په کور کې نه هم په سفارت کې طاقت کېږي. زه یو وار بیا د کراچۍ پر ښار ګرځم. بیا ماته په ډېرو ګرانو کتاب پلورځیو «ګرینیچ»، «پک امریکن»، «توماس انډ توماس» باندې ګرځم او د نویو کتابونو پرېمانۍ ته خوشالېږم، خو د خپلې مفلسۍ حالت مې خپه کوي. د سفارت د کتابتون لپاره کتابونه رانیسم. [...] داسې هم پېښېږي چې په ځایي کاپي ګانو او رستورانونو کې له نویو خلکو سره پېژند ګلوي کوم.

خبره داده چې له و. ف. ستوکالینه پرته زه یو بل مشر هم لرم، چې هغه زموږ د څارګرانو مشر دی او س.سیرګی ایوانوویچ نومېږي. د هغه دفتر د سفارت د زړې ودانۍ په لوړو پوړونو کې دی، چې یوه لرګینه شور کوونکې زینه ورختلې ده. [...] د سفارت عادي کارکوونکي د هغه دفتر ته یوازې په بلنه ورتلای شي، خو زه عادي دیپلومات نه یم، زه د بهرنۍ څارګرۍ افسر یم. [...]

* * *

یوه ورځ له سفیر او د څارګرو له مشر سره زموږ یوه لانجه رامنځته شوه. د سفارت ودانۍ ډېره زړه وه، له دېوالو نه به یې رنګ ټوټې ټوټې رالوېده. په دې وخت کې د هغې د رغاونې لپاره یوه یو نظر او بل بل نظر ورکاوه. په دغه موضوع کې څارګر او سیاسي استازیتوب داخلېږي او وایي چې د سفارت

ketabton.com - The Digital Library

هېڅ یوه کوټه باید ترمیم نه شي. دغه لانجه د باندینیو چارو له وزارته د ټلګرام په رارسېدو سره پای ته رسېږي. نه پوهېږم چې په دغه لانجه کې څوک په حق وو، خو بې له شکه چې سیاسي او څارګر استازیتوب د مخالف نظر لپاره مهم دلیل درلود. موږ له دې خبر وو چې زموږ امریکایي همکارانو، چې له ځایي پاکستاني ځانګړیو ارګانونو سره یې په نږدې تماس کې کار کاوه، دا امکانات لټول چې په یو ډول د ډولونو سره وکولای شي د شوروي موسسو په ودانیو کې په پټه د غږ نیوي (ثبت) او غږلېږلو الې ځای پر ځای کړي. د شوروي سفارت په ودانۍ کې به د رغاونې هر ډول کار دا امکانات هغوی ته ورکړي وای. [...]

[...] په کراچۍ کې زموږ سیاسي څارګر استازیتوب ښه ډاډمن مالومات درلودل، چې ټول هغه ټیلیفونونه چې شوروي اتباع ترې کار اخلي، څلرویشت ساعته د پاکستانیانو او د سي. آی. اې له خوا څارل کېږي. په هغه وخت کې په بهر کې شوروي موسسو ته لا دموکراتیزه کونه او علنیت نه و رارسېدلی. د دوښمن په وړاندې بیدارۍ شتون درلود او دغې مسئلې ته په جدي ډول پاملرنه کېده. همدا راز ټولو شوروی اتباعو په احتیاط سره له ټیلیفونه کار اخیست. [...]

امریکایي څارګرۍ هڅې کولې چې زموږ په ساتنه کې درز راپیدا کړي. هغوی هغه مهال خپلې هلې ځلې لا کارنده کړې، کله چې په ۱۹۶۵ ز کال کې شوروي سفارت له کراچۍ د پاکستان لنډمهالې پلازمېنې راولپېنډۍ ته لېږدول کېده. ښه مې په یاد دي چې په راولپېنډۍ کې د انګلیسي ن.

ketabton.com - The Digital Library

بارینگټن (په راتلونکي وخت کې به زه له هغه سره په تهران کې هم مخامخ شم) له خوا د ځوانو ډیپلوماتانو لپاره یوه لیدنه کتنه جوړه شوه. په دغه لیدنه کتنه کې امریکایي او انګلیسي همکارانو په ډېرې بې ګناه څېرو سره زموږ د سفارت د ودانۍ په اړه پوښتنې کولې: د سفیر دفتر لوی دی که کوچنی، د هغه کړکۍ لمرین لوري ته وتلې دي که نه دي وتلې، د پېښور لاره ورته مزاحمت نه کوي، او داسې نورې پوښتنې. ما هم په همدومره بې ګناه او معصومې څېرې سره درواغ ورته ویل. [...]

د امریکا سفارت اسلام اباد ته ولېږدول شو، زموږ کار هلته هم دوام درلود.

* * *

په هغو کلونو کې موږ پاکستان څه ډول تصور کاوه او په اصل کې پاکستان څه ډول یو هېواد وو؟ دغه هېواد په دوو پوځي-سیاسي پکتونو سینټو او سیاټو پورې تړاو درلود، چې د امریکا د متحده ایالاتو تر ملاتړ لاندې په هغه وخت کې جوړ شوي ول، چې سړې جګړې ښه زور اخیستی وو. دا چې دغو پکتونو ته د شوروي اتحاد پرضد لوری ورکړ شوی وو، په دې کې هېڅ شک نه درلود. په پاکستان کې امریکایانو خپل ځانونه په بشپړه توګه د دغه هېواد خاوندان احساس کړل. هغوی پاکستانی پوځ په وسلو سمبالاوه، له هېواد سره یې اقتصادي مرستې کولې او د دغه هېواد ځانګړي خدمات یې تر څارنې لاندې وو.

د شوروي اتحاد له دوستو هېوادو افغانستان او هند سره د پاکستان دایمي مخالفت وضعه نوره هم ستونزمنوله. خو په همدغه پړاو کې د پاکستان

ketabton.com - The Digital Library

هېوادمشر ایوب خان، چې د زوالفقار علي بوټو له خوا ورته الهام ورکړ شوی وو، له شوروي اتحاد سره د نږدې کېدو په لور یو شمېر ګامونه واخیستل. په پاکستان کې د شوروي اتحاد د کارپوهانو له خوا د تېلو او غاز د پلټنې په اړه یو تړون لاسلیک شو. ایوب خان شوروي اتحاد ته سفر وکړ او د دواړو هېوادو ترمنځ د پلاویو تګ راتګ پیل شو.

د څارګرۍ د استازیتابه دنده دا وه چې په پاکستان کې د امریکایانو، انګرېزانو او د هغوی د متحدینو د کار او کارندتیا څارنه وکړي (دغه کار او کارندتیا په مدلله توګه د شوروي اتحاد پرضد او دوښمنانه ګڼل کېده) د سینټو او سیاټو په اړه مالومات لاس ته راوړي، له هند او افغانستان سره د پاکستان اړیکي تل تر لید لاندې ولري [...]

لکه څنګه چې لیدل کېږي دا دندې ډېرې مهمې او له مسؤلیته ډکې وې او د هغوی د سرته رسولو لپاره اړینو سرچینو ته اړتیا وه. د سرچینو لاس ته راوړل د هر اوپراتیفي کارکوونکي او په ټولیزه توګه د څارګر استازیتوب مهمه موخه وه.

* * *

زما نوی رئیس سیرګي یوانوویچ چې ما ورسره وپېژندل، د خدمت ځای ته له راتګه وروسته ماته د یوه غیر عادي انسان په توګه ښکاره شو. [...] د هغه تر مشرتابه لاندې ما ټوله هغه زده کړه په کار واچوله چې ما په ۱۰۱ کې لاس ته راوړې وه.

ketabton.com - The Digital Library

تر هر څه دمخه د بهرنيو او ځايي اتباعو په منځ کې پراخو او ټينګو تماسونو ته اړتيا ده. ښکاره خبره ده چې د مقابل لوري څارګرۍ پاملرنه همدې ته رااوړي، خو د انتخاب مسله ساده نه ده. يا به ته د ارتباطاتو له مخې کارنده کار کوې، ځان به په خطر کې اچوې، ځکه چې د ځايي واک او حکومت نارضايتي راپاروي، او يا به په دفتر کې کېنې او خپل ټول وخت به د دوستانو په منځ کې تېروې، چې په داسې حالت کې به د مرکز ټوله غوسه هم تاته متوجه وي. دويم ځېل (وريانټ) زما نه خوښېده. غوښتل مې چې کوم مهم کار سرته ورسوم، تر نورو کم نه شم او دلته خپل شتون زباد کړم. کله چې په کومه ورځ يا دوې ورځې پرله پسې بې پايلې تېرې شوې، نو زه به وجدان ته زښت ډېر شرمېنده وم.

د ټولو هلو ځلو او کوښښونو موخه م. د. «مهم دوښمن» وو، چې لسګونه کاله زموږ په ژبه کې د امريکا د متحده ايالاتو په نامه يادېده. د (م. د ) د کليمې منځپانګه (محتوا ) کله کله پراخېده، خو د هغې هسته تل د امريکا متحده ايالات وو. د پاکستان په خاوره کې م. د (مهم دوښمن) د امريکا د متحده ايالاتو سفارت او د سي. آی. اې استازيتوب او امريکايي پوځي استازيتوب وو. د هغوی کارکوونکيو ته لار پيدا کول ستونزمن کار نه وو. امريکايي څارګرو په خپله هڅه کوله چې د شوروي اتحاد له اتباعو سره تماس ټينګ کړي او تل داسې حالت رامنځته کېده، چې دوه همکاران يو له کې. جي. بي او بل له سي. آی. اې نه له يو بل سره مخامخ کېدل او يو د بل کمزوري ځايونه به يې لټول. دغه کار تل د خدماتو د ګټو له خوا نه ديکته کېده، بلکې معکوس وو. زموږ څارګر به د امريکايي څارګر په اړه زموږ د څارګرۍ

ketabton.com - The Digital Library

استازيتابه ته رپوټ ورکاوه، او امريکايي څارگر به زموږ د څارگر په اړه د خپلې څارگرۍ استازيتابه ته رپوټ ورکاوه. دا د هغوي د دواړو څارگريو د استازوليو کارنده کار گڼل کېده. نن ورځ دغه لوبه نامتووالی نه لري [...]

په عادلانه ډول بايد وويل شي چې امريکايي څارگرانو په څرگنده او لکه څنگه چې موږ ته برېښېده، په سپين سترگۍ سره مخته تگ کاوه. زموږ له لوري د اجيرانو د راجذبولو او هغوی ته د وړانديز کولو کار د قاعدې له مخې په ډېر احتياط او ځنډ سره چمتو کېده. د ټولو کوچنيو مسايلو په اړه مالومات راټولېدل، د ټاکلي وگړي په اړه هم بشپړ مالومات ترلاسه کېدل. تر هغه وروسته داسې يو حالت جوړېده چې زموږ څارگر ورسره مخامخ شي. په اصل کې امريکايي ميتود هم همدا ډول وو، خو د سي. آی. اې ډېرو څارگرو هغه ډېر ساده او اسانه کاوه. هغوی داسې گڼله چې د شوروي هر ديپلومات او يا هر څارگر چې وي ودې موندل شي او له هغه سره دې مخامخ شي. هغه ته دې د هغه په هېواد کې د خرابې سياسي اقتصادي وضعې او د هغې د نه ليدونکي ليرليد په اړه بيان وکړي. بيا دې د همکارۍ په خاطر پيسې ورته وړانديز شي. زما له خوا په دغه بيان شوي وخت کې امريکايي ته هم همدا ډول وړانديز کېده او ان په مخ يې څپېړه هم خوړه. يو وخت داسې يوه پېښه وشوه چې په يوه «بار» د بير څښلو ځای کې امريکايي څارگر زموږ څارگر ته د همکارۍ وړانديز وکړ. زموږ څارگر له بيرو ډک لوی گيلاس د امريکايي څارگر پر مخ وويشت. دغسې پېښو د دواړو لوريو خدماتوکې لوی غبرگون راپاراوه او داسې سپارښتنې کېدې، چې په دومره سختو حالاتو کې هم بايد له ادبه کار واخيستل شي. [...]

ketabton.com - The Digital Library

اوس به د پاکستان د څارګرۍ ضد (ضبط احوالات) خدماتو په اړه یو څو خبرې وکړو. موږ د هغوی د امکاناتو یو څه تصور کولای شوای. د پاکستان لوی دوښمن هند و او په خواشینۍ سره چې اوس هم هماغه هند د پاکستان د مهم دوښمن په توګه پاتې شوی دی. د پاکستان د ځانګړیو خدمتونو لوی ځواکونه تل د هندوانو په باره کې کار ته وقف کېدل. موږ یې هم له لیده نه لرې کولو. موږ په دې ډېر ښه پوهېدلو. [...]

د څارګرۍ ضد خدمتونو یوازې په خوځنده کار بسنه نه کوله. هغوی تیلیفوني خبرې هم په پټه اورېدې، غږ نیوي او لېږدوونکی تخنیک یې هم کاراوه. د پاکستاني څارګرۍ ضد خدمتونو د څارګرۍ (ایجنتورۍ) مهمه وسیله خدمتګاران او خدمتګارې دي (د دغه هېواد په هر کور کې هرو مرو خدمې شته) هغوی د شوروي مؤسسو د پرسونل خدمتګاري هم کوله. خبریالان هم ډېر ګټور دي، ځکه چې هغوی د مالوماتو ژوندۍ سرچینې دي او خلک ډېره پاملرنه ورته کوي. [...] په دغه هېواد کې خوځنده څارګره وسیله (دا ډېره د لوړې بیې وسیله ده) کمزورې ده، چې د ځای پر ځای شویو پوستو په سیستم سره یې دغه کمزورتیا جبران کړې ده. دغه پوستې د دود له مخې (معمولا) د تمباکو، سګرېټو د غرفو د ترکارۍ، بادامو او نورو کوچنیو پلورنځیو تر نامه لاندې کار کوي. همدا راز شپېني پیره لرونکیو او ساتونکیو د پټو مالوماتو او داخلي څارګرۍ لویه شبکه جوړه کړې ده. په دغه هېواد کې ټول هغه کورونه، چې څه ناڅه شتمن دی، شپېني ساتونکي لري.

ketabton.com - The Digital Library

* * *

د ۱۹۶۵ ز کال په پای کې شوروي سفارت د پاکستان شمال ته د دغه هېواد لنډمهالې پلازمېنې راولپینډۍ ته په لېږد پیل وکړ. راولپینډۍ ته نږدې د اسلام اباد ښار نوی جوړېده. [...]

تر هغه وخته پورې چې موږ راولپینډۍ ته راتلو، د پاکستان او هند ترمنځ جګړه پای ته ورسېده. د ۱۹۶۶ ز کال په جنوري کې په تاشکند کې د شوروي اتحاد د لومړي وزیر ا. ن. کاسیګین په منځګړیتوب سره د پاکستان د هېوادمشر ایوب خان او د هند د لومړي وزیر ل. ب. شاستري ترمنځ خبرې اترې پیل شوې...

کله چې زه په رخصتۍ کې مسکو ته ولاړم، نو خبر شوم چې د کې. جي. بي لومړۍ لویې ادارې او د بهرنۍ څارګرۍ ریاست د کنفرانس په چمتو کولو او د هغه په پرمخ بیولو کې کارنده برخه اخیستې وه. په تېره بیا په ډیلي کې د کې. جي. بي د بهرنۍ څارګرۍ استازیتوب تر ټولو ښه برخه پکې اخیستې وه، خو هغه مالومات چې له کراچۍ راغلي ول، هغه ته هم مثبت ارزښت ورکړ شو. (هغه مهال د راولپینډۍ، کراچۍ او مسکو ترمنځ پټو اړیکو شتون نه درلود. له کراچۍ سره خبرې ټولې په ټیلیفون کې کېدې [...] ).

زه د کنفرانس له بهیره د ځايي او مسکو راډیو څخه خبر شوم. په تاشکند کې خبرې اترې په ډېرې ستونزې سره روانې وې، خو د خوښۍ ځای وو چې د ۱۹۶۶ ز کال د جنوري په لسمه د موافقت نامې په لاسلیک کولو سره پای ته ورسیدې [...]

ketabton.com - The Digital Library

* * *

تر دې وخته پورې زما کار هم زيات شو. ما ته اړينه وه چې خپل پټ کار لا پټ کړم او د دې لپاره اړينه وه چې ډېر پېژندګلوي ولرم. له ډېرو خلکو سره وپېژنم. د پاکستان څارګري ما بې پاملرنې نه پرېږدي. يانې دا چې لازمه ده د خپلو تماسونو يوه برخه هغوی ته وښيم او د سي. آی. اې (مرکزي څارګرې بيورو) پام د دويمې درجې تماسونو ته ورواړوم. د ځايي ځانګړيو خدماتو امکاناتو ته پام نه کول به سم کار نه وای. ښکاره خبره ده چې په څرګنده بهرنۍ کارندتيا کې ټاکلی ختر شتون لري، خو زما وريانتې څکه کېدای شوای اسان تشريح شي، چې په راولپېنډۍ کې ما شوروي سفارت يوازې تصور کاوه.

د بشپړې خپلواکۍ پړاو، چې ما پکې له مخابراتي شفرونو پرته له دې، چې زه په پرله پسې توګه مرکز ته رپوټونه ورکړم، بې د مرکز له نصيحتونو کار کاوه، شپږ مياشتې دوام وکړ. ما تر دې دمخه او يا هم وروسته په خپل ژوند کې بل هېڅ وخت له دومره لوی الهام سره کار نه وو کړی.

سفارت ورو ورو ډکېده، پټه شفري څانګه په سامان الاتو سمبال شوه، سفارت لومړی راولپېنډۍ او ورپسې اسلام اباد ته ولېږدول شو.

* * *

د ۱۹۷۲ ز کال په سر کې سېرګی يوانوويچ بدل شو. د هغه پر ځای د سويلي اسيا د څانګې پخوانی کارکوونکی ب. واسيلي راغی. له هغه سره زما

ketabton.com - The Digital Library

پېژندګلوي زه ډېر مايوسه او خواشيني کړم. نوموړی سره له دې چې يو مجرب کارکوونکی ګڼل کېده، کومه ګټه ترې لاس ته نه راتله.

[...] زموږ د څارګرۍ د استازيتابه نوي مشر واسيلي له الکولو سره زښته ډېره مينه درلوده. د ورځې او شپې په بهير کې په هره ګړۍ کې چې به يې زړه وو څښل به يې کول. ډېر زر نېشه کېده او چې کله به نېشه شو، نو بيا به يې هر ډول چټيات له خولې باد پېدل. د ټولو ميندې او خوېندې به يې ښکنځلې. زه په دې ډاډمن يم چې په ورستيو کلونو کې به يې يو کتاب هم نه وي لوستلی، او خدای پوهېږي چې کوم وخت به يې څه لوستلي هم وي؟ زه تر ډېره وخته په دې ډاډمن وم، چې تر لويې هېوادنۍ جګړې وروسته په کې. جي. بي او بيا په تېره بيا د هغې په بهرنۍ څارګرۍ کې دا ډول خلک نه ول، خو چې دی مې وليد نو زه پوه شوم چې زه په حق نه يم. [...]

کله چې په پاکستان کې زموږ د بهرنۍ څارګرۍ د استازيتوب مشر ب. واسيلي شو، نو استازيتوب د کار کولو هر ډول وړتيا له لاسه ورکړه. د استازيتابه کارکوونکيو له خپل تل نېشه يي مشره ډډه کوله، نه يې غوښتل چې ورسره مخامخ شي. پايله يې دا شوه چې د بهرنۍ څارګرۍ مشر استازی يوه ورځ په غونډه کې په داسې حال کې، چې ډېر نېشه وو له څوکۍ ولوېد. سفير م. و. ديګتيار، چې نور يې د هغه په وړاندې اوسېله ختمه شوې وه، مسکو ته ټيليفون وکړ او د هغه د الکولو د تل نېشې په اړه يې ټول رپوټ ورکړ. هغه وو چې ب. واسيلي مسکو ته وغوښتل شو، خو موږ ډېر حيران شو، ځکه چې هغه هلته د کې. جي. بی په اډانه کې خپل کار ته دوام ورکړ. [...]

ketabton.com - The Digital Library

* * *

د ۱۹۶۲ ز کال په پای کې داسې یوه پېښه وشوه چې د ژوند عادي بهیر ته یې بدلون ورکړ.

له ما سره د ځايي څارګرۍ ضد (ضبط احوالات) مسؤل چې اقبال نومېد، مخامخ شو او ماته یې داسې یو ثبوت څرګند کړ چې هغه زما له اصلي دندې خبر دی. ما سملاسي د هغه خبرې رد کړې. همدا راز دې ته چمتو کېدم، چې د هغه هغه وړاندیز ته کلک ځواب ورکړم چې هغه ماته له هغوی سره د همکارۍ په خاطر کړی وو. خو زما له ډېرې حیرانتیا سره سره اقبال دا هڅه ونه کړه چې ما د دېوال په ګوټ کې رایسار کړي. هغه سملاسي اصلي موضوع ته راغی. هغه وویل چې پاکستاني ځانګړي خدمات په پاکستان کې له امریکايي استازیو زما په اصلي دنده خبر شوي دي. د امریکایانو کار او کارندتیا او د هېواد په کورنیو چارو کې د هغوی لاسوهنې دولت اندېښمن کړی وو. اقبال ته دا دنده ورکړ شوې ده، چې زما له لیارې په دې ځان پوه کړي چې شوروي څارګري دې ته چمتو ده چې له پاکساني ځانګړیو خدماتو سره پټ تماس ولري، د دې لپاره چې په خپل منځ کې د امریکایانو په اړه د مالوماتو تبادله وکړي.

موړ ټول عادي کارکوونکي احتمالي لمسون ته چمتو وو. د هر بهرني تبعه هر ناڅاپي خوځون په داسې بې اختیاره توګه درک کېده. دا ډول اتوماتیک غبرګون په واقعیت سره په ډېرو پېښنو کې د جدي ناوړه لانجو خبرداری ورکاوه. [...] زه د بهرنۍ څارګرۍ یو عادي کارکوونکي وم، ځکه خو مې یو

ketabton.com - The Digital Library

وار بیا پر دې ټینګار وکړ چې زه له کې. جي. بي سره کوم تړاو نه لرم، خو دا مې هم ورته وویل چې زه په سفارت کې یو سړی پېژنم او ښایي چې د اقبال وړاندیز د هغه خوښ شي. موږ له اقبال سره ژمنه وکړه چې څو ورځې وروسته به په ټاکلې ځای کې سره وګورو. تر دې وروسته موږ سره بېل شو.

تر دې وخته پورې له مسکو سره شفري اړیکه فعاله شوې وه او  ما زموږ د لیدنې کتنې په اړه پوره مالومات مرکز ته ورکړ.

[...] مرکز ته هم لکه زما په شان د اقبال وړاندیز په زړه پورې وبرېښېد ، خو دې ډار چې په دام کې بند نه شو د دې مزاحمت کاوه، چې زړور او پرېکنده مخته تګ وکړو. ماته یې پرته له نورو خبرو دا اجازه راکړه چې له [اقبال] سره لیدنو کتنو ته دوام ورکړم. هممهال یې ماته داسې سپارښتنه  وکړه چې اوپراتیفي کار او کارندتیا بنده کړم او په بیدارۍ سره د خپل ځان شاوخوا وضعې څارنه وکړم. [...]

ما له اقبال سره څو واره لیدنې کتنې وکړې. موږ د دوه اړخیزې پوهېدنې لپاره بنسټ احساس کړ، خو زموږ ګډو چارو نور مخته تګ ونه کړ. هغه وویل چې زموږ لیدنې کتنې نورې شونې نه دي، لاملونه یې هم څرګند نه کړل.

د پاکستان د هغه مهال د مشرتابه یوې برخې د امریکا د متحده ایالاتو لورې ته کږون درلود، خو ایوب خان د یوه خپلواک سیاست د پر مخ بیولو لارې لټولې او دا چې هغه داسې ګڼله، چې امریکایان د هغه د مخالفینو او دوښمنانو ملاتړ کوي، د دې لپاره هغه دلیل درلود. په دغه وضعه کې به له

ketabton.com - The Digital Library

پاکستان سره د شوروي اتحاد پټه مرسته ګټوره وای. ما ته مالومه نه ده چې کومو لاملونو له اقبال سره زما د اړیکو د راتلونکې ودې مزاحمت وکړ؟

* * *

ما خپلې رسمي بوختیا ته دوام ورکاوه، د سفیر سپارښتنې مې سرته رسولې، د بېلابېلو چارو د سرته رسولو په خاطر ځایي موسسو ته تلم او کتابپلورځیو ته تلم [...] خو زما اصلي کار بند شو. زه دغه نامالوم حالت ډېر ځورولم او دې ته چمتو وم چې یا خو مرکز او یا خو به پاکستانی حکومت له دغه هېواده زما د لېږلو غوښتنه وکړي.

وخت تېرېده، خو هېڅ داسې دې ته ورته څه نه پېښېدل، خو ورو ورو څو میاشتې وروسته زما کار بیا پیل شو.

## د یادښتونو له کتابچې نه:

زه د ۱۹۷۸ ز کال د جون په میاشت کې له اسلام اباده ولاړم، خو لس کاله وروسته زه یو وار بیا اسلام اباد ته ولاړم.

د ۱۹۷۸ ز کال د مارچ میاشتې پر دویمه ما له اسلام اباده په الوتکه کې کراچۍ ته الوتنه وکړه. د DC-10 ډوله لویه الوتکه له مساپرو ډکه وه، د الوتکې خدمتګارو مساپرو ته د چای په وېشلو پیل وکړ. له کړکۍ نه د باندې سپینې وریځې ښکارېدې. داسې برېښېده چې الوتکه لاهور ته نږدې کېږي، چې په دې وخت کې ناڅاپه په الوتکه کې یوه لویه چیغه وشوه. ګورو چې یو ځوان سړی، چې سپین پنجابی کمیس یې اغوستی، په هماغه کتار

ketabton.com - The Digital Library

کې چې زه هم پکې ناست یم، په خپل ځای کې ولاړ دی. د الوتکې په غورهار کې د هغه خبرې اورم. دغه ځوان سړی غواړي چې پیلوټ باید الوتکه د هند په لور راوګرځوي، «کنه نو هېڅوک به هم ژوندی پاتې نه شي.» د هغه په لاس کې لاسي بم دی او د بل لاس ګوته یې د هغه په کړۍ کې ننه ایستې ده. الوتکه تښتوونکی په لوړ غږ سره څه وایي او ورو ورو د پیلوټ د کابین په لوري روان دی. په دغه وخت کې د شا له خوا یو څوک پر هغه برید کوي. دواړه د څوکیو منځ تشه کې لوېږي او یوه کوچنۍ چاودنه کېږي. د الوتکې سالون له لوګي ډکېږي، سورلي لوی شورماشور جوړوي، کوم شی له وینو ډک وړي، خو الوتکه د اسلام اباد په لور راګرځوي. هغه زړور سړي چې پر الوتکه تښتوونکي یې برید کړی وو (لاسي بم په لاس جوړ شوی وو او طاقت یې کم وو) پر دې بله ورځ له ولسمشر نه انعام تر لاسه کړ.

بل وار ما هغه مهال وکولی شول چې د اسلام اباد زرغونې غونډۍ ووینم، چې د ۱۹۸۹ ز کال په جنوري کې د افغان اپوزیسیون له لیډرانو سره د خبرو اترو په خاطر له یو. م. ورونځوف سره په پلاوي کې یو ځای شامل وم. [...]

ماته پاکستان ګران دی، زه کولی شم له ارام وجدان سره ووایم چې هېڅوخت مې داسې څه سرته نه دي رسولي، چې دغه هېواد ته ضرر ورسوي. زموږ د دواړو هېوادو ترمنځ د اړیکو په ښه کولو کې زما د هلوځلو ونډه هم شتون لري.

ketabton.com - The Digital Library

# «مېرمن ګاندي باید له لمنې راونیول شي...»

د ۱۹۷۱ ز کال پسرلی دی. همدا اوس په هند کې ټولټاکنې پای ته ورسېدې. په دغو ټاکنو کې د هند ملي کانګرس ګوند، چې مشره یې یندرا ګاندی ده، برجسته بری تر لاسه کړ.

د شوروي-هند اړیکي عادي دي. هغه ډار چې څو کاله مخکې په دې اړه رامنځته شوی وو، چې د هند سیاسي کرښه به د امریکا د متحده ایالاتو په ګټه بدلون ومومي، رښتیاینه ونه مونده. یندرا ګاندي په کلکه سره زموږ له هېواد سره د هر اړخیزو اړیکو په وده او لا ټینګولو ټینګار کوي.

په دغه وخت کې د هند او پاکستان ترمنځ مخالفت زور اخلي. ختیځ پاکستان اغتشاش کوي. له لویدیځ پاکستانه د هغه د بېلېدو او د یوه خپلواک دولت د جوړېدو غورځنګ پیاوړی کېږي. دا یو تاریخي حتمیت دی. نه شو کېدای چې دوه «وزرونه» تر ډېره وخته یوځای پاتې شي. د هند خاوره په یونیم زر کیلومتره واټن سره بېله شوې. همدا راز یې په ژبه، کلتور، اقتصاد او سیاسي دود کې هم توپیر درلود، خو تاریخي حتمیت په خپله نه پلی کېږي، بلکې د سیاسي مشرانو او د هغوی د خلکو د پرګنو له لیارې پلی کېدای شي. پاکستانی حکومت په ختیځ پاکستان کې پوځ پیاوړی کوي او سیاسي مانورونه سرته رسوي. د ټینګار (مقاومت) لمبه لویېږي. دغه اور ته هند لمن وهي. د ختیځ بنګال بېلتون غوښتونکي د هغه له مادي او مورالي مرستې کار اخلي. د هند ورځپاڼې او رسنۍ ډېرې سختې پاکستاني ضد

ketabton.com - The Digital Library

منډې تړړې (کمپاين) جوړوي. هره ورځ په ورځپاڼو کې د بنګال د سوله ييزو وګړيو پرضد د پاکستان د پوځ د ځناورو کړنو په اړه ليکنې چاپيږي.

پاکستانی مشرتوب په بشري ضد لويو جنايتونو تورنيږي. هممهال داسې ډاډمنې اوازې خپريږي، چې پاکستان د دې لپاره چې د ختيځ بنګال له پيښو د هند پام واړوي، غواړي چې د هند پر لويديځه پوله کشمير او پنجاب باندې پوځی ګوزار وکړي.

هندوان جګړې ته چمتو کيږي. د هغوی لپاره د امريکا د متحدده ايالاتو او چين احتمالي دريځ د اندېښنې وړ دی. هغوی په بشپړه توګه په دې ډاډه نه دي چې د شوروي اتحاد له لوري به يې ملاتړ وشي. هندوان ټول شوروي استازي له سفير ن. م. پيګوف نه نيولې تر ګڼ شمېر نورو شوروي کارکوونکيو پورې تر ژورې کتنې لاندې لري. هغوی په خپلو پريکړو کلک ولاړ دي، زموږ له کمزوريو ځايونو په مهارت سره کار اخلي. کمزوري ځايونه يانې په دغه سيمه کې د امريکا د اغېز د پياوړتيا په وړاندې زموږ دوديز ډار او له چين سره د مخالفت وضعه ده. مکاره، چالاکه سياسي ديپلوماتيکي او پروپاګنډی لوبه روانه ده.

شوروي لوری سنجول شوی او کلک دريځ لري. په بنګال کې د خپلواکي بښونکي غورځنګ او د هند له سوله ييز ساست سره لېوالتيا نه پټوي. (هند کېدای شي چې د هر لوی احتمالي تېري قرباني شي). موږ په داسې حال کې،

ketabton.com - The Digital Library

چې پاکستان غندو، ژمنه ورکوو چې د لانجې د مخنیوي لپاره به ټول امکانات په کار واچوو.

خو همهال هندوان موږ ته پاملرنه کوي، له موږ دا هیله کوي چې له شوروي اتحاده ورته د وسلې ځینې ډولونه ورولېږو. زموږ دولتي مېخانیزم په بېړنیو پېښو کې کولای شوای چې په اغېزناکه توګه کار وکړي. د هند دغې غوښتنې ته په ډېر لنډ وخت کې مثبت ځواب ورکول کېږي او پلی کېږي. د ۱۹۷۱ ز کال د اګست په ۹ د هند د لوري په نوښت د شوروي او هند ترمنځ د دوستۍ او همکارۍ تړون لاسلیک کېږي.

خبرې اترې او سلا مشورې دوام لري، سولې ته رابلنه د ورور وژنې بندول (د ورور وژنې کلیمه هم د سیاستوالو او هم د خبریالانو خوښېده. ډېرې کمې داسې ویناوې کېدې چې دغه کلیمه به پکې نه کارول کېده.) زیاتېده. ډېرو خلکو ته داسې برېښېده، چې که لږ نور کوښښونه وشي نو لانجه خونړي پړاو ته نه رسېږي. خو زموږ چوپړ یانې څارګرۍ دا اومه خیالونه نه پالل، بې له کوم پروپاګنده څرګنده وه چې جګړه حتمي پیل کېږي.

زما دنده په دغه خطر ته نږدې فضا کې په هند کې پیل کېده. زه دلته په هند کې د بهرنۍ څارګرۍ د لوی استازي د مرستیال په توګه رالېږل شوی یم. د دې لپاره وخت کم وو چې له چارو سره ورو ورو پېژند ګلوي وکړم. پېښې ډېر ژر ژر رامنځته کېدې او مخته تګ یې کاوه. مرکز زموږ مالوماتو ته انتظار ایسته.

* * *

ketabton.com - The Digital Library

هندوان هماغسې سوله دوست او هماغسې جګړه مار خلک دي، لکه بل هر قوم، د زور او ظلم پر وړاندې د هغوی کرکه هسې مودب درواغ دي. په هند کې ژوند د هغه چا په وړاندې سخت او ظالم دی، څوک چې په نورو هېوادو کې هم ژوند نه نازوي، لکه غریبان، توکمیز قومي لړه کي، پردي او په ټولیزه توګه کمزوري خلک.

هندی سیاست په ټولو کچو کې له زور زیاتي او ظلمه بد نه وړي. د هند لپاره جګړه هماغسې د سیاست ادامه ده لکه د بل هر دولت لپاره. د هند د مشرتابه په سیاسي څرګندونو کې هېڅ وخت د اخلاقي آرونو (اصولو)، ټولیزو بشري ګټو، ارزښتونو، د عدالت او رحم د فلسفې، سوله غوښتونکیو ایډیو او نورو پراخو پروپاګندي کلیمو یادونه نه کېده. [...]

* * *

د ۱۹۷۱ ز کال د ډیسمبر په دویمه سفیر ن. م. پیګوف د شوروي اتحاد د باندینیو چارو د وزیر د لومړي مرستیال و. و. کوزنیڅوف په ویاړ د هرکلي مېلمستیا جوړه کړه. واسیلي واسیلیوویچ کوزنیڅوف د دې لپاره ډیلي ته راغلی وو چې له هندوانو سره یو ځای له پاکستان سره د رانژدې کېدونکې جګړې د مخنیوي شونتیاوې ولټوي او یا خو لکه شوروي دیپلوماتانو چې په بې ادبۍ سره ویل «مېرمن ګاندي له لمنې راونیسئ». و. و. کوزنیڅوف له یندراګاندي او د هغې له سلاکارانو سره اوږدې مودبانه خبرې اترې وکړې. د هغوی هغه اوږده، ګړبند تشریحات یې واورول، چې د هغوی له مخې سوله غوښتونکی هند د پاکستان له کړنو اندېښمن دی. د شوروي او هند ترمنځ د

ketabton.com - The Digital Library

دوستۍ او همکارۍ تړون له دې نه مخکې لاسلیک شوی وو او هند ته په پرله پسې توګه شوروي پوځي تخنیک راروان وو.

دغه لنډه کتنه په شوروي سفارت کې په یوه ډېره توده فضا کې روانه وه. مېلمنو مهربان کوربه ته ګولالۍ موسکاوې کولې، ښې د غوړه مالۍ خبرې یې کولې، د پاکستان له لوري یې د ګواښ یادونه کوله او د غمخورۍ څېرې یې جوړولې. کوربنو هم په خپلو مخونو موسکاوې راپارولې، کلک ډاډمنتوب یې څرګنداوه، چې سلیم عقل برۍ مومي او کولای شي چې له وینې تویولو ځانونه وژغوري. له دې سره یوځای هغوی په ګډه پاکستاني جنایتکاران او د هغوی امریکایي او چینایي ملاتړ کوونکي غندل.

هر څه سم وو، خو ناڅاپه په سالون کې برېښنا مړه شوه. برېښنا نه یوازې په سفارت کې، بلکې په ټول ښار کې مړه شوه. دې یوازې یوه مانا درلوده، هغه دا چې جګړه پیل شوه.

زه ژر له سالونه ووتم، په تپه تیاره کې مې تر موټره ځان ورساوه او له ښاره مې یوه اشنا مالومات لرونکي سړي ته ټیلیفون وکړ. (له سفارته هغه ته ټیلیفون کول منع وو. د هغه د کچې مامورینو دا حق نه درلود چې له بهرنیانو سره نارسمي تماسونه ولري.) مالومه شوه چې دوو نامالومو خو په اټکلي توګه پاکستانۍ الوتکو د هند د پوځي هوایي ځواکونو پر اډه ګوزار کړی دی او د دغې اډې د هوایي ډګر د الوتنې پټۍ یې زیانمنه کړې ده. هندي الوتکو سملاسي ځوابیه ګوزارونه ورکړي، ځمکنیو پوځي ځواکونو د

ketabton.com - The Digital Library

راجستان او سیالکوټ په سیمو کې یرغل پیل کړی او لوېدیځې پولې ته نږدې یې د ختیځ او ډاکې په لور وړاندې تګ پیل کړی دی.

په دغه پېښه کې پر اګره هم یرغل شوی وو، خو دا هغه څه وو چې په سپین سپېنسي باندې ګنډل شوي ول. کوم پوځي بولندوی (قوماندان) په داسې حال کې چې هېواد ته یې لوی ګواښ متوجه دی، دوې الوتکې د دې لپاره لېږي چې لویه پوځي هوایي اډه بمباري کړي؟ ولې الوتکې د ګهیځ په سپېدو کې راوانه لوتلې، لکه تل چې همداسې کېږي، او په تیاره کې راوالوتلې؟ ایا جګړه پیل کوونکی لوری غواړي چې ناڅاپي برلاسي یې په برخه شي؟ تر یرغل وروسته پاکستاني لوري ولې د نورو کړنو تدبیر ونه نیو؟

هېڅ داسې اسرار امېزه څه پېښ نه شول. هند جګړې ته چمتو شو، لوی پروپاګنډي چمتووالی یې ونیو. مخکې له مخکې یې سیاسي حالت په ژوره توګه وڅېړه او په مهمو لوریو کې یې ځواکونه ځای پر ځای کړل. پلمې ته اړتیا وه، خو ډار شوي او ځورول شوي دوښمن نه غوښتل چې دغه پلمه وښیي. د اګرې له پاسه هم په همدې ډول الوتکې راپیدا شوې. څو کاله وروسته زه د ۱۹۷۱ ز کال د جګړه یېزو سیاسي منډو ترړو له یوه پیل کوونکي پ. ن. سره مخامخ شوم. ما هغه ته وویل چې ټول عملیات د شترنج د لوبې په شان جوړ شوي ول. پ. ن. په خوشالۍ سره موسکی شو. په بشري تاریخ کې ډېرې لږې داسې پېښې رامنځته شوې، چې په هغو کې دومره لږ لګښت دومره لوېې پایلې ورکړې وي.

ketabton.com - The Digital Library

[...] په دغه جګړه کې زموږ دريځ څرګند وو. زموږ د ناپېيلو او رسمي خبرو شاته د هند کلک ملاتړ پټ وو.

زما له پېژنګلويانو يو کس يوه ورځ د هند له يوه لوی پوځي بولندوی سره زما ليدنه کتنه چمتو کوي. فکر نه کېږي چې دغه جنرال دې د خوشبينۍ په روحيه عيار وي. هغه کره پوهېږي چې جګړه به کله او څنګه پای ته ورسېږي. د ډيسمبر پر ۱۲ د ډاکې په تسليمولو او د پاکستاني پوځ په تسليمېدو سره جګړه پای ته رسېږي. د هغه دغه مخوينه کره محاسبه شوې ده. تر همدغې نېټې پورې پاکستانيان کولای شي چې د ختيځ پاکستان د پلازمېنې لور ته وخوځېږي. هغوی دا وس نه لري چې ټينګار وکړي او نه غواړي چې د ډاکې ساتنه وکړي، ځکه چې هغوی له هېچا د مرستې انتظار نه لري.

* * *

[...] زه ډېر کلونه هندي چارو او د هغوی مرکز ته ځير وم. کله چې ما په پاکستان کې دنده درلوده هغه وخت مې هم له هندي چارو سره لېوالتيا درلوده، دغه هېواد مو په انستيتوت کې هم زده کاوه، د سفر په بهير کې څو واره په ډيلي کې تم شوی وم، خو له دې سره سره اوس په هند کې ډېر مسايل زما لپاره ناڅاپي ول.

تر ارام اسلام اباده وروسته د ډيلي د ژوند هيجاني ګړنديتوب ډېر حيران کړم. هغه ډله خلک چې ما پکې ژوند او کار کاوه، په سياست په تېره بيا په کورني سياست ژوندي ول. [...] په لسګونو لويو ګوندونو او سازمانونو، چې په لسګونو ډلو وېشل شوي ول، شتون درلود. هغوی ټول له يو بل سره

ketabton.com - The Digital Library

ګډ کار او کارندتیا کوي، له یو بله ځانونه ساتي او له یو بل سره سیالي کوي. هر یو ګوند او ډله د نړیوال سیاست، د شوروي اتحاد په اړه، د امریکا متحدو ایالتونو او چین په اړه خپل لید لري. د هغوی دغه بېلابېل لیدونه په یوه مسئاله کې سره یو کېږي، چې هغه د پاکستان پر وړاندې له کرکې ډک چلند دی. [...]

هند ډېرې لویې بهرنۍ سیاسي ګټې او نړیواله اتوریته لري. له چین سره یې ستونزې نه دي هوارې شوې. له پاکستان سره یې د لانجې پر سر د امریکا له متحدو ایالاتو سره اړیکي خړ پړ شوي، چې اوس په ډېرې اسانۍ سره نه ښه کېږي. هند خپل ځان د یوه ستر هېواد په توګه احساسوي. هغه هڅه کوي چې په سیمه کې لوړ او غالب رول ولوبوي او په نړیوالو چارو کې اړین ځای غواړي. په ختیځ بنګال کې بریالۍ منډې ترړې د بنګله دېش جوړېدو او د تاریخي دوښمن پاکستان سپکتوب د هېواد بهرنۍ سیاسي ستونزې لا ستونزمنوي. د هند د ډېرو ښو دیپلوماتانو په وړاندې ستونزمنې دندې پرتې دي.

په ۱۹۷۲ ز کال کې د امریکا او چین ترمنځ د اړیکو ښه کېدو موږ او هندوان اندېښمنول. موږ دې ته ځیر پام لرو او څارنه یې کوو، چې هند خپلې ستونزې له چین سره څه ډول هواروي. هندوان د شوروي اتحاد د همدغسې هڅو له هر خبر نه ټکان خوري. [...]

[...] د کورني سیاست په برخه کې د واکمن ملي کانګرس ګوند او یندراګاندي دریځ کلک ښکاري. دا زموږ د اطلاعاتي لومړی او تر ټولو مهم

ketabton.com - The Digital Library

لوري دی. ښکاره خبره ده چې بنسټيزه ستونزه امريکايان دي. موږ د امريکايانو په برخه کې په سرگرمۍ سره پر کار بوخت يو او د همدغې سرگرمۍ له برکته زموږ خدماتو کولای شوای، چې مثبتې پايلې لاس ته راوړي.

* * *

زما يانې د څارگرۍ د استازيتابه د نوي مرستيال په مخ کې تر ټولو ډېرې مهمې دندې پرتې وې، لکه د مادونانو او مشر ترمنځ د اړيکو ښه کول، د سياسي او اوپراتيفي مسايلو په پام کې نيول، زده کول، څېړل، شخصي اوپراتيفي کار پر مخ بيول، موږ ته له مالومو کسانو سره د تماس ادامه، د شخصي گټورو تماسونو رامنځته کول او د څارگرۍ د استازيتابه د سرچينو د شمېر زياتول. اړينه ده چې دا ټول هممهال سرته ورسېږي. [...]

زما د کار ورځ ډېره اوږدېده، د دود له مخې (معمولا ) د گهيځ په ۷ بجو پيل او د شپې ناوخته پای ته رسېده.

ما ډېر ښه پېژندگلويان وموندل. د هغوی له شمېره داسې خلک هم ول چې ما ورسره ډېره ليدنه کتنه کوله، چې هغه هم د قاعدې له مخې د شپې له خوا او يا هم له ښاره د باندې. زما ډېری نوي پېژندگلويان په هغه کټه گورۍ کې شامل ول چې د «رسمي اړيکو» په نامه يادېده. [...]

زه د دود له مخې د مادهاپرادېش ايالت د لوی متقاعد وزير د. پ. ميشرا کره ځم. هغه د سياست له کارند گډونه ځان ايستلی دی، خو له هغه سره ژوندۍ

ketabton.com - The Digital Library

لېوالتیا ښيي. ټول او هر یو په ځانګړې توګه پېژني. یندراګاندي په ناز سره د «ګرانې نجلۍ» په نامه یادوي او د بېلابېلو سیاسي مسایلو په اړه هغې ته لیکونه لیکي. کله کله زه د میشرا په کور کې د وزیرانو، لویو سیاستوالو او لویو سوداګرو په کچه مېلمانه وینم. [...]

کله کله زه ګهیځ وختي د یوه بل پېژندګلوي دولتي وزیر ر. ک. کهادل کار کره ځم. دا د هند پخوانی سیاستوال دی، چې په خپلو پرمختګپالو (مترقي) لیدونو او د شوروي اتحاد په وړاندې په ښه چلند سره نامتو دی. سربېره پر دې دا یو ډېر مهربان، یو ډېر روښاندی او د مطالعې سړی دی، چې له خپل کتابتونه ماته هم کتابونه راکوي. موږ په ګډه سره سبناری کوو. د هګیو خاګینه خورو، یوه پیاله چای څښو او پر وروستیو پېښو بحث کوو. وزیر په هر څه خبر دی او پوهېږي. کله کله زما د پوښتنې په ځواب کې داسې وايي: «دا پټه خبره ده، په دې اړه هېڅوک خبر نه دي.» خو هغه دا پټه خبره نه شي پټولای او سملاسي کیسه کوي. زموږ په سیاست کې هر څه د کهادلکار نه خوښېږي. «تاسې هلته ټول بیوروکراتان یاست. په مسکو کې ژوند ته په رښتوني لید څوک نه ګوري. مسکو باید له ډېلي سره د خپلو اړیکو د ښه کولو غم وخوري او دغه چارې باید بیوروکراتانو ته په لاس ور نه کړي.» زما مرکه کوونکی له بیوروکراتانو ډېر بد وړي او کله کله چې له ما د ناراضیتوب جدي کچه وښيي، بیا نو وايي: «ته هم بیوروکرات یې.» زه نه غواړم چې هغه مایوسه کړم، له همدې لامله د هغه په وړاندې کوم پروټیسټ نه ښییم. [...]

ketabton.com - The Digital Library

زما د ملګريو په ډله کې يو بل ډېر اغېزناک سياستوال هم شامل شو، چې په ۱۹۷۴ ز کال کې د کابينې وزير شو او ل. ن. ميسرا نومېږي.

وزير ميسرا تل د ټولو پېښو په مرکز کې دی. همدا راز د ټولو چلوټو او کله کله خولا د لانجو په مرکز کې هم وي. هغه له هندي سوداګری سره پراخ اړيکي لري او داسې ژور ټوليز ليد شتون لري چې ميسرا د هند د ملي کانګرس ګوند د مالي سمبالتيا لپاره پټ کانالونه جوړ کړي دي. [...]

ميسرا زموږ د ليدنو کتنو په اړه تل يندرا ګاندي ته رپوټونه ورکول.

د ۱۹۷۵ ز کال د جنوري پر ۲ ، ل. ن. ميسرا په بيهار ايالت کې د ټاکنو په يوه ميټينګ کې د يوه لاسي بم په واسطه سخت ټپي شو او په راتلونکي لنډ وخت کې د «پيريتونيت» ناروغی له لامله مړ شو. خدای دې يې وبښي!

* * *

د مسايلو او ستونزو په ټول بېلابېلتوب کې «مهم دوښمن» ځانګړی کېږي. موږ په پرله پسې توګه د امريکا اغېز د هند پر سياست احساسوو. د هغو خلکو کړی پېژنو چې د امريکا د متحده ايالاتو سفارت پرې ډډه لګوي. په سفارت کې او له هغه نه د باندې د سي. آی. اې کارکوونکي مالوموو. [...]

د امريکايانو کار او کارندتيا د هند حکومت هم اند ښمنوي. د ۱۹۷۲ ز کال په سيپټمبر کې د واکمن ګوند هېوادمشر ش. د. شرما په رسمي ډول او په ډاګه سي. آی. اې په هند کې په الوګولو، له بنګه دېش، نېپال او نورو ګاونډيو هېوادو سره د هند په خرابو اړيکو تورن کړ. سختې غضبناکې

ketabton.com - The Digital Library

پروپاګندې منډې ترړې پيل کېږي. بې له شکه چې دغو منډو ترړو سياسي سرچينه درلوده. په هند کې امريکايي ضد روحيه په دوديزه توګه پياوړې ده او څه موده مخکې له پاکستان سره د هند د لانچې پر مهال د امريکا د متحده ايالاتو دريځ دغه روحيه نوره هم پياوړې کړه. د سي آی. اې همکارانو يانې د سي. آی. اې کارکوونکيو او امريکايي پروپاګنډې موسسو د دغې امريکايي ضد روحيې د رسمي لمبې لپاره پلمه جوړه کړه. په پارلمان کې په کلکه سره دا غوښتنې کېږي، چې په هند کې د سي. آی. اې د کار او کارندتيا پلټنه وشي. زموږ سياسي بدغوښتونکي او زموږ کانګرسي پلويان په کلکه سره دا غوښتنه کوي، چې په هند کې دې هممهال د کې. جي. بي کار او کارندتيا هم تر پلټنې لاندې ونيول شي.

دا منډې ترړې پخپله ارامې شوې. د ۱۹۷۳ ز کال په دوبي کې کيسنجر هند ته راغی. هغه داسې څرګنده کړه: «موږ هند په پرمخ تلونکې نړۍ کې له مهمو ځواکونو د يوه ځواک په توګه پېژنو...زموږ هلې ځلې دې ته وقف دي، چې د ۱۹۷۱ ز کال د سياست ډېرې تندمزاجې پايلې له منځه يوسو... » د هند او امريکا اړيکي تر يو مهاله پورې ښه شول.

له سي. آی. اې سره زموږ سيالۍ دوام درلود. د امريکا د متحده ايالاتو د څارګرۍ اغېزنه يوازې پر هندي چارو، بلکې د دغې څارګرۍ کار په هند کې پر شوروي اتباعو هم احساسېده. په ډېلي کې د سي. آی. اې د څارګرۍ د استازيتابه بنسټ د شوروي اتحاد په اړه سياسي نه، بلکې اوپراتيفي څېړونکيو د شوروي موسسو د طرحې او څېړنې کارپوهانو جوړاوه. هغوی

ketabton.com - The Digital Library

موږ ته ښه مالوم وو. د هغوی له خوا د شوروي اتباعو د مالومولو هڅې موږ کله کله ډېر ژر شنډولې، خو کله کله موږ ورته دا امکان ورکاوه چې تماسونه زموږ تر څارنې لاندې مخته تګ وکړي. زه څو څو واره پر دې ډاډمن شوی یم، هغه میتودونه چې موږ او زموږ امریکایي همکاران ترې کار اخلي یو بل ته ډېر ورته والی لري. [...] پر هغه مهال امریکایانو ته زموږ هغه کم عقله او مضر پراکتیک څرګند وو، چې تر دغه مهاله یې لا زموږ په سیستم کې شتون درلود. که چیري شوروي تبعه تـه د کـارپوهانو پـه خبـره د «اجیری‌ وړاندیز» کېده، نو پر دغه سړي داسې یو تور لګېده، چې پاکول یې بیا شونی نه وو. منطق نږدې داسې وو: که چیري امریکایانو زموږ تبعه ته د څارګرۍ او اجیرۍ وړاندیز کړی وي، دا نو دا مانا لري چې زموږ دیپلومات، خبریالانو او یا هم څارګر ځان دې ته چمتو کړی، چې لږ تر لږه د دوښمن د لید په ساحه شتون ولري. دا خلک شوروي ته لېږدول کېدل، د نومبدي په نامه یادېدل، راتلونکی یې مالوم نه وو، یا خو به یې ګناه پر خپله غاړه واخیسته، پټه خوله به شو او تل به دا ډار ورسره وو چې وړاندې یا روسته به کې. جي. بي د پېښې پلټنه وکړي. [...]

نه غواړم دا خبره پټه کړم چې کله کله امریکایانو هم بری تر لاسه کاوه. که څه هم دا په ډېلي کې د سي. آی. اې د استازیتوب د خدمت برکت نه وو، بلکې په شـوروي سـفارت کې امریکـایي څـارګر (ایجنټ)، پـوځي اتشـه د. ف. پولیاکوف کار کاوه. د دغه سړي په اړه په مرکز کې ځینو شکونو شتون درلود، خو لکه څنګه چې زموږ په کار کې تل داسې پېښېږي، د دې لپاره چې شکونه زیاد شي دې ته اړتیا وه چې څو کلونه نور هم تېر شي. پولیاکوف

ketabton.com - The Digital Library

کارنده کار کاوه. هغه امریکایانو ته هغه مالومات هم ورکول چې په ډیلي کې د کې. جي. بي د استازیتابه مشر ورسره شریکول.

له پوځي ځارګرو سره مورږ ډېر ښه اړیکي درلودل، خو داسې یوې جوتې پولې شتون درلود چې مورږ باید څه شی ورسره شریک کړو او څه شی شریک نه کړو. هغه څه چې په ټاکلیو سرچینو او د ځارګرۍ د استازیتابه په عملیاتو اړه درلوده، هغه زمورږ پټ مسایل ول. پولیاکوف د «چیکیستانو» [کې. جي. بي کارکوونکیو] په وړاندې ځان ډېر څرګند ښووده او ځان یې ورته ډېر نژدې کاوه، خو پوځي انډیوالان په دې پوهېدل چې پولیاکوف ډېرې هڅې کوي هغوی د کې. جي. بي پرضد ولمسوي او په پټه یې د هغه چا ځارنه کوله چې زمورږ له ملګریو سره یې دوستي کوله. هېڅ یو ځارګر نه شي کولای چې ځان له تېروتنو وژغوري.

د ځینو هندي ورځپاڼو په خپرونو کې هم د سي. آی. اې لاس احساسېده. ښکاره خبره ده چې په مقابل کې یې مورږ هم له همدې ډول چلنده کار اخیست.

زما د ځینو هغو امریکایي همکارانو نومونه په یاد دي، چې زما په وخت کې یې کار کاوه. په ارشیفونو کې د هغوی بشپړ نوملړونه شته، خو زه نه غواړم چې د ارشیف له توکو کار واخلم او د هغوی نومونه یاد کړم. هغوی هم لکه زمورږ په شان هڅې کولې او خپل کار یې تل په بري سره سرته نه رساوه. هغوی د خپل حکومت د سیاست اله وه، مورږ د خپل دولت سیاست پر مخ بیوه. دواړه لوري په حق ول.

ketabton.com - The Digital Library

زموږ خدماتو د امریکایي څارګرو څارنه کوله، د هغوي ایجنټوري او تماسونه یې مالومول، له خپلو کارکوونکیو او «پاکو» دیپلوماتانو سره یې د هغوی د اړیکو وضعه شنله، د هغوی له عادتونو او مالي چارو سره یې لېوالتیا ښوده. کله چې به مو پوره مالومات لاس ته راوړل، نو دغه مالومات به مو وشنل، وبه مو څېړل بیا به مو وټاکل، چې داسې بنسټ شته چې امریکایي ته وړاندیز وشي چې له شوروي څارګرۍ سره همکاري وکړي. بل ځېل (وریانټ) هم شتون درلود او هغه د کارنده څارګر بدنامول او د امکاناتو په شتون کې په هغه پسې پروپاګنډي شورماشور جوړول وو. لومړی ځېل تر ټولو ګټور وو. د دویم ځېل موخه ناڅیزه وه، یانې دوښمن ته سیاسي زیان اړول او د لنډ مهال لپاره د هغه د څارګرۍ د استازیتوب کار بې نظمه کول وو. سربېره پر دې له امریکایي څارګر سره د لانجې په حالت کې ځایي ځانګړي خدمات هرو مرو د سي. آی. اې د استازیتوب په برخه کې خپل کار پیاوړی کوي، د امریکا متحده ایالاتو د سفیر لپاره دلیل پېدا کېږي، چې د څارګرۍ د استازیتابه له مشره نارضایتي وښیي. له سفیرانو سره خرابو شویو اړیکو نه یوازې د څارګرۍ یو استازیتوب، بلکې سي. آی. اې او کې. جي. بي یې هم فلجول. دا قاعده وه.

* * *

د ژوند له سخت رژیم سره هم سړی په پای کې عادي کېږي. ماته د لوستلو او سپورت کولو شونتیاوې رامنځته کېږي. د ټېنیس لوبه کوم، په ماخوستن کې لوست کوم. [...]

ketabton.com - The Digital Library

زه بختور وم چې د څارګرۍ د استازیتوب مشر مو بد سړی نه و. ی. پ. میدیانیک ګڼ شمېر اوپراتیفي حسونه درلودل، د خلکو په پېژندنه کې یې ښه مهارت درلود ، د خبرو له پیل کېدو سره سم یې د مقابل شخص مینه او مهربانی خپلوله. د مرکه کوونکي په وړاندې یې رښتونې او صادقانه لېوالتیا څرګندوله [...]

نږدې په میاشت کې یو وار میدیانیک او زه یو ځای له نژدې رستورانونو یوه رستوران ته تللو، د دود له مخې هغه رستوران ته تلو چې د «عاشق» مېلمستون ته نږدې وو. سره کړې غوښه او سلاته زموږ په خدمت کې وه. رستوران ته تګ له اوپراتیفي نظمه یو څه سرغړونه هم وه. د څارګرۍ د استازیتوب کارکوونکیو ته په جدي ډول سلا ورکول کېده، چې خپل ځانونه باید بهرني چاپېریال ته ډېر نژدې ورونه پېژني. [...]

* * *

د شوروي اتحاد او هند تر منځ دوستانه اړیکو دا مانا نه درلوده چې هندي څارګري ضد خدمات (ضبط احوالات) زموږ د خدماتو د کارندتیا په وړاندې لیبرالي چلند کاوه. داسې نارسمي قاعدو شتون درلود: د سیاسي، ټولنیزو اشخاصو، خبریالانو او داسې نورو ترمنځ تماسونه نه بندېږي. دا د ټولو هېوادو د سفارتونو او څارګرو خدماتو لپاره ول، خو د چینایانو او پاکستانیانو لپاره یې یو څه محدودیت درلود. [...]

وخت نا وخته څرګندې لانجې رامنځته کېدې. د بېلګې په توګه یو رومانیایي دیپلومات په داسې حالت کې ونیول شو، چې یوه هندي خبریال

ketabton.com - The Digital Library

هغه ته د يوه کرېټ ويسکي په بدل کې د هند د دفاع وزارت لاسوندونه ورکول. دغه ليدنه کتنه په ښار کې ټاکل شوې وه، چې شاوخوا ورته د ځارگرۍ ضد خدماتو په لسگونو کسان ځای پر ځای شوي ول. ورځپاڼې په ډېر خوند سره د دغې پېښې تفصيلات چاپوي. هغه کارکوونکي چې د دغې پېښې په افشا کولو کې يې کارنده برخه اخيستې، د هغوی نومونه نه اخيستل کېږي، خو د هغوی په اړه له وياړه ډکې څرگندونې کېږي. [...]

د رومانيا ځارگرۍ د هند د دفاع وزارت لاسوندونو ته څه اړتيا درلود؟ هغه مهال زموږ خدماتو له رومانياپانو سره گډ دوه اړخيز اړيکي نه درلودل، نو ومو نه شو کړای چې دغه موضوع مالومه کړو.

موږ هم له لانجو سره مخامخ کېږو. هندوان پرته د کومو لاملونو له څرگندونو زموږ کارکوونکي له هېواده وباسي. سفارت په تشريفاتي ډول اعتراض کوي، خو موږ پوهېږو چې زموږ د کارکوونکي پر څه شی «پښه ښويېدلې» ده. هندوان په دغسې حالاتو کې تل مودبه خو پرېکنده کړن کوي. [...]

د يادونې وړ ده چې هندي ځارگري ضد خدماتو د هند د پټو خبرو او پټو لاسوندونو درلودونکيو اشخاصو سره د تماس کولو په خاطر داسې سزا يوازې موږ ته نه راکوله. هغه چا چې د امريکايي او نورو بانديڼيو سفارتونو په برخه کې کارنده کار کاوه هغوی هم له هېواده ايستل کېدل.

دا ډول زړه بدونکو پېښو د دولتونو ترمنځ اړيکو باندې اغېز نه کاوه. زما په ليد دا ډول قضاوتونه او خبرې کوم بنسټ نه لري چې د «ځارگرۍ چارې» د هېوادونو ترمنځ د اړيکو د خرابوالي لامل شي. برعکس د اړيکو خرابوالی د

ketabton.com - The Digital Library

نورو ډېرو ژورو لاملونو له لامله رامنځته کېږي. د «څارګرۍ چارو» افشا کونه او په هر ځای کې د هغوی خپرونه یو ازې د مخامخ لوري د تورنولو لپاره ښه پلمه کېدای شي.

په ۱۹۷۱ ز کال کې په انګلستان کې او په ۱۹۸۳ ز کال کې په فرانسه کې دغسې پېښې رامنځته شوې [...]

* * *

د ۱۹۷۳ ز کال په پای کې د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کومېټې عمومي منشي ل. ای. برېژنیف هند ته یو رسمي سفر کوي. د څارګرۍ د استازیتوب لپاره بامسؤلیته شېبې رارسېږي. اړینه ده چې په ټولو برخو کې داسې مالومات راټول شي چې په خبرو اترو کې له مسکو سره د دریځ په سمولو کې مرسته وکړي. ښکاره خبره ده چې زموږ مالومات به د سفارت له ټلګرامونو او نورو رسمي لیکنو، د مرکزي کومېټې د نړیوالو اړیکو د څانګې له مالوماتو سره یو ځای د مشرتابه پر مېز کېښودل شي. [...]

د نوامبر ۲۲ نېټه رارسېږي. هر څه سم روان دي. د هندوانو جوش او خروش پوله نه لري. موږ ټول د دوستۍ په سمندر ګې کې لامبو. د هند پارلمان د برېژنیف ډېر تود هرکلی کوي. زموږ لیډر په ډېره ښه بڼه کې دی، دموکرات دی، هوښیار دی او جذاب دی. هغه د هندوانو خوښېږي او موږ وینو چې په دې ورځو کې د هند په ورځپاڼو کې د شوروي اتحاد په پته یوه کږه او نېښ لرونکې خبره هم ونه شوه.

ketabton.com - The Digital Library

[...] یندراګاندي او ل. ای. بریژنیف باید د سره کوټ په ډګر کې، چې په ۱۹۴۷ ز کال کې د یندراګاندي پلار جواهر لال نهرو د هند خپلواکي پکې اعلان کړه، د خلکو په وړاندې ویناوې وکړي. د سفارت ژباړونکي زیار باسي، چې د بریژنیف لویه وینا په هندي ژبه وژباړي. [...] په ډګر کې تر دوو میلیونو پورې خلک راټولېږي. د لاسو په پړکولو سره د ګاندي او بریژنیف هرکلی کوي. بریژنیف وینا کوي. د هغه وینا ډېره اوږده ده، خو اصلي بدبختي په دې کې ده چې هغه یې په سانسکریټ هندي ژبه ژباړلې ده. د هند بې سواده وګړي په دغه ژبه ښه نه پوهېږي. د بریژنیف وینا دومره له اندازې زیاته اوږده وه، چې نور نو ورو ورو تیاره کېده. اورېدونکیو خلکو هڅه کوله چې ووزي، خو څارندویانو نه پرې ښودل. [...]

په ټولیزه توګه دغه سفر د هماغه مهال د موډ له مخې د یوه تاریخي سفر په نامه ونومول شو. زموږ او هند ترمنځ اړیکو یو نوی پیاوړی داخلي خوځند ځواک خپل کړ.

* * *

د ۱۹۷۵ ز کال په مارچ کې ی. پ. میدیانیک مسکو ته ولاړ. د هندوانو او شوروي مؤسسو په منځ کې یې ښې خاطرې پرې ښودې. زه دې ته اړ شوم چې د څارګرۍ د استازیتوب د مشرځای ونیسم. د دندو کړۍ پراخه او مسؤلیت مې نور هم ډېر شو. [...]

زموږ د مشرتابه د مسایلو په پراخه ساحه کې بنګله دېش تل شتون درلود. جګړه وخته پای ته ورسېده، په حیرانوونکې توګه لس میلیونه کډوال ډېر ژر

ketabton.com - The Digital Library

هېواد ته راستانه شول. هغه کډوال چې ګواکې د پاکستان د پوځ له ظلمونو نه هند ته تښتېدلي ول، هغه ۹۳۰۰۰ درې نوي زره سرتېري، چې تر جګړې وروسته نظربند شوي ول، هغوی هم پاکستان ته ستانه شول. وخت ناوخته په هندي او بنګله دېشي رسنيو کې د هغو دريو ميليونو بنګله دېشيانو په اړه يادونه کېده، چې د پاکستانيانو له خوا وژل شوي ول. موږ ته د دغو «دريو ميليونو» د راپيدا کېدو کيسه څرګنده وه. په ۱۹۷۲ ز کال کې د بنګله دېش د مشر مجيب الرحمان «د ملت پلار» سره د ليدنې کتنې په وخت کې شوروي خبريالانو له هغه د وژل شويو کسانو د شمېر په اړه پوښتنه وکړه. هغه لږ ځنډ وکړ خبره يې پټه کړه او ويې ويل چې هغوی زښت ډېر ول. د «پراودا» ورځپاڼې خبريال يوان شيدروف د حاضرخدمت په توګه هغه ته وروښودل: «درې ميليونه». مجيب الرحمان سملاسي همدا خبره تصديق کړه، چې همدومره درې ميليونه ول. همدغه شمېر په ټوله نړۍ کې خپور شو.

تر ۱۹۷۵ کاله د هند او بنګله دېش ترمنځ اړيکي خړپړ شول. د دوی ترمنځ تاوتريخوالی د يو بل په وړاندې په شکونو، پيغورونو او لانجو باندې بدل شو.

د اګست د مياشتې په ۱۵ ګهيځ وختي د بنګله دېش د پوځ ۵ کسه افسران له يوه ټولي سرتېرو سره يوځای د بنګله دېش د هېوادمشر ماڼۍ ته په زور ننوتل. د «ملت پلار» مجيب الرحمان، د هغه خپلوان او سر وزير منصور علي يې د ماشينګنو په ډزونو وويشتل او ويې وژل. بنګله دېش د يوه اسلامي جمهوريت په توګه اعلان شو. [...]

ketabton.com - The Digital Library

* * *

ماته داسې برېښېده چې زموږ بهرنی سیاست تل له بریده ډېر د اشخاصو په روحیه عیارېده. یندراګاندي یو برجسته دولتي او سیاسي شخصیت وو. هغې د واکمن ګوند ټول مشرتوب تر خپل اطاعت لاندې نیولی وو. هغه چا چې خپل ګټورتوب له لاسه ورکاوه او یا خو یې د کوم چا په وفادارۍ کې شک پیدا کاوه هغه یې په بې رحمانه توګه له دندې ګوښه کاوه. یندرا په ولسواک هېواد کې دیکتاتوره نه وه. هغې د ټولنیز لید په وړاندې حساس غبرګون ښوده. په اپوزیسیون، په پارلمان کې او په خپل ګوند کې یې په بدلون موندونکي مزاج باندې حساب کاوه. موږ د هند په منځ کې وو، زموږ سفارت او زموږ خدماتو داټول څه له نږدې واټنه ډېر ښه لیدل، خو د مسکو لپاره یندراګاندي هند او هند ورته یندراګاندي وه. [...] داسې برېښېده چې په مسکو کې مشرانو ټولو شیانو ته په بل لید نه کتل، نه یې غوښتل او نه یې کولای شوای چې په بل لید ورته وګوري. خلک په بې سده او غیرشعوري توګه هڅې کوي خپل عادي نظم او ترتیب پر پردیو هېوادو ومني. زموږ سیاست په یندراګاندي باندې متمرکز شوی وو. د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کومېټې نړیوالې څانګې د هند کمونیستان دې ته اړایستل چې د یندراګاندي ملاتړ وکړي. د شوروي سفارت او په هند کې د څارګرۍ د استازیتابه ټولې هڅې همدغې مسئالې ته وقفېدې. د دواړو دولتونو ترمنځ اړیکو کې د هر ډول ډېر لږ سوړوالي په وړاندې ډېر کړاغ او دردمند غبرګون ښودل کېده. مسکو داسې چلند کاوه لکه هند چې شوروي ملګریو ته د مینې او وفادارۍ نذر ورکړی وي. د فقیدې لومړۍ وزیرې

ketabton.com - The Digital Library

يندراګاندي دا ډېره خوښېده چې په پټو غونډو کې داسې یادونه وکړي چې موږ دایمي ملګري یا دوښمنان نه لرو، یوازې زموږ ملي ګټې دایمي دي.

[...] شوروي لوري په ټولو کچو کې د ټولو شونتیاوو په کارولو سره د هند د لومړۍ وزیرې ملاتړ کاوه. په دې برخه کې زموږ خدماتو هم ډېر زیار نه یوازې په هند کې، بلکې له هغه نه بهر هم وایسته. د یندراګاندي د سیاست د هغه یا دغه اړخ په اړه انتقادي څرګندونې په مرکز کې په تودوالي سره نه منل کېدې. [...]

د ۱۹۷۵ ز کال د جون په ۱۲ د الله اباد قاضي سینګهـ پارلمان ته د یندراګاندي ټاکنه نارښتونې وګڼله او د ۶ کالو په موده یې هغه په ارګانونو کې د ټاکنو له حقه بې برخې کړه. سیاسي کړکېچ رامنځته شو. واکمن ګوند د لومړۍ وزیرې په ساتنه کې ودرېد. پخپله یندراګاندي ډېر ښه جنګیالي صفات ښیي. په ۴۰ درجو ګرمۍ کې هره ورځ په لسګونو واره د کانګرس والو د لاریونونو په وړاندې ویناوې کوي. دغه لاریونونه د لومړۍ وزیرې د استوګنځي په مخ کې تېرېږي. په ښار کې د یندراګاندي په ملاتړ د میلیونونو خلکو په ګډون سره میټینګ جوړېږي. هېواد ټول وینښ شوی دی. په لوړه محکمه کې د قاضي سینګهـ د پرېکړې په وړاندې مخالفتونه او اعتراضونه راپیدا کېږي، خو د دوسیې پایله لا مالومه نه ده. په شوروي سفارت کې ولسواکۍ (دموکراسۍ) ته ښکنځل کېږي. زموږ یو له زړو دیپلماتانو نه داسې وایي: «دا دېرموکراتي ده». [...] کوم قاضي راپیدا شوی

ketabton.com - The Digital Library

دی (چې د امریکا پلوی او مرتجع دی) پر هغه لویې لیډرې یې لاس پورته کړی، چې د شوروي اتحاد ملګرې ده.

د وضعې څارنه د ملي کانګرس ګوند او ګاندي له لاسه وزي، لومړۍ وزیره یو بې سابقې ګام اخلي، یانې بېړني حالات اعلانوي. سانسور پیلېږي، ځینې ورځپاڼې بندېږي او د اپوزیسیون لوی مشران نیول کېږي. هند غلی کېږي. زه داسې فکر کوم چې همدغه بېړني حالات ول چې د ۱۹۷۷ ز کال د مارچ د میاشتې په ټاکنو کې یې د ملي کانګرس ګوند او پخپله یندرا ګاندي له ماتې سره مخ کړل. ولس له ځواک او زوره ناوړه استفاده کول نه بښي.

موږ په یندرا ګاندي باندې دومره ډېر ګرم او تاوده شوي وو، چې د سیاسي هاند وهڅې (مبارزې) ټولو چالاکو اوبدنو ته په کتو سره مو د ګڼ شمېر چلوټه ماریو هر تار شنه. موږ ټولو د هرې تاریخي ډرامې اصلي او مهمه څېره له یاده ایستلې وه، چې هغه تر یوه مهاله پورې چو په خوله پاتې ولس وو.

د ۱۹۷۷ ز کال په ټاکنو کې د هند ملي کانګرس ګوند بشپړه ماتې وخوړه. زموږ خدماتو ونه شو کړای چې د دغې ماتې کچه پېش بیني کړي. زموږ لپاره یوه کوچنۍ تسلي دا وه چې ټول په وړاندوینه کې تېروتي وو. د هند سیاستوال، بهرني ډیپلوماتان او څارګران، هندي او نړیوالې ځیرکې رسنۍ ټولې تېروتې وې. د مسکو په مشرتابه او هغه چا په منځ کې چې له هندي چارو سره یې لېوالتیا درلوده، داسې اوازه خپره شوه چې کې. جي. بي د دغو ټاکنو پایله غمناکه ښودلې وه، خو له دې سره سفارت رضایت نه وو ښودلی. دغه اوازې بې بنسټه وې. موږ په پرله پسې توګه له سفیر و. ف. مالځیف سره

ketabton.com - The Digital Library

راشه درشه درلوده، په خپل منځ کې مو د مالوماتو تبادله کوله او له يو بل سره مو سلاوې کولې. په دې کې شک نه وو چې يندراګاندي ژر ژر دريځونه له لاسه ورکوي، خو په پارلمان کې د پرتليزو (نسبي) ډېره کيو د لاس ته راوړلو لپاره چانس لري. دې امکان ته اجازه نه ورکول کېده چې پخپله لومړۍ وزيره دې ماتې وخوري. د څارګرۍ د استازيوالې مشر او سفير دواړو يو برابر تېروتنې وکړې.

د ګاندي د حکومت ړنګېدا او واک ته د موراجا ديسای راتګ د شوروي - هند پر اړيکو داسې کوم څرګند اغېز ونه کړ. زموږ د دوو هېوادو د نژدې کېدو فاکتورونو مختته تګ کاوه. همدغو اقتصادي، ستراتېژيکي، پوځي فاکتورونو زموږ د هېواد په وړاندې د هندي مشرانو چلند او د هند دولتي سياست ټاکه. د يندراګاندي راپرزېدنه يوه بده پېښه وه، خو د شوروي اتحاد د ګټو له ليدټکي کومه غميزه نه وه.

له ټولو مسايلو سره سره په هند کې زما د کار شپږم کال پای ته رسېده. مرکز اړينه وګڼله چې زه هېواد ته ستون شم.

...د ۱۹۷۷ ز کال د اپرېل پر لومړۍ په مسکو کې ګڼه لنده واوره اورېده. بيا هم زموږ پسرلی ښه پسرلی دی، آسمان وربځ وي، هوا په يوه حالت نه وي، خو پسرلی د پوهېدو وړ دی. زه يو بل پسرلی هم په مسکو کې تېروم. دغسې پسرلي به زه ډېر ولرم او که لږ؟

ketabton.com - The Digital Library

# ستاسې تیاتر خوښېږي او که نه؟

[...] ماته وړاندیز وشو چې بیا هماغې څانګې ته ورستون شم، چې ترې په ۱۹۷۱ ز کال کې په هند کې د څارګرۍ د استازیوالۍ د مشر د مرستیال په توګه ګومارل شوی وم. دغه وړاندیز مې ومانه، خو په دغه څانګه کې کار ماته هېڅ ډول خوښي او قناعت نه رابښه.

زه په ایران کې د بهرنۍ څارګرۍ د استازیتابه د مشر په توګه وټاکل شوم او وړاندیز وشو چې زه ایران ته ولاړ شم. ما دغه وړاندیز د ژغورنې په توګه درک کړ او د دغه ماموریت لپاره مې په جدي ډول چمتووالی پیل کړ. په دې اړه مې ډېر کتابونه وموندل او ما د لومړي وار لپاره دا احساس کړه، چې ایران روسیې ته څومره نږدې دی او تاریخ دغه دوه هېوادونه څومره نږدې سره تړلي ول. [...] تر څو چې ما تګ ته چمتووالی کاوه، محمد رضا شاه پهلوي له خپل هېواده وتښتېد او امام خومیني تهران تـه راسـتون شـو. اسلامي انقلاب په جوش خروش کې وو.

زما د الوتنې نېټه وټاکل شوه. د کې. جي. بي د کادر او پرسونل په اداره او د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کومېټې په نړیواله څانګه کې زما وروستۍ لیدنې کتنې، خبرې اترې سرته ورسېدې. په دغو خبرو اترو کې په ټولیزه توګه نصیحتونه کېدل. هر یو کارکوونکی چې به د دندې لپاره لـه هېواده بهر لېږل کېده، همدغه نصیحتونه ورته تکرارېدل. زموږ خدمات هسې په سرسري ډول کېدای شي د پټو خدماتو په نامه یاد شي، ځکه چې

ketabton.com - The Digital Library

موږ ته د ګوندي-دولتي پرسونل ګڼ شمېر مامورینو نصیحتونه کول او موږ یې ځارلو.

د اپرېل میاشتې په وروستیو ورځو کې د کې. جي. بي د ګوندي کومېټې منشي ګني ېفګېنيويچ اګییف د خبرو لپاره وروبللم. زموږ خبرې عادي روانې وې. پوښتنو ته ځوابونه ورکوم. [...] په یوه شېبه کې اګییف له ما د پوښتنه کوي: «تاسې تیاتر ته ځئ؟» دا پوښتنه هم د نورو حتمي پوښتنو یوه برخه ده. د لویو مشرانو له شمېره کوم چا دا دود حتمي ګڼلی دی، چې هر باکلتوره انسان باید هرو مرو تیاتر ته ولاړ شي او د کې. جي. بي کارکوونکي باید باکلتوره وي.

ما د یوې شېبې لپاره بیداري له لاسه ورکړه او ورته ومې ویل: «نه، زه تیاتر ته نه ځم.» زما مرکه کوونکی په حالت پوه نه شو او ویې ویل: «هرګوره تیاتر ته به وخت نه لرئ.» «نه وخت شته. هسې تیاتر مې نه خوښېږي.» کېدای شو داسې فکر وشي چې سوسیالیستي ریالیزم پر ما ګران نه دی، نه مې خوښېږي او یا هم کوم څه نور چې د هر کمونیست لپاره ډېر ارزښت لري. زما ځواب ګوندي منشي ډېر حیران کړ. [...]

د ۱۹۷۸ ز کال په اګست-سیپټمبر کې د کې. جي. بي لومړۍ لویه اداره دې پایلې ته راغله چې په ایران کې د شاهي رژیم پای رانږدې شوی دی. دغه وړاندوینه په اثبات ورسېده، اسلامي انقلاب سرته ورسېد. د خلکو لویې پرګنې په خوځون راغلې، سخت ظلم په انارشیزم باندې بدل شو، په اصل کې

ketabton.com - The Digital Library

واک و ځواک د هغو بېلابېلو وسله والو ډلو لاس ته ورغی، چې په خپل منځ کې یې سخته سیالي کوله.

امریکایان د شوک له حالته راووتل، ځانونه یې سم او مرتب کړل. د امریکا د متحده ایالاتو سفارت او د سي. آی. اې استازیواله له شاه غوښتونکیو سره کار کاوه، په پوځي کړیو کې یې تماسونه کارندول، له روحانیونو او کیڼو سازمانونو سره یې اړیکي ښه کول. انګرېزانو، فرانسویانو او المانیانو په پټه، خوډېر اغزمن کار کاوه. د «ساواک» (Sawak) د پټو ځارندویانو خطرناک سیوري خپل وحشت او هیبت ته دوام ورکاوه.

زموږ د خدماتو په وړاندې دا دنده پرته وه، چې په ځیر سره د ایران د داخلي حالت ځارنه وکړو. د داخلي سیاسي ځواکونو ترتیب او نظم وټاکو، په ډېرو اغېزمنو، په لومړي ګام کې په مذهبي سازمانونو کې سرچینې لاس ته راوړو. د ځانګړې لېوالتیا موضوع د امریکا له متحده ایالاتو، د لوېدیځې اروپا له هېوادو سره د ایران اړیکي او په ایران کې د امریکایانو کار او کارندتیا وه. د وخت په تېرېدو سره د شوروي اتحاد په اړه، د اسلامي انقلاب د صادرولو، د ایران او عراق د جګړې او د افغانستان په اړه د ایران د سیاست مسایلو لومړی ځای ونیو. په دغه هېواد کې د داخلي سیاسي حالت د یوې لویې او مهمې مسئالې په توګه پاتې کېده.

تر لومړیو څو انقلابي میاشتو وروسته حالت بدلون ومووند. د ۱۹۷۹ زکال په اپرېل کې زموږ [د خدماتو] کارکوونکی ف په داسې حال کې، چې د ایران د خلکو مجاهدینو سازمان له یوه مشر سعادتي سره د لیدنې کتنې په خاطر د

ketabton.com - The Digital Library

هغه په لور روان وو، په لاره کې ورته وسله والو کسانو کمین نیولی وو، د دغو کسانو له خوا ونیول او ووژل شو. دغه کمین د هغې اسلامي کومېټې له خوا جوړ شوی وو، چې د امریکا د متحده ایالاتو د سفارت ساتنه یې سمبالوله. دا یوه تصادفي پېښه نه وه، بلکې د سي. آی. اې د «ساواک» د پاتې شونو او د نوې واکمنۍ استازیو له خوا په ګډه جوړه شوې کړنه وه. د لیدنې کتنې وخت او ځای هغوی د څارګرۍ او یا هم د تیلیفون د لین په کارونې سره مالوم کړی وو. څه موده وروسته د امریکا د متحده ایالاتو په سفارت کې د اسلامي کومېټې مشر کاشاني، چې په قصاب مشهور وو، چندماري شو.

د «ایوین» په بندي خانه کې سعادتي یوه هڅه وکړه چې بندیان پاڅون ته راولمسوي، خو د نوي حکومت له خوا سولۍ شو. انقلاب لکه د پخوا په شان خپل بچیان په حرص سره خوړل. د «ساواک» ټولګي پاک شول، هغه کسان چې ډېر شکمن ښکارېدل، هغه یې ترې وایستل، له سره جوړ کړای شول او د نوي اسلامي حکومت په خدمت کې ودرول شول. د «ساواک» د کارکوونکیو او څارګرۍ لیستونه، چې ټولو شاهي ضد ځواکونو یې د لاس ته راوړلو هلې ځلې کولې، په ورځپاڼو یا مهالنیو (جریدو) کې چاپ نه شول.

د «ساواک» شوروي څانګه ړنګه نه شوه. د مجبوریت له مخې د هغې د کارکوونکیو د بې کارۍ لنډمهال د ۱۹۷۹ ز کال د مې او جون تر میاشتو پای ته ورسېد. موږ هم دې ته اړوتو چې د له ناکارنده حالته تېر شو، د پټ حالت او بې خترۍ له غوښتنو سره سم خپل کار پر مخ بوزو.

ketabton.com - The Digital Library

د دې لپاره چې بهرنۍ څارنه سمه پر مخ بوزو، د تګ راتګ لارې مو سمې طرحه او وټاکلې. د «ساواک» کارکوونکيو ډېره ښه زده کړه درلوده. هغوی ته د امريکايي او اسراييلي ښوونکيو له خوا زده کړه ورکول کېده. پخپله پارسيان ډېر قابله خلک دي، ځکه خو هره تېروتنه کېدای شي چې زموږ لپاره په بدبختۍ بدله شي او بدبختۍ موږ بې له هغه هم ډېرې درلودې.

په ايران کې د څارګرۍ استازيواله دومره لويه نه وه، نو له کارکونکيو او چارو سره پېژندګلوۍ ځو اونۍ وخت ونيو. په هېواد کې حالت په دومره ګړنديتوب او ناڅاپي کړلېچونو سره مخته تګ کاوه چې ډېر کار کولو ته اړتيا وه. ماته داسې برېښېده چې زموږ ځينې همکاران په بشپړه توګه کارند نه دي [...] د روحانيونو په منځ کې تماسونه کمزوري ول. که څه هم مهمه دا ده چې هغوی په ټوليزه توګه شتون درلود. هغوی بايد ډېر وې. ملايان په سياست کې ځانونه داخلوي. هغوی له پخوا نه له بازار سره ټينګ اړيکي لري، له همدې لامله د څارګرۍ لپاره مساعد نه دي. په سياسي ډګر کې پوځ د يوه خترناک او مرموز ځواک په شان شتون لري. هغه ته امريکايان د نږدې کېدو ډېره تلوسه لري. هغه اړيکي چې په انقلابي ګډوډۍ کې له افسرانو سره ټينګ شوي هغوی ته بايد پراختيا ورکړ شي.

د دندو دنده امريکايان دي. يوازې د امريکا د متحدو ايالتونو د سفارت نيونې، په ايران کې د امريکايانو د ځرګند شتون له منځه وړنې د څارګرۍ پر استازيوالي فشار لږ کمزوری کړ. امريکايي يجنټوري په ايران کې پاتې شوه، خو له هغې سره د کار جوړول ډېر ستونزمن وو.

ketabton.com - The Digital Library

امریکایي څارګری په بشپړه توګه له ایراني کډوالو کار اخیست. کډوال د مالوماتو او خبرتیاوو یوه ډېره لویه خویوه ډېره ناډاډمنه سرچینه ده. د کډوالو خبرې او قضاوت کېدای شي چې سم او یا ناسم وي، خو هغوی ټول د هغه چا په اړه د کرکې رنګ لري، د چا له لاسه چې هغوی هېواد پرې ایښی وي، پر دې بنسټ د بشپړ باور وړتیا نه لري.

[...] له نیکه مرغه ما ډېر ژر وکولای شول چې د ایران په اړه له ماهرانو، له سفیر و. م. وینوګرادوف، سلاکارانو ن. ای. کوزیروف او ي. د. اوستروویکه سره ګډه ژبه پیدا کړم. له هغوی سره ناستې ولاړې او راشه درشې ماته دا شونتیاوې راکولې چې لږ اشنا هېواد نور هم ښه وپېژنم. خو ما نه شو کولی چې خپل ځان د دفتر د څلورو دېوالونو په منځ کې بندي کړم. تماسونو، د ایران له واقعیت سره سیده تماس او ښار پېژندنې ته اړتیا وه. [...]

یو وار بیا دا اندم چې نه شم کولی ځان د پېښو د تاریخي نظم په یادونو کې ډوب کړم. پېښې بېخي ډېرې وې او د هغوی د باصلاحیته څارونکیو او څېړونکیو له خوا بیانېدې او ثبتېدې، لکه: د امریکا د متحدو ایالتونو پر سفارت برید او په ۱۹۷۹ ز کال کې د امریکایي یرغملو نیول، د بازرګان د حکومت رنګېدل، له عراق سره جګړه، د یرغملو لپاره د امریکایي دیسانت ناکامه ښکته کېدنه، د ایران د خلکو مجاهدین له منځه وړل، د توده ګوند پوپنا کول، پر شوروي سفارت برید، پرله پسې او بې پایه سیاسي وژنې، چاودنې او ظلمونه.

ketabton.com - The Digital Library

داسې فکر کېږي چې تر ټولو به ښه دا وي هغه پېښې يادې شي، چې د تل لپاره په حافظه کې پاتې شوې دي [...] د ايران تازه او تېز رنګه منظرې، پارسي لاکي انځورګري، د ختيز غړونه او بويونه يوه ډېره ښه زمينه ده. زمينه د څه شي لپاره؟ دلته هرو مرو د اګييف خبره په ياد راځي: «تاسې تياتر ته ځئ؟» خو که سړی اخيستنه او اقتباس وکړي، تر ټولو ښه دا ده چې د ډېر ښه روسي انسان ويساريون ګريګورېويچ بيلينسکي د ډېرې ښې مقالې «ستاسې تياتر خوښېږي او که نه؟» يادونه وشي. د تياتر خوښېدل دا مانا نه لري چې سړی په سمه توګه د مسکو تياترې ننداړو ته ولاړ شي، چې هلته د دود له مخې د لوبغاړي کريم «ګريم» ليدل کېږي، غړونه په طبيعي او اصلي حالت نه ايستل کېږي، له ستېژ نه باد او د سريښو بوی راځي. [...]

نه، هغه تياتر چې په رښتونې توګه زما خوښېږي هغه دا ډول نه دی..

ketabton.com - The Digital Library

# تهــران

په تهران کې د زړو سفارتونو ودانۍ، چې له دویمې نړیوالې جگړې نه یې مخکې شتون درلود، د لویو پارکونو په منځ کې ولاړې دي، چې د خښتو دېوالونه لري [...] د شوروي او انگلستان سفارتونه له یو بل سره دومره نژدې پراته دي چې د دېوالونو یو یو کونج یې له یو بل سره لگېدلی دي.

زموږ د سفارت په وړاندې د چرچل د کوڅې شمالي برخه پرته ده، چې اوس یې د نیفیل لي شاتو په نامه نومولې ده. نیفیل لي شاتو پاریس ته نږدې هغه سیمه ده، چې امام خومیني هلته انقلاب ته انتظار ایسته. دغه کوڅه گڼه گوڼه نه لري، دوه درې کوچنۍ هټۍ. د سفارت د کونسلگرۍ او ینترپول څانگې پکې دي. د سفارت وره ته مخامخ یو درې پوړیز کور ولاړ دی، چې د کړکیو پردې یې هېڅ وخت پورته نه وي. په دغو پردو کې کوچني درزونه شته، چې له هغوی نه شپه او ورځ زموږ څارنه کېږي. د شاه په وخت کې هم همداسې وو او اوس په اسلامي جمهوریت کې هم په هماغه حالت پاتې شوي دي. کله چې سفارت ته کوم ایرانی رانئوزي او بیرته ووزي نو په نژدې کوچنۍ کوڅه کې یې ودروي، بېلابېلې پوښتنې ور نه کوي، ته څوک یې، په سفارت کې دې څه کار درلود، له چا سره دې وکتل، د څه شي په اړه مو خبرې کولې، پته یې مالوموي او که چیري په دې پوه شي چې دغه سړی د خپلې ساده گۍ له مخې سفارت ته ننوتی وو، ډاروي یې، خبرداری ورکوي چې بل وار دې لوري ته رانه شي. کله کله وهل هم ورکوي، سم یې تلاشي کوي او د توپانچې په واسطه ورته گواښ کوي، له همدې لامله سفارت ته ډېر لږ خلک

ketabton.com - The Digital Library

راځي. په ټوليزه توګه بهرني ديپلوماتان راځي هغه هم د دې لپاره چې دوی ته ځينې رسېدلې اوازې کره کړي او کوم نور څه مالومات لاس ته راوړي.

زموږ سفارت ته مخامخ له هماغه کوره د دې څارنه کېږي چې کوم يو بهرنی ديپلومات زموږ سفارت ته ډېر راځي. د موقع په برابرېدو سره اړوند سفير ته د ايران د باندينيو چارو وزارت کې دا يادونه کېږي، چې خپل کارکوونکي يا ديپلومات ته ووايي چې د «ختيځ امپرياليزم» له استازيو سره دومره ټينګ اړيکي ونه لري. بايد وويل شي چې د نوي حکومت او واکمنۍ دا ډېر خوښېږي، چې پر ديپلوماتانو دغسې فشار واچوي، په تېره بيا وروسته له هغه، کله چې د امريکا د متحدو ايالتونو سفارت د يرغل په واسطه ونيول شو او کارکوونکي يې هم يرغمل ونيول شول. [...] يوې ځايي اسلامي کومېټې يوه کوچني سفارت ته دا خبرداری ورکړ، چې د هغه سفارت په خځلنۍ کې زښت ډېر د ميو خالي بوتلونه موندل کېږي. دا د دې شاهدي ورکوي چې د امام خوميني د سپارښتنو پر خلاف د نوموړي سفارت ديپلوماتان شراب کاروي. په دغه ډول خبرداري پسې به څه شی تړلی وي؟ په هغه پسې کېدای شي هر شی تړلی وي. لاريونونه، پر دېوالانو سپکې، رزيلانه ليکنې، د خځلو راټولوونکيو اعتصاب او نور. ايرانيانو له بهرنيانو ډېر څه زغملي دي. [...] اوس د هغوی مهرباني او زړه سواندي په ښکاره لواړتوب او بې ادبۍ بدل شوي دي.

هغه څوک چې په پټه د سفارت څار کوي، سپورې ستغې نه وايي او هڅې کوي چې له موږ سره مخامخ نه شي. دا مسلکي خلک دي چې د پاچا لپاره په

ketabton.com - The Digital Library

پیسو کار کوي او په اسلامي جمهوریت کې یې خپله مفکوره نه ده بدله کړې.
له هغوی نه به خپه کېږو نه، پرېږده چې کار وکړي.

* * *

د شپې له خوا تهران په یوه ډېره تپه تیاره کې ډوبېږي. د اسیا روښان لمر د ایلبورسک د لړۍ شاته پټېږي. هېڅ یو څراغ نه روښان کېږي. د هېڅ یوه موټر څراغونه روښان نه وي.

جګړه روانه ده. د عراق د هوایي ځواکونو یرغلونو ستر ښار په سربدالۍ او ډار کې ډوب کړی دی. د عراق دوه میګ جګړه ییزې الوتکې د ښار له پاسه تېرې شوې، چې د ماشینونو په سخت غورهار سره یې د اوسیدونکیو غوږونه کاڼه کړل. [...] په ټول ښار کې د هټیو وسپنیزې دروازې په پورې کېدو شوې. څو دقیقې وروسته د ایران هوایي ساتنې، لکه له خوبه چې راویښه شوې وي، په ډزو پیل وکړ. لږ وروسته په کوڅو کې د ګزمې موټرونه راپیدا شول، دا ګواښ یې کاوه چې د هر چا کړکۍ یې روښانې ولیدې نو ډزونه به پرې وکړي. [...]

په تلویزیون کې ټولې ربړې او پټکي ښوول کېږي. د اسلامي انقلاب د دوښمنانو په پټه بدې خبرې او ښېراوې کېږي. د قران کریم ایتونه قرائت کېږي. [...] په هېواد کې واکمني اسلامي ده او هر څوک چې د دغې واکمنۍ پر وړاندې ډېر یو کوچنی مخالف خوځون هم وکړي، هغه یا چندماري کېږي او یا به د ایوین په هیبت ناکه بندیخانه کې غورځول کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

پاچا د «سپین انقلاب» بنسټ ایښودونکي د خپلو مخالفینو لپاره ډېره عصري بندیخانه جوړه کړې ده. د امریکایي او اسراییلي ښوونکیو په مرسته یې د شکنجې ماهران روزلي دي. اسلامي واکمني په ښکاره او لوړ غږ سره شاهي رژیم د هغه له ټولو ستاینو سره رد کړ، خو له بندي خانې نه یې په ډېرې خوښۍ سره کار واخیست. د خوميني تر راستنېدو وروسته د ایوین د بندیخانې لوی جلاد علي تهراني سملاسي چندماري شو. د هغه ځای د اسلامي انقلاب بچیانو ونیو...

* * *

ښار له جګړې او اسلامي انقلاب سره ځان برابروي. هغه ګڼ شمېر بهرني سندرغاړي او نڅاکوونکي، چې څه موده مخکې یې د تهران خلکو ته د ساتېرۍ فضا جوړوله، ناڅاپه ورک شول. بارونه، کوچني او لوی رستورانونه وتړل شول. د مشروباتو او خوراکتوکیو هټۍ ورانې ویجاړې شوې. وسپنیزې پردې د اوږدو میاشتو او کلونو په موده وځړول شوې.

خو نوي جوماتونه پرانیستل شول. په هر ځای کې، له هرې کتارې سره له شګو ډکې بوجۍ یو د بل له پاسه وغورځول شوې او مورچلونه ترې جوړ کړای شول. د هرې اسلامي کومېټې په مخ کې وسپنیز خنډونه جوړ کړی شول او په هر ځای کې د اسلامي انقلاب وسله وال ساتونکي ودرول شول. په هټیو کې هر ډول توکي ورک شول. په هغو هټیو کې چې خوراکتوکي پلورل کېدل، هغوی ته د پېرودونکیو کتارونه ورځ تر بلې اوږدېدل. پیرودونکیو یوازې په ځانګړې کوپون باندې کولی شول چې ټاکلې اندازه خوراکتوکي وپېري. [...]

ketabton.com - The Digital Library

نارینه کنځا کوي، ځکه چې هغه یو کوتی سیګرېټ چې ده ته د کوپون له مخې اجازه ده چې رایې نیسي، هغه هم نه شي کولی چې لاسته راوړي. ښکنځا هم باید په احتیاط سره وشي. چیرته چې د خلکو ګڼه ګوڼه وي، نو هلته هرو مرو دوه درې ږیره ور وسله وال کسان هم وي. هغوی د اسلام او خلکو دوښمنان لټوي. [...]

* * *

موږ په ایران کې وار په وار کمېږو. اسلامي انقلاب په ټینګار او پرله پسې توګه د شمالي ګاونډي استازي تنګوي. روسی-ایرانی بانک، د سرې میاشتې روغتون، چې د تهران د غریبانو درملنه یې کوله، وتړل شو. په رشت کې کونسلګري وتړل شوه او خبریالانو ته ویزې نه ورکول کېږي. په تهران کې روسي کډوال، چې یو وخت یې ژوند د سمسور تیا په لور روان وو، هم په کمېدو شول. [...]

د ۱۹۷۹ ز کال په نوامبر کې د امریکا سفارت د «مسلمانو محصلینو» له خوا ونیول شو. د نوامبر او ډیسامبر په شپو ورځو کې دلته د خلکو ګڼه ګوڼه وه، چې داسې نارې به یې وهلې: «مړ دې وي کارتر. » «مړه دې وي جاسوسان» [...]

د شپېتمو کلونو په سر کې زموږ د سفارت لپاره نوې ودانۍ جوړېده. له یوې ځایي کمپنۍ سره تړون لاسلیک شو. د شوروي کارکوونکیو ودانیز کار تر سختې څارنې لاندې پیل شو. د تاداو کیندلو پر مهال د څو کسانو هډوکي وموندل شول. دا جنایي موضوع وه، خو په یو ډول یې سره پټه کړه او له

ketabton.com - The Digital Library

رسمي پلټنې تېر شول. که څه هم د شاهدانو د يادونو له مخې دغه کسان په بېلابېلو وختونو کې خښ شوي او د هغوی مړي څو لسيزې دلته تر خاورو لاندې پراته ول. دا خلک څوک ول؟ په کومو دوسيو کې يې لاس درلود او چا د څه په خاطر له منځه وړي دي؟

* * *

[...] مور د جگړې په غورهار کې خپله کلا (سفارت) کلکوله. ښه مو ليدل چې د نړيوالې ديپلوماسۍ نورمونه تر پښو لاندې کېږي. زموږ د سفارت د ډگر (ساحې)، شخيت، ډاگخونې (پوسته خانې) او نورو مصؤنيت دا اميدواري راکوله چې ايرانيان به زموږ پر سفارت له غرض کولو وډار شي، خو د هغوی په هوښيارۍ مو دومره باور نه درلود. زموږ له شمېره هغه کسان چې په خپلو هڅو سره يې نه غوښتل د ايران د ژوند په پېچلتوب ځانونه پوه کړي، هغوی د پرېکندو پوځي کړنو پلوي کوله او داسې يې ويل: «يوه د ټانک فرقه بايد د مشهد له لارې او بله هم د تبريز له لارې ايران ته ننوزي..اړينه ده چې په تهران کې هوايي ديسانت ښکته شي... زموږ يو غونډ به په درېيو ورځو کې ټول ايران ونيسي... » او داسې نور. (بايد وويل شي چې افغاني درسونه مو لا په مخ کې وو.)

...پر سفارت يرغل ناڅاپي خبره نه وه. لومړی يرغل د ۱۹۸۰ ز کال د نوي کال په شپه ترسره شو. ښه مې په ياد نه دي، يوه ډله څوک؟ باندېستان؟ يرغل کوونکي؟ ايرانيان؟ د سفارت ودانۍ ته ننوتل او د څارندويو په يوه کوچني ځواک سره د سفارت له پارکه وايستل شول. [...]

ketabton.com - The Digital Library

بل یرغل د ۱۹۸۰ ز کال د ډیسامبر په ۲۷ ، افغانستان ته زموږ د پوځ د ننوتو پر لومړۍ کالیزه ترسره شو، چې موږ ته یې ډېرې بدې پېښې راپېښې کړې. [...]

موږ د خلکو د ګڼې ګوڼې او خوځون ځارنه کوله. هغوی د فردوسي له ډګره د سفارت په لوري روان ول. د ځارندویو بار وړونکی موټر، چې ځارندویان هم پکې ول، یې چپه کړ. ځارندویان او ساتونکي د سفارت په مخ کې ودرېدل. [...] خو یوه ډله چې شمېر یې د پنځوسو کسانو په شاوخوا کې وو، له لویې ګڼې ګوڼې راجلا شوه، پر وسپنیزې کټارې راواوښته، موږ ورته کتل چې د سفارت ساتونکو ورته لار ورکړه او څه یې ورته ونه ویل.

په دغه وخت کې زموږ د سفارت د ختر زنګ ووهل شو. زموږ نوکریوالان شاته ولاړل او د سفارت د وسپنیزو دروازو شاته پټ شول. یرغل کوونکي په زور د استازیتابه ودانۍ ته ننوتل. په هغوی پسې د نظم ځواک روان وو. [...]

لنډه دا چې یرغل کوونکي په شا وتمبول شول. ګڼې ګوڼې لمونځ وکړ، د سفارت پر دېوالونو یې سپکې خبرې او چټیات ولیکل او ولاړل. چارواکیو زموږ په خوښه د لسو ورځو په موده زموږ د سفارت په پارک کې د ساتونکیو یوه ډله ځای پر ځای کړه. دا د دې لپاره چې د افغان کډوالو له دسیسو مو وساتي. [...]

د ۱۹۸۸ ز کال په مارچ کې په شوروي کې جوړ شوي توغندي پر تهران وتوغول شول. له همدې لامله د مارچ میاشتې په سر کې یو وار بیا زموږ پر سفارت یرغل وشو.

ketabton.com - The Digital Library

د سفارت په وړاندې د خوميني د پلويانو چلند موږ ته مالوم وو. پر دغه مهال موږ ته زموږ د خير غوښتونکيو له خوا ، پر سفارت د يرغل د وخت، د دوښمن د نيت، موخو او د هغه ځواک په اړه پوره مالومات راورسېدل چې په دغه يرغل کې بايد وکارول شي. زموږ د سفارت ديپلوماسي گام (ديمارش) د ايران د باندينيو چارو د وزارت مامورينو په مودبانه موسکاوو سره واورېد. ډاډ يې راکړ چې په دې اړه به اړين گامونه اوچت شي.

* * *

[...] د ايران په تور سياست کې د مجاز، روا او ناروا ترمنځ توپير نه ليدل کېږي. درواغ ويل گنا نه گڼل کېږي. د يرغملو نيول او وژل د منلو وړ نورمونو په شمېر کې راځي. شيعه گان له وينې نه ډارېږي. د درواغو تومت په چاپورې ويل شوی دی، يا به کلاهي وي يا به رفسنجاني. داسې ښکاري چې تاريخ به هيڅوخت قضاوت ونه کړي. بهيشتي هغې نړۍ ته ولاړ، کلاهي ورک شو او رفسنجاني هېواد اداره کوي. که بهيشتي وژل شوی نه وای، نو ښايي چې بهيشتي به اوس په دې نړۍ کې شتون نه درلود.

* * *

له هوايي گوابس، په ښار کې له ډزونو، چاودنو او پر سفارت د يرغل له گوابس سره سره زموږ کار دوام درلود.

په مسکو کې د مرکزي کومېټې په سياسي بيورو کې د ايران د چارو په اړه يوه ځانگړې کميسيون شتون درلود ، چې مشر يې ل. ای. برېژنيف وو. په دغه

ketabton.com - The Digital Library

کمیسیون کې یو. و. اندروپوف ، ب. ن. پاناماریوف او د. ف. اوستینوف شامل ول. په شوروي اتحاد کې تر دې بل باصلاحیته ارگان شتون نه درلود. دغه کمیسیون مالوماتو ته اړتیا درلوده.

هره ورځ له سرچینو سره لیدنې کتنې کېدې. په تپه تیاره کې به زموږ له کارکوونکیو کوم څوک ښار ته وت، د ښار په کوڅو کې به پلی روان وو او د زړه د ارمان دروازه به یې لټوله. د دغې دروازې شاته به زموږ مرستندوی منتظر وو او یا خو به یې په ټاکلي ځای کې کوم شی غورځاوه. د سیگرېټو چیت شوی کوتی او یا د شیدو زوړ کوتی. د هغه له منځه به یې هغه مالومات راوایستل چې د ده لپاره به ټاکل شوي او غورځول شوي ول. پر دغه مهال اړینه وه چې نه یوازې دې ته ژور پام وشي چې کوم څوک دې نه څاري، بلکې دې ته هم باید جدي پام وشي چې د اسلامي انقلاب او یا اسلامي کومېټو د گزمو او ساتونکیو لید پرې ونه لگېږي. دا داسې مهال وو چې گزمو به لومړی پر سرې ډزونه وکړل، تر هغه وروسته به یې بیا پوښتنه کوله چې «څوک یې؟».

دا مهال هغو ارمنیانو، ازربایجانیانو، وزبکانو او تورکمنانو، چې زموږ د څارگرۍ په استازیتابه کې یې کار کاوه ښه ورتیا وښوده. هغوی ماهر، سربښندونکي او زموږ کار ته وفادار ول. هغوی د ځایي خلکو کالي اغوستل، د هغوی په ژبه یې خبرې کولې، د هغوی په منځ کې گرځېدل او له هغوی نه یې توپیر نه کېده. (د هغوی له ډلې یو هم دولت وو چې وروسته یې بیا په افغانستان کې هم دنده درلوده). هغه مهال افغان پوځ د جلب او احضار

ketabton.com - The Digital Library

چارې د «ښکار» په بڼه پر مخ بیولې: سرتېرو ناڅاپه یوه سیمه کلابند کوله او پوځي خدمت ته برابر نارینه یې ټول په زور راټولول. دولت دوه واره په دغسې «ښکار» کې ګیر راغی، نږدې وو چې وسله په لاس د جبهې لومړۍ کرښې ته یې ولېږي، خو هر ځل شوروي رسمي استازیو مداخله کوله او د هغوی له برکته دولت له جبهې وژغورل شو. دولت کولای شو چې یو ډېر ښه ځارګر شي. [...]

زموږ عملیات تل له بري سره پای ته رسېدل.

زما مرستیال ګ. ولادیمیر له بهرنۍ سوداګرۍ سره تماس ټینګوي او پراختیا ورکوي. موږ ته له دغه چاینله راتلونکي مالومات دومره ډېره ګټه نه لري. خو زموږ خدماتو ته دا زده کړه ورکړ شوې، چې راتلونکی په پام کې ولري. بهرنی شخص ځوان دی، ښه زده کړه لري، هڅه کوي چې پیسې وګټي، له شوروي وګړي سره له تماسه ډډه کوي او په څرګند ډول دا لېوالتیا لري چې دغه تماسونه پټ وساتل شي. زموږ د ارزونې له مخې دغه اړیکي قناعت بښونکي دي او موږ دا هیله لرو چې داسې یو بهرنی مرستندوی لاس ته راوړو چې په نورو سیمو کې هم د ډېرو کلونو په اوږدو کې زموږ د خدماتو لپاره ګټور وي. موږ بیړه نه لرو. هره لیدنه کتنه شنل کېږي، په خبرو اترو کې ځارنیز (کنترولي) عناصر داخلوو. لکه تصادفي ځارل شوي حالتونه. د ولادیمیر اشنا پاک دی، خو بیا هم له هغه سره د اړینو اړیکو تر جوړولو باید نورې ځارنې هم وشي.

ketabton.com - The Digital Library

ماښام ولادیمیر د لیدنې کتنې لپاره ټاکلي ځای ته روانېږي. هغه باید د ماخوستن لسو بجو ته راستون شي. هغه د ماخوستن یوولسو او ان دولسو بجو ته راښکاره نه شو، خو د جوړې شوې نقشې له مخې د پلټنې پیل کولو ته لا وخت شته. اړینه ده چې انتظار وباسو، نارام او اندېښمن زړونه ارام کړو او له همکارانو سره په ارامۍ سلا وکړو.

ولادیمیر د شپې راښکاره کېږي. د هغه له څېرې مالومېږي چې بده پېښه پرې تېره شوې ده، خو مهمه دا ده چې هغه ژوندی دی، ټپي نه دی، وهل شوی او نیول شوی نه دی. هغه داسې کیسه کوي: هغه کور چې دی ورخوځېدلی وو، شاوخوا وضعه یې ارامه وه، که څه هم هغه د تنګې کوڅې په سر کې یو ځوان سړی ولید چې ده ته شکمن ښکاره شو. (باید وویل شي چې د خدماتو هغه کارکوونکي چې بهرنی څار کوي، د هغوی چلند او خوځونونه ډېر وخت غیر طبیعي کېږي. په تېره بیا په داسې حال کې چې په لغړه ډګر کې واقع شي. هغوی تل خپل خوځونونه په بري سره سرته نه رسوي. د هغوی داخلي هیجاني توب هغوی افشا کوي ) خو له دې ټولو سره سره ولادیمیر وپتېیله چې خپل ملګري ته ورشي. وروسته یو شمېر کسان په زور دغه کور ته ننوزي، ځانونه د اسلامي کومېټې کارکوونکي معرفي کوي او دواړه کسان نیسي. ولادیمیر د باندینیو چارو وزارت د پروتوکول څانګې ته بیایي. وروسته تر هغه چې د ده شخصیت څرګندېږي، خوشي کوي یې.

پر دې ورځ ولادیمیر د «نون ګرات» وګړي په نامه اعلانېږي. له ایرانه د ولادیمیر د شړلو پلمه مصنوعي وه. موږ دې پایلې ته راغلو چې د ایران د

ketabton.com - The Digital Library

ځارګري ضد خدماتو وپتېيله چې له داسې يو کارند سړي ځان خلاس کړي، چې باانرژي دی، پارسي او انګليسي ژبې يې ښې زده دي. هغه مهال د ايران او شوروي اتحاد ترمنځ اړيکي بېخي کنګل شوي وې او ايراني لوري د شوروي اتحاد په پته په هيڅ ډول منفي څرګندونو کې شرم نه کاوه. خوميني داسې ويل: «امريکا تر انګلستان بده ده، انګلستان تر امريکا، خو روسيه تر هغوی دواړو بتره ده.» کله کله دغې وينا د ايران د مشرتابه د کار او کارندتيا لپاره د لاربښود په توګه خدمت کاوه.

زه اوس پوهېږم چې موږ په خپلو پايلنيو کې تېروتنې کړې وې. د کوزيچکين خيانت يو کال وروسته رسوا شو. ولاديمير يې په دې پار لـه هېواده ايسته چې د خاين د کار او څوکۍ د لوړېدو لار خلاسه شي. ټول ځارګري ضد خدمات له دغه ډول حالته کار اخلي.

موږ ته نور زيان هم راواوښت. د بېلګې په توګه جبهې ته ولاړ او بيرته راستون نه شو...ونيول شو او ورک شو... په پټه له هېواده بهر ولاړ...له ايرانه بل هېواد ته ولېږدول شو...لري ګارنيزيون ته ولېږدول شو...

کار دوام درلود. د سياسي بيورو کميسيون ته زموږ له خوا مالومات رسېدل، خو کميسيون تل قناعت نه کاوه. کله کله يې د چارو په اړه ادعاوې څرګندولې. کله کله يې هم يوازې په دې پار ملامت ګڼلو چې زموږ مالوماتو د مشرتابه ليدټکی نه تصديقاوه. زموږ دغه رپوټ چې د پاچا محمد رضا پهلوي مړينې د ايران پر حالاتو څرګند اغېز نه دی کړی او دې پايلنيوي، چې شاهي ايډيه مړه ده، د يو. و. اندروپوف نارضايتي راوپاروله. زموږ د هغه

ketabton.com - The Digital Library

مهال مشرانو په حق رسېدلی محمد رضا پهلوي له نژدې نه پېژاند. زه په دې اند یم، چې هغوی رضا پهلوي ته له برېده ډېر ارزښت ورکاوه، خو لکه څنګه چې ما مخکې هم یادونه وکړه، زموږ پخوانیو مشرانو دا لېوالتیا درلوده چې د شخصیت رول ته له برېده ډېر زیات ارزښت ورکړي.

مرکز په عصباني ډول له موږ غوښتنه کوله چې د ټولو مهمو پېښو په اړه باید ژر تر ژره مالومات ورکړو. د ۱۹۸۰ ز کال په اپرېل کې امریکایانو یوه داسې هڅه وکړه، چې د خپلو یرغملو د راخلاسولو لپاره دیسانت ښکته کړي (د عملیاتو مشرانو د تباس په سیمه کې طبیعي شرایط په پام کې نه وو نیولي، هغه وو چې دوو چورلکو د ښکته کېدو پر مهال زښتې ډېرې خاورې او دوړې پورته کړې او دواړه چورلکې له یو بل سره ټکر شوې چې په پایله کې ۸ دیسانتتان ووژل شول) د دیسانت هڅه نه یوازې د ایرانیانو، بلکې د امریکا د متحدینو لپاره هم یوه ناڅاپي خبره وه. [...] موږ د تباس د دغې پېښې په اړه یو شواروز وروسته مرکز ته خبر ورکړ. په تهران کې د څارګرۍ د استازیتابه مشر ته، چې ولې یې د پېښې په اړه دومره په څنډ سره خبر ورکړی، ډېرې سختې خورده ګیري خبرې وشوې.

څارګري خو نه شي کولای چې د پېښو د بهرني لوري په اوپراتیفي روښانتیا کې د ډله ییزو مالوماتو له وسایلو سره سیالي وکړي. دې ته کومه اړتیا نشته. څارګري باید ژوروالي ته لید واچوي او د دې لپاره وخت په کار دی.

* * *

ketabton.com - The Digital Library

...په هېواد کې چندماریو دوام درلود. د خوميني د يوه وژل شوي پلوي په بدل کې په لسګونو او سلګونو مجاهدين له منځه وړل کېدل. ملامت او ناملامت ټول نيول کېدل، له خپل سيوري ډارېدل، وهل يې او ټکول يې، بندي خانې يې ډکولې، تر شيکنجو لاندې يې نيول، کړاوونه يې پرې تېرول او ريشخند يې ورباندې واهه.

يوه ورځ د ايوين په وحشتناکه بندي خانه کې بنديانو بلوا وکړه. د دغې بلوا په سر کې مجاهد سعادتي، چې لا د ۱۹۷۹ ز کال په اپرېل کې نيول شوی وو، ودرېد. بنديانو د بنديخانې مشر وواژه، خو بنديان بيا د ساتونکيو له خوا سخت ډېر ووهل شول او سعادتي چندماري شو. [...] د خوميني پلويان په دې پوهېدل چې د وژل شوي اتل پلويان به جګړې ته تر هغه وخته دوام ورکړي، تر څو چې د ځمکې پر سر د ده دوښمنان او د ده همفکران شتون ولري. د په کړاو سره وژل شوي شخص او هغه بيا د اوښتلي مرتد په نامه تورنول او په ياد يې تر وروستي بريده ريشخند وهل د خومينيانو لپاره يوه عادي موضوع وه.

وخت به تېر شي، د ايران په تاريخ کې به خوميني هم خپل ځای ونيسي. په ايران کې وتلي اشخاص تېر شوي دي، چې د هغوی په نامه ښارونه، کوڅې او ښوونځي نومول شوي دي. د ايرانيانو بشپړو پښتونو (نسلونو) د هغوی په مفکورو ژوند کړی دی. خو ناڅاپه په وچ کلک غږ سره يا خو د تاريخ او يا هم د برخليک څرخ بيرته په شا په تاوېدو پيل کوي او هر څه بدلون مومي. [...]

ketabton.com - The Digital Library

خوميني څوک دی؟ د هغه له نامتو لقبونو يو هم «بت شکن» يانې بوت ماتوونکی دی. هغه د ايران د ټولو هغو واکمنانو، چې په بېلابېلو وختونو کې يې ايران اداره کاوه، ياد ، نوموړنه او مجسمې له خاورو سره برابرې کړې. خوميني يوازې فردوسي، چې مجسمه يې د پلازمېنې په يوه مرکزي ډگر کې جوړه پاتې شوه، د پاچا په توگه اعلان کړ، خو د هغه د پاچاهانو کتاب «شاهنامه» په رسمي ډول د نه منلو وړ کتاب اعلان شو. حجت الاسلام خلخالي په ټولو مسايلو ښه پوهېده، د امام دوښمنان يې داسې له منځه وړل، چې بېخي يې پوپنا کول، بوتان او مجسمې يې له خاورو سره برابرولې. د کارگرانو يوه ډله له دوو بولدوزرونو سره يو ځای هغه ځای ته لېږي، چې تر رضا شا مخکې د پهلويانو د کورنۍ بل پاچا پکې خاورو ته سپارل شوی وو. د دغه پاچا مړی له هانسبورگ نه راوړل شوی او دلته په ايران کې خښ شوی وو. بولدوزران د دغه پاچا کېڅ (قبر) له منځه وړي. حجت الاسلام په رسمي ډول اعلان کوي، چې پر دغه ځای به ټولنيزه ټټۍ جوړه شي. خلک چوپ دي، د دوه نيمو زرو کالو ظلم او استبداد ، چې د الوگولو، فسادونو، انارشيزم، د بهرنيو سياسي واکمنيو پړاوونه ورسره مل ول، د حجت الاسلام له خوا د يوې عادي کوچنۍ ټولنيزې ټټۍ په جوړولو سره پای ته رسېږي. داستان پای ته ورسېد.

د ماتو شويو بوتانو، د رسوا شويو او ريشخند شويو افسانو، داستانونو پر ځای يو داسې نوی بوت جوړېږي، چې د څرخ تر راتلونکې څرخېدنې پورې ژوند وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

هغه کوچني تفصيلات چې ژوند ترې جوړ شوی، له موږ سره يوځای تېرېدونکي دي. د نیکۍ او بدۍ ترمنځ توپير له منځه ځي. په همدې کې گوابن پټ دی، ځکه چې تاريخ د راتلونکي لپاره يو درس دی. د وسمهالو (معاصرو) له خوا د تاريخ پوهېدنه د دغه درس يوه برخه ده. د شيعه گانو لومړني امام علي ابن ابي طالب ويلي وو: «تر حکمت بله لويه شتمني نشته. تر ناپوهۍ بله لويه نېستي نشته»

## د يادښتونو له کتابچې څخه:

بهرنيان په پردي هېواد کې د کليشې او ستاندارت له مخې ژوند کوي. هر څه په ارادي يا هم په غير ارادي توگه د چا خبره په خپل گز سره گزوي. د خپلو هېوادوالو اخيستنه او قضاوت په خوشباورۍ سره مني، خو که چيري هغوی دده له سرسري خاطرو سره مخالفت ونه لري. د پردي ولس د ځان د اخلي حالت ته ليد کول ستونزمن کار دی. هغه په نورو شيو سره تغذيه شوی، د زېږېدو پر مهال يې بله هوا تنفس کړې، نورې کيسې، نکلونه او متلونه يې هضم کړي دي. د خپلو ظالمانو پر وړاندې يې کرکه ښودلې او پر خپلو اتلانو يې خوښي څرگنده کړې، خو بيا هم د روسي اسرار امېزه زړه او اروا په پرتله، پارسي زړه او اروا د سلگونو کلونو په اوږدو کې د اروپايانو لپاره د يوه پرانيستي او ساده کتاب په شان برېښېده. شاردن، مالکولم، روسی سوداگر فيودور کتوف، موريې، فرانسوي ډاکتر فيوريير او د نژادي تيورۍ بنسټگر گراف دې گوبينو، انگليسي دولتي شخصيت لارډ کرزن، روسی ديپلوماتيک مامور ک. سميرنوف او پوځي ځارگر ا. ای. مېدوېديف،

ketabton.com - The Digital Library

خبريال ن. پ. مامنتوف، سوداګر ا. ای. لومنيځکي او پ. پ. اګورودنيکوف دوی ټولو د ايراني ملي ځانګړتياوو په شننه کې هېڅ ډول ستونزې نه احساسولې. لارډ کرزن په ډاګه او لوړ غږ سره ويل: «د پارس رښتونی زوی به له هر څه مخکې درواغ ووايي، خو رښتيا به ونه وايي.»

له جګړې نه مخکې سيمې ته له پاسه ليدل کول ښه دي، خو د ولس د زده کړې لپاره هغه ته دغسې کتل کومه ګټه نه لري. اروپايانو تل ايران ته له پاسه راکتل. ايران په پرانيستې جګړه کې د هېڅا له خوا نه وو نيول شوی، خو هغه د پرله پسې داخلي فساد او شورشونو له لامله دومره کمزوری شوی وو، چې بهرنيان دلته د ايران اصلي خاوندان ول. ايران په رښتيا سره يوه مستعمره وه. [...]

[...] مالومه شوه چې ايران ياني هغه ځلاند شيک پوشه، ډېر ښه روزل شوي ايرانيان نه دي، چې ټولې اروپايي ژبې يې زده وې. د ټولواک پر شاوخوا راڅرخېدلي ول او ګڼ شمېر نړيوال کنفرانسونه به يې ښکلي کول او دا هغه پوځ هم نه دی چې په عصري امريکايي وسلو د لوازمو په ځلا سره به يې خلک ډارول او دا هغه بااطاعته، زيارکښ، تحمل کوونکي، بې کرکتره او بې شخصيته خلک نه دي چې يو وخت تښتېدلي ټولواک د «زما ولس» په نامه ياد کړي ول. له همدې لامله زموږ له شمېره ځينې په دې اند شول چې د پارسيوان (ايراني) زړه، ځان او اروا داسې څرګند نه دي لکه څنګه چې په لسګونو لسګونو کلونو اروپا ته ښکارېدل. فرانسوي و. بېرار په ۱۹۱۰ کال کې ښه ليکلي وو: «ټول هغه څوک چې په تهران کې شتون لري، د پارس

ketabton.com - The Digital Library

چارې ورته د نه سمېدونکې او علاج نه منونکې ګډوډۍ په شان مالومې دي» [...]

* * *

په ایران کې تاریخ خپل معیار لري. خپل پارسي مقیاس لري. خپلې تاریخي نېټې لري. هغه نړېوال توپانونه، د جګړو سیلۍ او انقلابونه، چې اروپا ته یې ټکان ورکړی وو، دلته هم راورسېدل، خو یو څه په ارامۍ او سستۍ سره، د اوبو پرسر، ژور تل یې ونه ښوراوه.

زموږ، د ایران د نژدې ګاونډیو لپاره تاریخ په جوتو او دایمي پولو سره وېشل شوی دی او داسې ښکاري چې له هغوی نه تر تېرېدو وروسته زموږ ولس نوی کیفیت غوره کاوه، چې په بشپړه توګه یې د هغوی هستي د چاپیریال او نړۍ په وړاندې د هغوی چلند له سره جوړاوه. [...]

ایران دومره د نړیوالو پېښو ګډونوال نه وو، لکه څومره چې د هغوی ناکارند (نافعال) مرکز وو. د ایماندار او اصولي شیعیزم له لید ټکي شاهي واک غیر قانوني دی. یوازې هغه څوک کولی شي د ایران پر مسلمانانو واکمني وکړي، چې د امام علي سیده وارثین وي، خو که د هغه وارثین نه وي بیا نو ټینګ دیندار او تر ټولو ډېر روحاني اشخاص د هغوی ځای نیسي. د قاجارانو او پهلوي کورنۍ ناقانونه دي. [...]

د اروپا په پولو او پټو کې جګړې روانې دي. د انتانتا هېوادونه د المان پر ضد جګړه کوي. ایران ناپېیلی دی، خو د هغه خاورې ته انګرېزي پوځ او

ketabton.com - The Digital Library

روسي اغزامي قول اردو ننوزي، چې بولندوی يې جنرال باراتوف دی. دغه پوځونه د دې لپاره ايران ته لېږل کېږي چې په بين النهرين (ميسوپوتاميا ) کې له تورکي ځواکونو سره وجنګېږي. له ايرانيانو چا پوښتنه نه کوله، په هېڅ ډول مسايلو کې يې چا ليد نه اورېده، هغوی يې د سرته رسېدلې کړنې په وړاندې درول. قاجارانو دا زړه او شونتياوې نه درلودې چې اعتراض وکړي. په روسيه کې انقلاب وشو، هغه انګليسي قول اردو، چې بولندوی يې ډانسترويل وو، له ايرانه وزي، د قفقاز سيمو ته راځي او باکو نيسي. د تورکيستان د کسپين سيمه له عشق اباد او کراسناودسک سره يو ځای نيول کېږي. جګړه د ايران له خاورې پرمخ بيول کېږي، خو ښکاره خبره ده چې انګرېزان دا فکر نه کوي چې د کوم څه په اړه له ايرانيانو پوښتنه وکړي. ډانسترويل او د هغه پوځ له شوروي روسيې په شا ايران ته شړل کېږي. هلته هغوی د سپين ګارد (۱) له پوځيانو سره مرسته کوي، چې جګړه دوام وکړي. شوروي لوری په جدي توګه کار او وړاندې تګ کوي. د ۱۹۲۰ ز کال په مې کې د اينزيلي پر بندر د شا له خوا د سمندري پوځ کميسار فيودر راسکولنيکوف تر بيرغ لاندې پوځي سمندري بېړۍ يرغل کوي او ښار نيسي. راسکولنيکوف د ايران له والي سره دوستانه ليدنه کوي. د ايران والي د سمندري پوځ کميسار ته ښه راغلاست وايي، هغه ته چای ورکوي، سوله ييزې ديپلوماتيکې خبرې اترې کوي او په هماغه ماښام په انګرېزانو پسې د تهران په لور خوځېږي.

المان له شوروي اتحا د سره جګړې ته چمتووالی کوي. ايران له الماني سلاکارانو، کارپوهانو او ګرځندويانو ډکېږي. دا کار د رضا شاه په خوښه

ketabton.com - The Digital Library

سرته رسېږي. هغه له شمالي ګاونډي ډېر ډارېږي، په انګرېزانو باور نه لري او داسې ښکاري چې په احتیاط سره مخکې له مخکې د لېرلید لپاره په نړیوال ځواک ډډه لګوي. دویمه نړیواله جګړه پیل کېږي. رضا «شاه له پلازه ښکته کېږي او استعفا کوي»، خو په راتلونکي لنډ مهال یانې په ۱۹۴۴ ز کال کې په لري هانسبورګ کې له دې نړۍ سترګې پټوي. ایران ته شوروي او انګرېزي پوځونه ننوزي.

په هېڅ ډول سره نه شو کېدای چې دغه پېښې دې د ولس پر شعور اغېز ونه کړي، خو له دغو پېښو یې یوه هم په داسې یوه کرښه یا پوله باندې بدله نه شوه، چې له هغې نه دې تاریخ او تاریخ لیکنه پیل شي او بیا دې په فلکلور کې پاتې شي. تفصیلات له منځه ځي، نېټې هېرېږي، یوازې یو دا ډاډمنتوب ژوندی پاتې کېږي چې هېڅ یو اجنبي د ایران نیکي نه غواړي، هغوی په خپل سر راځي او بیرته له هېواده وزي. هغوی د ایران ګټو ته په سپکه سترګه ګوري، بهرنیان یوازې بدي راوړي. هغوی تل داسې چلبازۍ او چلوټه مارۍ کوي چې مسلمانانو ته د سپک لید کولو په مانا دي [...]

په دې کې نه یوازې اروپایان ملامت دي، تر اروپایانو مخکې تورکي قومونه، افغانان، تورکان او تر هغوی مخکې بیا منګولیایان، عربان او یونانیان ول. [...] پارسیان شیعه دي. هغوی له لومړي سر نه د نړۍ په ظلم، د کړاوونو په حتمي توب او په پای کې د عدالت د بري په خوښۍ ګروهه درلوده. تاریخ پارسیانو ته دا ورزده کړي چې له هر ډول حالاتو سره ځانونه روږدي کړي، چالاکي وکړي، د سخت دوښمن ظلم وزغمي، هممهال خپل

ketabton.com - The Digital Library

وخت او خپل وار ته انتظار وباسي، په داسې حال کې چې په دې ښه پوهېږي چې وخت او وار به یې را نه شي. [...]

وختونه تیاره او هیجان امېزه دي. مورږ شوروي اتباع په دغه هېواد کې په ښکاره ډول په خیر نه غوښتونکې فضا کې ژوند کوو. زه له سفارته د باندې وزم. سفارت ته پر مخامخ دېوال داسې لیکنې شوې دي: «مړه دې وي شوروي جاسوسان» «مړه دې وي توده یان» د سفارت د دیوال پر کونج په ځانګیزه (مسلکي) توګه داسې لیکنه وینم: «مړه دې وي شورویان!» زه شوروی یم. باید ځان داسې وښیم چې زه ګواکې دغه لیکنې نه وینم، د دې لپاره چې تماشه کوونکیو ته خوښي ورونه ښنم. هوا ډېره ښه ده، مزاج او تبیت هم ښه دی، کوچني مسایل یې نه شی خرابولای.

ماته مخامخ ایرانۍ نجلۍ راروانه ده. د هغې خړ ټیکری پر سر دی او په لاس کې یې کتابونه دي. دغه ټیټ ونې ډنګره او د جدي څېرې نجلۍ په ادب سره ماته پام کوي او وایي «تاسې له دغه سفارته یاست؟» «هو» (هغه له ما دا پوښتنه کوي، چې په څه ډول شوروي اتحاد ته سړی د زده کړې لپاره تلی شي. زه هڅه کوم چې ورته تشریح یې کړم چې اوسمهال دا کار ناشونی دی. زه په بشپړه توګه هغې ته غوږ غوږ یم... )

ایرانۍ نجلۍ بیا په ادب سره پوښتنه کوي: «وبښئ، تاسې ولې سوسیال- امپریالیست یاست؟»

ketabton.com - The Digital Library

ایرانۍ یو وار بیا پوښتنه تکراروي: «تاسې ولې سوسیال-امپریالیست یاست؟ » هغه د پوښتنې ځواب ته نه تم کېږي، په مجلله او بریمنه روحیه روانېږي [...]

په کوڅه کې یو بل ایرانی زلمی رانژدې کېږي، چې پاک، عادي او ساده کالي يې اغوستي دي. موسکی کېږي او په داسې غږ سره چې د نورو تېرېدونکیو خلکو پام راوا نه ړوي، وايي: «مړه دې وي شورویان!» ښکاره خبره ده چې زموږ لپاره عیني لاملونه شتون لري: هغه دا چې هغه عراقۍ الوتکې چې تهران ته ګواښ کوي، په شوروي اتحاد کې جوړې شوې دي..دغه څرګند تبلیغ زموږ په ګټه نه دی. دغه ځوان هلکی چې ماته يې نېښ دارې خبرې وکړې، کېدای شي یوه یا دوې ورځې وروسته د خزستان په هوار ډګر کې د هغه توپونو او توغندیو د ګولیو تر باران لاندې راشي، چې په شوروي اتحاد کې جوړ شوي دي. هغه ته دا نه شې تشریح کولی، چې په جګړه کې څوک ملامت دی. دا چې ځوانان وژل کېږي څوک ملامت دی او دا چې شمالي ګاونډی د ایران او اسلام دوښمن اعلان شوی څوک ملامت دی.

* * *

زه د تهران په ښار کې ډېر ګرزم. ډېری وختونه په دغه ګرزېدنه کې یوازې یم. دا کار خطرناک دی او ان تر دې، چې تل معقول هم نه دی. د ښار په کوڅو او ډګرونو کې چاودنې کېږي، ناڅاپه ډز و ډوز پیل کېږي. خبره یوازې په همدې کې نه ده. هغه څوک چې موږ څاري، یانې د خومیني د «ساواک» د کارکوونکیو لپاره ډېر نه خوځېدونکي او پېشګويي کېدونکي اشخاص

ketabton.com - The Digital Library

ګټور دي، ځکه چې هغوی کولی شي چې پرته له کومو ستونزو یې تر څار لاندې ونیسي، خو زه نه شم کولی چې پر یوه ځای کېنم او ونه خوځېږم، خو پېشګویي کېدونکی کولی شم واوسم. زما د تګ راتګ ټولې لرې او نږدې لارې، لرې او نږدې چکرونه نژدې تل کتابپلورځی، وران او ویجاړ ځایونه او د روزویلټ په پخوانۍ کوڅه کې د عیسوي ارتودوکس کلیسا کتابتون په خپله غېږه کې نیسي.

زه پوهېږم چې زما څارونکي زما له عادتونو سره روږدي کېږي. تر ډېره ځنډه د هټۍ په مخ کې ولاړ وي، د هټۍ له خاوند سره ځان په خبرو بوختوي، هرو مرو له هغه سره د کوم توکي په اړه چنې وهي او بیا کوم څه ترې رانیسي. زما دا عادت، چې تل پلی ګرزم د هغوی نه خوښېږي. د ختیځ خلک له اوږده چکره او اوږده پلي تګه خوند نه اخلي. زه وروسته ورو ورو د څارګرو نشتوالی احساسوم. هغوی ښه ښوونځی پاس کړی دی او سړی یې په اسانۍ سره نه شي مالومولای. خو که ته ویده نه یې او پر مخکې له مخکې مالومه تګلاره ځې، بیا نو دنده اسانېږي. مهمه داده چې تل یوې خوا او بلې خواته ونه ګورې، ارام تګ وکړې، د بل هر پلي سړی په شان په دې فکر کې اوسې چې کوم شوخ موټرسایکل والا دې ونه وهي. د کوڅو انځور ته په ښه لید وګورې، مخامخ راتلونکي شخص ته په ادب سره لاره ورکړې او کله کله هم هټۍ ته ودرېږې. هر تمځی، کیڼ یا ښی لور ته راتاوېدل، له کوڅې تېرېدل، تصادفي خبرې، د ترافیکي زرغون څراغ د روښانېدو په پار انتظار ایستل سړي ته دا شونتیا ورکوي چې شا وخوا وګوري. د ورو ورو شکمن تګ موټر

ketabton.com - The Digital Library

ووینې او یا هم لږ وړاندې هغه شکمن سړی ووینې، چې ځان ناهوسا احساسوي [...]

* * *

پردې، جگړه دوام لري. هره ورځ دوښمن ته د اړول شوې زیان په اړه له باتو ډک مالومات چاپېږي. ټول پوځیان له دروغو ویلو سره لېوالتیا لري. د خومیني پلویان له دې نه مستثنا نه دي. هغوی د خپل پخواني هېوادوال حاجي بابا، چې له اصفهانه وو او د جان موریر د چلباز رومان اتل وو، پر پل پل ږدي. حاجي بابا د تېرې (۱۹ پېړۍ) په سر کې له روسي پوځ سره د نښتې په پایله کې د رپوټ جوړولو پر مهال نژدې داسې چورت وهي: «له آس نه ولوېدل، یا خو ۲ او یا هم ۵ کازاکان وو. لکه چې ۵ ول او مالومه نه ده چې هغوی ووژل شول او که یوازې ټپیان شول، خو موږ به یې وژل شوي وگڼو. پر دغو بې وفا سپیانو سړی ولې زړه وسوځوي؟ زه به یې په رپوټ کې ولیکم، چې ۵۰ کسه ووژل شول !»

اوسني ایراني پوځیان هم دا ډول رپوټونه لیکي. د چاپ شویو شمارونو (ارقامو) له مخې د جگړې په لومړیو میاشتو کې هره عراقي الوتکه لږ تر لږه دوه واره ویشتل شوې ده. د عراق د زغره وال پوځ برخلیک هم همدغسې وو. «زموږ لوري» ته هم زیانونه اړوي، خو دا زیانونه لږ او سمبولیک دي [...] ټول ایران په دې پوهېږي چې رسمي پروپاگنډ ټول دروغ وایي، خو شک لرل منع دي [...]

ketabton.com - The Digital Library

هر ایرانی په دې پوهېږي، چې له عراق سره د جګړې په جبهه کې د دوی وضعه ښه نه ده. ډېر پوځیان کورونو ته بېخي نه راستنېږي، هغه څوک چې راستنېږي له هغوی نه د چا لاس نشته، د چا پښه، څوک ټپي او څوک هم په اور سوی دی. په تېره ډېر یې بې پښو دي. عراقیان جبهې ته نږدې سیمه کې ماینونه خښوي، خو ایراني بولندویان (قوماندانان) چې پرون یې هتې ـ چلولې، بشپړه پوځي زده کړه نه لري او خپل لاسلاندې د ماینونو پر سیمه ورمارشوي. لاسلاندې هم په دې راضي دي چې د شهادت جام وڅښي. [...]

مرګ پالنه، له مړینې سره مینه، په ډېر خوند او مزې سره د هغې یادونه، دا ټوله هغه فضا ده چې د خومیني د پلویانو له خوا جوړه شوې ده. په عکسونو کې وینه او مړي، د کتابونو په پوښتی، د تلویزیون په پرده، په پوسترونو کې، د تهران په پلیو لارو کې، د خزستان په جبه زارو کې، د کوردستان په غرونو، تورکمن دښته، د بلوڅستان په دښتو، د مازندران په ځنګلونو او نورو ټولو ځایونو کې وینه او مړي دي. د دې ټولو له پاسه د سپین ږیري، بوډا، چې تور پټکی یې پر سر دی، سیوری پروت دی. [...]

د ۱۹۸۳ ز کال په فبرورۍ کې د ایران د توده ګوند د مشرانو په نیولو پیل وشو. نور نو په تهران کې پاتې کېدل اړین نه وو.

د ۱۹۸۳ زکال د فبرورۍ میاشتې پر ۱۵ ما د «ګوریف» له بېړۍ د وروستي ځل لپاره د اینزیلي بندري ښار او د ایران خاورې ته وروکتل. [...]

* * *

ketabton.com - The Digital Library

په ۱۹۸۴ ز کال کې زه افغانستان ته ولاړم. لومړی وار زه افغانستان ته په ۱۹۵۸ ز کال کې تللی وم، هغه وخت چې زه نژدې لا هلکی وم او پاکستان ته روانېدم. وروسته زه په پرله پسې توګه افغانستان ته تلم. څه د پاشه شل ځلي زه له الوتکې نه په کابل کې کوز شوی یم. له ب. کارمل، نجیب الله، د بېلابېلو پړاوونو افغاني مشرتابه له ډېرو غړیو او نورو په زړه پورې خلکو سره مې پېژند ګلوي کړې ده.

افغاني حماسه به تر ډېره وخته پورې د پوهانو، تاریخ لیکونکو او لیکوالو پام ځان ته ورواړوي. هغه تر اوسه لا پای ته نه ده رسېدلې. د هغه چا لپاره به ستونزمنه وي، چې غواړي د هغې مفصل او عیني تاریخ ولیکي. زښت ډېر ګډونوال، د امریکایي او پاکستاني ځانګړیو خدماتو لوی رول، چې فکر نه کېږي خپل پټ رازونه بربنډ کړي، له چلبازۍ او اسباب بازۍ سره د افغانانو طبیعي لېوالتیا، د هېواد او ولس نورې ځانګړتیاوې ټول هغه خنډونه دي چې څېړونکي دې ته اړباسي چې هوار یې کړي.

ما د یادښت لیکلو کار نه دی کړی او دا هڅه نه کوم چې د پېښو بنسټیزه موضوع بیا راژوندۍ، بیا نوې کړم او د افغاني ډرامې د بنسټیزو څېرو د کړو وړو د لاملونو اټکل وکړم. په دې اړه باندې باید په جدي ډول سړی بوخت شي، خو کوچنۍ لمبسنې (مسودې) راسره پاتې شوې دي، له افغانستانه به مې له هر سفره تر راستنېدو وروسته د ځان او که کره وویل شي د کورنۍ د یادګار لپاره له ځان سره ساتلې.

ketabton.com - The Digital Library

# افغـــانستان

زه له سپېده چاوده مخکې د مؤذن نارو راويښ کړم او بيرته سملاسي ويده شوم. بيا د تالندې غړمبهار راويښ کړم، چې نژدې زموږ له پاسه غړمبېده، وروسته يو وار بيا تالنده وغړمبېده. له کړکۍ نه ها خوا ته، په تنګ درز کې د پردو ترمنځ سهارنۍ خړې نرۍ ترغوني ښکارېدې او ښايي چې ماته تياره له تېټو تورو ورېځو ښکاره شوې وي. داسې فکر کېده چې اوس به شديد باران پيل شي، په پاڼو، بامونو او د بڼونو په لارو به يو شور جوړ کړي. ما سترګې پټې کړې، خو په دې وخت کې د تالندې يو بل ډېر لوی غړمبهار واورېدل شو. ورپسې نور څلور ګوزارونه وشول، چې ترمنځ يې د وخت واټنونه بېخي يو ډول او برابر ول. لږ وروسته له سپېده چاوده مخکې سخته تالنده، چې د باران ژمنه يې ورکوله، غلې شوه. ښار د لويو رياکټيفي توغنديو د ګوليو تر باران لاندې وو. د ښار په اطرافي سيمو کې مؤمنو مسلمانانو د ګهيځ له لمانځه وروسته ګوتې ماشو ته وروړلې او يا يې هم د لويو وسلو د دستګاوو اتومات سويچونه وهل (زه نه پوهېږم چې دغه دستګاوې څه ډول کارول کېږي) او ټولو ټولو ټولو ته يې دا ور په يادول چې جګړه دوام لري.

د کړن ځای کابل، وخت د ۱۹۸۸ ز کال د مې مياشتې د يوې ورځې ګهيځ دی. د شوروي پوځ لومړي کاروانونه د ترمز په سيمه کې له دولتي پولې د دې لپاره تېرېدل، چې بيا هيڅ وخت افغانستان ته راستانه نه شي. ماښام بيا پر ښار غړمبهار پيل شو. دا تالنده نه وه، بلکې يو ډول لويه چره وه چې د ېوالونه

ketabton.com - The Digital Library

يې ولړزول. د څلوېښتم لښکر رياکتيفي توپچي د دوښمن د دريځ (موقعيت) پر اټکلي سيمو گوزارونه کول.

د سبا ورځ په گهيځ له لمانځه څو دقيقې وروسته په ښار باندې بيا تالنده پيل شوه، خو دې تالندې په خواشينۍ سره د ژر تېرېدو ژمنه نه ورکوله. [...]

* * *

د ۱۹۸۴ ز کال جون. همدا اوس د پنجشېر په دره کې د احمد شاه مسعود پر وسله والو ډلو د شوروي پوځ د توركيستان د پوځي حوزې څلوېښتم لښکر له افغاني پوځ سره گډ گوزارونه پای ته ورسېدل. د دغې جگړې مشري د شوروي اتحاد د دفاع د وزير د لومړي مرستيال س. ل. سوکولوف پر غاړه وه. هغه يو کلک، پياوړی سپين ږيری دی، چې د پلارگلوۍ چلند لري. هغه په خپل څه د پاسه ۷۰ کلن عمر کې ډېر سگرېټ څکوي (اوږده امريکايي More سيگرېټ) او کولای شي په پوره اندازه څښل وکړي.

مارشال په چورلکه کې د پنجشېر روخې ته د دې لپاره الوتنه کوي، چې هلته وضعه پخپله وگوري. وروسته څرگندېږي چې د وضعې کتو ته اړتيا نشته. په پټيو کې غنم پاخه شوي ولاړ دي، خو تر اوسه لا لو شوي نه دي. شوروي ټانکونه په همدغو غنمو کې درول شوي دي. هرې خواته چې گورې همدا ټانکونه او زرهپوښونه ولاړ دي. د ختېنو کورونو له يوه نيم څخه يې لوگی پورته کېږي او د کرار شنه اسمان په لوري ځي، خو وراني دومره ډېره نه ده شوې، ډېری کورونه روغ او جوړ دي. د سيمې اوسېدونکي بېخي نشته، يو

ketabton.com - The Digital Library

افغاني بشر هم نشته. ښار رنګ شوی او خراب شوی نه دی، خو خالي شوی دی.

په روخه کې داسې څه نشته چې وکتل شي، خو په هغې کې ګرځېدل ختر لري، ځکه چې هرې خواته په ځمکه کې ماینونه دي. مارشال په هغه دوه پوړيز پراخ کور کې غونډه جوړه کړه، چې هلته بولنتون (قرارګاه) ځای پر ځای شوی وو. پر دېوالونو په روسي او دري ژبو سره شعارونه ليکل شوي ول. داسې پوسترونه او انځورونه ځوړند شوي ول چې سړي په حافظه کې نه شو ساتلای. دا دي هغه درې افغانان، چې ازادې شوې روخې ته د ولسي واک د بيا په پښو درولو لپاره رالېږل شوي دي. دا د سلاکارانو نوې اختراع وه. سالمه نظريه وه، داسې اټکل کېده، چې وګړي به د ازادوونکيو هرکلی وکړي، پر بانډيستي ظلم به لعنت ووايي، خو د هغو څو کسو افغانانو دنده داده چې توپاني جوش او خروش په جوړښتيايي کړنلاره برابر کړي.

ايډيولوژيکي مفکوره ډېر وخت ساتل شوې وه. د څو افغانانو دغه ډله له ازمايښت شويو، له کابله رالېږل شويو انقلابيونو جوړه شوې وه، خو په دې مفکوره کې يوې نيمګړتيا شتون درلود. افغانان په پردو باور نه لري. په هيڅ ډول سپارښتنې سره څوک هغوی دې ته نه شي اړ کولای، چې پر کوم پردي سړي باور وکړي. دا کار شونی نه دی. په پنجشېر کې چارې ستونزمنېدې (او که اسانېدې؟)، ځکه چې وګړيو په يوه خوله او اتفاق سره خپل ځايونه خوښ کړل، نو د راټولولو او سازمان ورکولو لپاره څوک نه وو پاتې، خو کله چې وګړي راستانه شول (وګړي په ۱۹۸۷ – ۱۹۸۸ ز کلونو کې راستانه شول) بيا

ketabton.com - The Digital Library

نو سازمان ورکوونکي نه ول. زمونږ پوځیانو په بشپړه توګه د دغې ادعا لپاره ثبوت درلود، چې پوځي برياليتوبونه په وګړيو کې د سياسي کار په ترسره کولو سره نه پياوړي کېږي. د پوځي برياليتوبونو د ځانګړنې په اړه خبرې په مخ کې دي.

د روخې مرکزي سازمان ورکوونکې هسته په غونډه کې غلې، غمجنه، د لسګونو سرو، دنګو، زړورو جنرالانو او ځو زړورو ډګروالانو په منځ کې بې نښانه او عادي ناسته وه. په غونډه کې داسې مهم څه نه وو، چې ښرګند شوي واى او خبرې پرې شوې واى. دوښمن له ټکره ډډه وکړه او يوازې په دې اړه خبرې کېدې، چې افغاني ګارنيزيونونه او امنيتي پوستې بايد ځاى پر ځاى شي.

پر نقشو څومره د حيرانتيا وړ نظم شتون درلود. د هغوى له مخې د پنجشېر د ساتنې (دفاع) د پلانونو په اړه رپوټ ورکول کېده! زرغونه، شنه، سره مثلثونه، مربع ګانې، بېلابېلې کرښې پکې دومره وې چې زړه پرې خوشال کېده او داسې برېښېده چې هرو مرو به هر څه سم شي. هغه پوځ چې د داسې ښو نقشو له مخې کار او کارندتيا کوي امکان نه لري چې جګړه وبايلي. لکه چې د غونډې د نورو ګډونوالو په سرونو کې هم همدغه اندونه شته دي؛ د يوه بريمن ميټينګ فضا رامنځته کېږي.

خو مارشال د کوم څه په اړه اند ېښمن ښکاري. هغه په پام سره خبرو ته غوږ نه دى نيولى او په خپل غم کې ډوب دى.

ketabton.com - The Digital Library

-دوښمن چیرته دی؟ دوښمن ولتوئ. هغه ښایي چیرته په کوم نژدې تنګي کې پټ شوی وي.

-ښه مارشال صاحب. موږ پوستې، ګزمې، چورلکې لرو.

هغه څوک چې په پوځي رازونو پوه نه وي، د هغه لپاره داسې نور او داسې نور په شان خبرې د پوهېدو وړ نه دي، خو رپوټ ورکړ شوی وو چې له ۳۰۰۰ یاغیانو یې ۱۷۰۰ وژل شوي دي او هغه نورو یې وژل شوي کسان او د هغوی وسلې له ځانو سره اخیستې او د جګړې له ډګره وتلي دي. ستاپ! ستاپ! صبر وکړئ! څنګه ۱۳۰۰ ژوندي پاتې شویوکسانو وکولای شول چې دومره لوی شمېر وژل شوي کسان او د هغوی وسلې له ځان سره یوسي؟ او له دومره سرزیانه وروسته هغوی کولای شي، چې زموږ ځواکونو ته ګواښ پېښ کړي؟ دا د بولنتون (قرارګاه) د سړي ساده پوښتنې وې، چې په ساده توب سره یې د پوځي بولنتون (قوماندانۍ) له خوا د برې په اعلامیو باور کاوه. د یاغیانو هغه شمېر کسان، چې ژوندي پاتې شوي ول، هغوی نه شو کولای چې دومره لوی شمېر وژل شوي کسان له ځانونو سره یوسي، ځکه چې په اصل کې له هغوی څوک نه وو وژل شوي. احمد شاه د خپلو هغو څارګرو له خوا، چې د افغانستان په دفاع وزارت کې ول، د عملیاتو او یرغل د چمتو کېدو په اړه مخکې له مخکې خبر شوی وو او د ګوزار له ګواښه یې نه یوازې خپل جګړه ییز ټولګي ګوښه کړل، بلکې د پنجشېر ټول اوسېدونکي یې هم له خپلو سیمو وایستل. زموږ توپچي، هوایي ځواکونو او زموږ ټانکونو د غرونو په تشو لمنو، په تشو پرې ښودل شویو کلیو، بې خلکو لارو باندې

ketabton.com - The Digital Library

ډزونه کول، د ناموجود دوښمن ساتنه (دفاع) يې ماتوله. د ديسانت ډلې چې به راښکته شوې، نو پر شاوخوا سيمو به يې اوربل کړ، خو دوښمن به په دغو سيموکې نه وو. په پوځ کې توره اوازه خپره شوه، چې موږ خپل ديسانت په لاس لرونکيو لمنو کې ښکته کړی او د تېرېدو نه وړ تنګي کې راته د سرو مال ډېر زيان اوښتی دی. په داسې حال کې زموږ د جګړه ييز او ناجګړه ييز سرزيان احصايې له واقعيت سره همدومره لږ تماس درلود ، لکه څومره چې د دوښمن د سرزيان ارقامو درلود. د مخامخ لوري (دوښمن) د سرزيان د شمېر نيولو ميتود په تصادفي ډول څرګند شو. په داسې حال کې چې دوښمن خپل مړي له ځان سره وړي وي څنګه کېدای شي چې د هغه سرزيان دې وشمېرل شي؟ داسې څرګنده شوه چې دا کار په ډېرې اسانۍ سره کېږي. په جګړه کې د لګول شويو مهماتو ټول شمېر، په د ټل لپاره منل شوي ضريب «کويفيځېنت» وېشل کېږي. په دې ډول شمېر نيول کېده، چې له ۱۹۸۲ ز کاله تر ۱۹۸۲ ز کاله دوښمن له خپلو ټولو عمومي وسله والو کسانو، چې شمېر يې ۴۵۰۰۰ دی، هر کال ۳۰۰۰۰ کسان له لاسه ورکول.

ښکاره خبره وه چې مارشال د دغو ضريبونو، د سرزيان د ارقامو، د پنجشېر د عملياتو په خاطر د سرو زرو ستورو په بيه ډېر ښه پوهېده، له همدې لامله هغه په چورت کې ډوب وو. د احمد شاه کوم پلوی چې انجينير اسحاق نومېد، د ۱۹۸۸ ز کال په پای کې د سعودي عربستان د طايف په ښار کې وويل، چې په پنجشېر کې د عملياتو د سرته رسولو لپاره د چمتووالي په اړه هغوی له افغاني سرچينو نه، بلکې له شوروي سرچينو مالومات تر لاسه کړي دي. دا شونې نه وه چې مارشال سوکولوف دې له احمد شاه مسعود سره د

ketabton.com - The Digital Library

خپلو ځارگرو افسرانو له پټو اړیکو خبر نه وي. تماسونه د پوځي بولنتون (قوماندانۍ) د سپارښتنو له مخې ترسره کېدل، خو دا کار له مسکو او په کابل کې له شوروي استازو په پټه کېده. له احمد شاه سره اړیکي ټینگ شول، ان تر دې چې دوستانه او صمیمي شول (۲) او په دغه حالت کې دغه خبر باید (مارشال سوکولوف) په فکر کې ډوب کړی وای. سربېره پر دې، د عملیاتو د ترسره کولو خبر تر ټولو وروسته افغاني پوځي بولنتون ته ورکول کېده، چې د عملیاتو پلان جوړ کړي.

هماغه اسحاق د احمد شاه د سرزیان شمېر ۱۵ کسه یاد کړ. درواغ یې وویل، باندېیست لکه چې غوښتل چې په دې خبره موږ دردمن کړي.

جگړه، جگړه ده. موږ په روخه کې د دغه متل په سموالي یو وار بیا ډاډمن شو. مارشال ته رپوټ ورکړ شو چې د دوښمن د وسله والو ډلو پر دریځ (موقعیت) زموږ هوایي ځواکونو همدا اوس یرغلیز گوزار وکړ، سرزیان نشته. وروسته د کوم چا له خولې ووتل، چې هوایي ځواکونو همدلته په پنجشېر کې نوي مدرن اغېزمن (د لوړ طاقت) بمونه غورځولي، خو له اړین لوړوالي یې نه دي غورځولي، همدا لامل وو چې بمونه نه دی چاودېدلي او د هغوی د له منځه وړلو لپاره پلټونکې ډلې چمتو شوې دي.

په روخه کې غونډه د برې په نښې سره پای ته ورسېده. په دې کې درې کاله تېرېږي او احمد شاه چې غښتلی شوی، پنجشېر ته له ۳۰۰۰ نه، بلکې له ۱۰۰۰۰ جنگیالیانو سره راستنېږي. له دې نه لږ مخکې په روخه کې افغاني سازمان ورکوونکې هسته کومې خواته ورکېږي او یو وار بیا دوښمنانه ځواک کابل

ketabton.com - The Digital Library

او هغې يوازينۍ لارې ته ګوابنېږي، چې د افغانستان پلازمېنه او شوروي اتحاد سره تړي.

اوس يې ټول کاروونه سرته ورسول، غونډه يې پای ته ورسوله، په چورلکه کې سپاره يو او د زمردو پر زرغونه دره پر اسماني رنګه سيند له پاسه الوتنه کوو، د کابل په لور کور ته روان يو، د مارشال شاهي مانۍ ته ځو چې هلته د عملياتو ټولو ګډونوالو ته د هغوی د خدمت په پار د غرمې ډوډۍ انتظار لري.

د مېزونو شاته د کېناستو ځای لږ تنګ دی. ډوډۍ ساده غوندې سرويس شوې ده، سفري خواړه پرېمان دي، شراب لا پرېمان دي. ښه سکاټلېنډۍ ويسکي او روسۍ ودکا. د مېز په مشرتابه کې مارشال سوکولوف، په څنګ کې يې د غويي انقلاب اتل، له نېستمنې بزګرې کورنۍ څخه د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت د دفاع وزير عبدالقادر ناست دی. هغه توربخونه څېره لري، لاس او پښې کېږي، کله پاڅېږي او د خپلو بوټانو د پوندو د ټک ټک غږ وباسي. له مارشال سره د هغه اړيکي څرګند دي: چټک او ګړندی شاګرد او مهربان استاد. پر راتلونکي لنډمهال دا مالومېږي چې د قادر شخصي موټروان له احمد شاه مسعود سره همکاري لري، خو ډېر وخت وروسته خلک دې ته هم پام کوي چې پخپله د وزير د رول په اړه فکر وکړي. هغه مهال کله چې هغه له دندې ګوښه شوی او تقاعد شوی وو، نو خپل ملګري ته يې په ډېره جدي او پټ ډول په دې اعتراف وکړ، چې دی تل د افغانستان د اسلامي جميعت د مشر ب. رباني پلوی وو، خو دا ټولې کيسې

ketabton.com - The Digital Library

وروسته راځي. اوس د ملګرتوب او غرمې ډوډۍ دوام لري. وزير لاس او پښې کېږي، مارشال ډېرې لږې خبرې کوي، په لوړ غږ سره د مشرتابه د روغتيا او برې په خاطر وچ شعارونه وايي. د ساقي دنده ډګر جنرال ش (د الوتکې د راغورځېدو له لامله ووژل شو) پر غاړه اخيستې ده. ښه برابر نيم نيم ګيلاس اچوي. مارشال ورته ګوري او د سر په اشارې سره مننه ترې کوي. قادر نېشه کېږي او د ښه ملګرتوب په احساس سره داسې هيجاني شعارونه ورکوي، چې سړی پرې سم نه پوهېږي، چې دی اوس سندرې وايي او که ژاړي، خو وخت جګړه ييز دی او مېلمانه دا نيت نه لري چې د کمپاين په وړاندې خپل زړه راخلاس کړي او هر څه رسوا کړي. د غرمې ډوډۍ وخت ژر پای ته رسېږي.

پنجشېر: دا د افغاني جګړې تر ټولو لوی عمليات ول. د دغو عملياتو له برکته د باندې مشر احمد شاه د دولت د کچې په يوه لوی شخص باندې بدل شو، هغه ته يې نړيوال نامتووالی ور په برخه کړ، هغه ته يې له امريکا له متحدو ايالتونو او اروپا د پيسو او وسلې د لوی بهير لار پرانيسته.

«مسعود» ياني «نېکمرغه». احمد شاه تاجک دی او دا احتمال شته چې د هغه د اسلامي غورځنګ نور پښتانه انډيوالان به يې سر ورپرې کړي. احمد شاه له پښتنو کرکه لري او هڅه کوي، چې تر خپلو آرونو (اصولو) لاندې د شمال ټول قومونه سره يو موټی کړي.

* * *

ketabton.com - The Digital Library

د ۱۹۸۲ ز کال د فبرورۍ میاشتې له ورځو نه یوه ورځ د کابل په پوځي هوایي ډګر کې د ایرفلوت یوه مسافر وړونکې الوتکه ښکته شوه، چې له مسکوه یې ځانګړې الوتنه کړې وه او د خلکو پام ورته دومره ډېر نه اوښت. پوځي هوایي په بشپړه توګه د شوروي پوځیانو له خوا څارل کېده. افغاني لوري ته د مسافرو د راتګ او یا هم د بارونو د راوړلو په اړه مالومات نه ورکول کېدل، همدا لامل وو چې دغې الوتکې د چا پام ځان ته وروا نهړاوه. د اپوزیسیون خبر رسوونکیو یوازې دومره کولای شوای، چې الوتکه د راښکته کېدو پر مهال ووینې.

یوې کوچنۍ ډلې رارسېدلي مسافر ژر ژر په موټرونو کې ځای پر ځای کړل. په مخ کې یې د افغاني ترافیکو ګاډی، چې په افغاني نښو سمبال وو، خو موټر چلوونکی او نور ورسره کسان یې شورویان ول، روان وو. همدا راز څه نور موټرونه چې شوروي وسله وال ساتونکي پکې ناست ول هم ورسره وو. د سورلۍ دغه کاروان د کابل پر له واورو ډکو کوڅو د دارالامان او د شوروي اتحاد د سفارت په لور روان شو. د سفارت دروازې ته نږدې موټرونه کینې خواته راتاو شول، څو سوه متره وړاندې ولاړل او د یوه دوه پوړیز کور په مخ کې ودرېدل. دغه دوه پوړیز کور په کابل کې د کې. جي. بي د استازیتابه له خوا د دې لپاره په کرایه نیول شوی وو، چې په هغه کې له ځینو لوړپوړیو چارواکیو سره ځانګړې پټې لیدنې کتنې ترسره شي او له مسکوه راغلي لوی او مهم مېلمانه پکې ځای پر ځای شي. په دغه هوسا او پاک کور کې، چې له بیګانه نظره په یوه څلوردېوالي سره پنا شوی وو، کابل ته راغلی د شوروي

ketabton.com - The Digital Library

اتحاد د کمونیست گوند د مرکزي کومېټې د سیاسي بیورو غړی او د کې. جي. بي رئیس یو. و. اندروپوف د دوو ورځو لپاره مېشت شو.

ټول هغه څه چې په افغانستان کې د شوروي لوري له خوا سرته رسېدل، د رازونو په پردو باندې پټېدل. د اندروپوف سفر یو پټ سفر وو، چې د شوروي اتحاد د مشرتابه ډېر لږ کسان پرې خبر ول.

اندروپوف په کابل کې د شوروي مؤسسو له ځینو مشرانو، همدا راز له ب. کارمل او نجیب الله سره جدي او مهمې لیدنې کتنې وکړې. د دغو دوه اړخیزو خبرو اترو په پایله کې یوه داسې ستراتېژیکي دنده طرحه شوه چې د ۱۹۸۲ ز کال په بهیر کې به د افغانستان په خاوره کې ټول وسله وال باندونه شنډوي او له منځه به یې وړي. همدا راز دا پرېکړه هم وشوه چې د پاسنۍ یادې شوې دندې په سرته رسولو کې به په پوځ باندې ډېر فشار راوړي او ډېر کار به ترې اخلي. داسې برېښېده چې ډېر هغه شوروي پوځي کارپوهان، د کې. جي. بي اوپراتیفي کارکوونکي، چې له دوښمن سره مخ شوي ول، په دغه وخت کې یې د دغې دندې پر سرته رسولو باور نه درلود او هغوی په دې ډېر ښه پوهېدل، خو په افغانستان کې د شوروي پوځ په ډېروالي او د افغانانو ترمنځ په جګړه کې د شوروي وسله والو ځواکونو په پراخ ګډون سره د افغاني لیډرانو ګټې ساتل کېدې، ځکه چې اوس نو هغوی په خپل وسله وال پوځ حساب نه کاوه.

په خواشینۍ سره چې نه خو اندروپوف، نه د هغه د سیاسي بیورو همکارانو، نه هم د افغانستان په اړه ګڼ شمېر کارپوهانو دا توان درلود، چې

ketabton.com - The Digital Library

د افغانستان د وضعې عيني شننه وکړي. زموږ په هېواد کې د جګړې له وختونو راوروسته د «باند»، «ډلې ټپلې»، د «باند مشر» کليمې، چې زموږ د دولتي امنيت د ارګانونو په نومونو کې يې کلک ځای نيولی وو، زموږ ارګانونو له ځانو سره افغانستان ته يوورې. لکه څنګه چې تل داسې پېښېږي، پروپاګنډي لېبلونه تل د دې مزاحمت کوي چې سړی په واقعيت ځان پوه کړي. همدا لېبلونه د مسايلو شننه په عادي چوکاټونو سره محدودوي. د ۱۹۸۲ ز کال په پيل کې، زموږ د لوري ډېرو کمو او زړورو خلکو دا زړه کاوه او په دې يې ټينګار کاوه چې زموږ پوځ او د کابل مشري د باندېستانو په وړاندې نه، بلکې د افغاني مسلمانانو او د افغان ولس له لويې برخې سره جنګېږي. د لوېديځو هېوادو له خوا چې به دا ډول ځرګندونې وشوې، نو هغه به د دوښمنانه پروپاګند او درواغو په نامه يادېدل. د هغوی په پرتله کې که سړی له عدالته تېر نه شي، نو په رښتيا هم همدغسې وو. لوېديځ د ځان لپاره افغاني ټولنه هماغسې خرابه تمثيلوله لکه مسکو چې تمثيلوله.

د بېلګې په توګه، په هغه وخت کې اندروپوف په خپل برجسته او پياوړي ذهن سره وکولای شول په دې اعتراف وکړي، چې موږ له پراخ باندېتيزم سره نه، بلکې له ولسي ټينګار (مقاومت) سره مخامخ شوي يو او افغاني ټولنه د غويي انقلاب له ارمانونو ، مفکورو او پرمخ تللي سوسياليزمه نه، بلکې د اسلام له دين، او د خپل هېواد له دودونو الهام اخلي. د ۱۹۸۲ ز کال شوروي سياست کې دا ډول انديښنو ځای نه درلود. د دغسې نظر وړاندې کول به په افغانستان کې د ټول شتون او ګام د ماتې مانا درلودلې وای.

ketabton.com - The Digital Library

د باندونو د له منځه وړلو کړښه، د افغاني واقعیاتو له مخې دومره سخته او ظالمه نه وه طرحه شوې، لکه څومره چې د شوروي واقعیاتو له مخې طرحه شوې وه. هغه یوه ستراتېژیکي تېروتنه وه چې یوازې په۱۹۸۲ ز کال کې یې په سمولو پیل وشو.

...اندروپوف په داسې حال کې له کابله وخوځېد چې سخته واوره او ګردله وه. په هوايي ډګر کې د واورو پاکولو درنو موټرونو ایله په ایله په واوره پاکولو پسې ځانونه رسول او د الوتنې پټاره یې پاکوله. بېخي په څو متره واټن کې څه نه لیدل کېدل. هېڅ یوه پیلوټ به دا زړه نه وای کړی چې په دغسې هوا کې الوتکه هوا ته پورته کړي، خو هېچا او هېڅ شي نه شو کولای چې د کې. جي. بي رئیس په کابل کې تم کړي. هغه دلته خپله دنده ترسره کړې وه او په مسکو کې ورته بېړنۍ چارې منتظرې وې. اندروپوف یو پرېکند او بې صبره سړی وو. پیلوټان زړور، مېړني، بادسپلینه او ماهر خلک ول. د کې. جي. بی د ریس په امر الوتکه والوته او د مسکو لوری یې ونیو.

کابل ته د یوري ولادیمیروویچ اندروپوف لنډ سفر ناڅاپي او ناوړه پایلې درلودې. د افغان پلازمېنې ډېر نایاب مېلمه لږ تر لږه وکولای شول چې د ګېډې له ناروغۍ پرته له هغې ووزي. اندروپوف بختور وو. هغه د کووي په ناروغۍ اخته شو. داسې برېښېده چې په لومړي سر کې ډاکتران په دې پوه نه شول، چې د کوم ډول ناروغۍ درملنه باید وکړي. د ناروغ روغتیایي حالت ډېر ژر ژر نه رغېدونکی کېده، خو دا کومه معجزه وه چې اندروپوف لـه مړینې وژغورل شو، خو راتلونکی ژوند یې تر دوو کالو هم لږ پاتې وو.

ketabton.com - The Digital Library

* * *

د ۱۹۸۸ ز کال اگستې جلال اباد، د افغانستان د پخوانیو ټولواکانو (پاچاهانو) د ژمي د اوسېدو ځای، چې زموږ پوځ پکې ځای پر ځای شوی وو، خو د می میاشتې په نیمایي کې ترې وتلي ول. اوس دلته دویمه شمېره افغاني قول اردو پرته وه، چې د شوروي پوځ له سیده ملاتړه پرته یې دفاع کوله.

دلته وضعه زموږ د پوځیانو له خوا، مخکې له مخکې له عقل او تصوره لرې بل ډول اعلان شوې وه. داسې اټکل کېده چې زموږ د «محدودو پوځي ټولگیو» له شاته تگ سره سم به افغاني دفاع رنگه شي، سیمه بیز چارواکي به زموږ په شوبلو (ټانکونو) پسې رامنډې کړي او یا به هم زموږ تر شوبلو مخکې شي او تشه به دوښمن ډکه کړي. په دې کې مجاهدینو لوړه اسلامي روحیه، د هغوی تر ټولو ښه! وسله او همدارنگه د افغانستان په وسله وال پوځ کې د خپلمنځي گوندي هاندو هڅې تباکوونکي اغېز په پام کې نیول شوی وو. زموږ پوځیانو په بشپړه توگه په دې ټینگار کاوه، چې په هېڅ صورت سره باید یو جگړه بیز پوځي ټولگی هم جوړ نه شي، ځکه چې له پرچمیانو د خلقیانو کرکه کېږي او پرچمي مشری هېڅ دا اجازه نه ورکوله چې د خلقیانو له شمېره کوم پوځي بولندوی چې بااستعداده وو او په جگړه کې ازمایل شوی وو، دې مخکې ولاړ شي او لږ لوړه څوکۍ دې ونیسي. (که چیرې دې مسایلو ته په عیني ډول لید وشي، نوموړ تل د هغوی د گوندي بې اتفاقۍ اور ته لمن وهله او تېل اچول. پوځیانو په همدردۍ سره د خلقیانو

ketabton.com - The Digital Library

شکایتونو تـه غـوږ نیوه. د افسرانـو ډېری خلقـیان ول. افغانـانـو د دغې همدردۍ په لټه او ناکارندتیا ته په برائت ورکولو سره په خپلو غمونو کې مبالغه کوله ) په خلقي او پرچمي بې اتفاقۍ سره يې هغوی په دې ډارول، چې هلته یا دلته او یا به هم له پلانکي ځایه زموږ پوځ ووزي.

خو جلال اباد لا تر اوسه پورې ولاړ دی، ټینګار کوي او اوس نو چې هغه کلک ولاړ دی لامل يې دا دی چې شوروي هوایي ځواکونه پـه دوښمن ګوزارونه کوي. خلقي او پرچمي بې اتفاقي هم افغانانو هېره کړه او هم زموږ خلکو.

د می له میاشتې تر اګسته د جلال اباد پر خاوره د شوروي انسان پښه نه ده لګېدلې، ځکه چې پر افغانانو باید سړی دا باور ونه کړي، چې خپل امنیت هم هغوی ته په واک کې ورکړي! اړینه نـه ده چې سړی ځان پـه ختر کې واچوي!

و. ا. کریوچکوف پر دې ټینګار کوي، چې باید جرئت وشي! د اګسټ د میاشتې پر ۹ ماخوستن زموږ ډله او د افغانستان د دولتي امنیت وزیر غ. یعقوبي ان-۲۲ ډوله الوتکې ته ورننوزي. هوایي ډګر روښان نه دی. د الوتکې ګردۍ کړکۍ په پردو باندې پټې دي. هرې سورلۍ (مساپر) تـه پراشوټ وراغوستل کېږي. له پراشوټ سره سړی ځان ناهوسا احساسوي، د سړي په خېټه فشار راوړي. د ناارامۍ حالت احساسېږي. د ساري په توګه سړی دې ته اړوزي، چې له پراشوټه کار واخلي. لومړی خو دا چې مالومه نه ده د هغه کړۍ ته به د سړي لاس ورسېږي او کش به يې کړي که نه. خو د ساري په توګه د

ketabton.com - The Digital Library

پراشوټ کړې دې کش کړه  او ته د شپې په تیاره کې په هوا کې ورو ورو ښکته پر غرونو ورروان یې، هلته په غره کې به څه پېښېږي؟ خدای دې هغه ګړۍ نه راولي، چې یوه یا دواړه پښې دې ماتې شي او د دوښمن په منګولو کې ښکېل شې. خپله توپانچه دې هم مرسته درسره نه شي کولای، ځکه چې له الوتکې د ټوپ وهلواو یا هم پر ځمکه د لګېدو پر مهال ښایي له پوښه وغورځي. د سړي په سر کې چټې فکرونه، چې له نارینه سره نه ښایي، تېرېږي. په خواشینۍ سره چې هغوی زما په سر کې تېرېدل او د عینیت په پار باید په یادښتونو کې ورته ځای ورکړ شي.

په الوتکه کې څراغونه مړه شول. د پیلوټ شین لاسي څراغ په لاس ژر ژر یې الوتکه وکتله، چې هر څه باید سم وي او د ختیځ په لور یې الوتنه وکړه. مهمه داده چې الوتکه لوړوالی ونیسي. د کابل شاوخوا سیمې څو څو واره تلاشي شوې او څارل شوې دي. د عملیاتو په بهیر کې هر متر مربع کتل شوی دی. هرګوره د رپوټونو له مخې، توغندي بیا هم له کومې خوا راځي، پر ښار او پر هوايي ډګر لګېږي. ربښتیا دا چې په کابل او د هغه په شاوخوا کې پر الوتکو ډزونه کېږي. په ۱۹۸۲ ز کال کې د ایل-۷۶ ډوله یوه باروړونکې الوتکه راولوېده او له منځه ولاړه، خو لکه د تل په شان لاملونه یې مالوم نه ول. یو اتلوال ځېل (وریانټ) یې، چې د ټولو خوښېده، دا وو چې الوتکه د دوښمن په توغندي ویشتل شوې ده. نثري او معمولي ځېل یې دا وو چې تخنیکي عوارض یې درلودل. یو بل ځېل یې دا وو چې په الوتکه کې بار سم نه وو تړل شوی، د تاوېدو پر مهال بار له خپل ځایه بې ځایه شو او الوتکې ونه شو کړای چې بیرته ځان سم کړي.

ketabton.com - The Digital Library

الوتکه باید نېغ لوړوالی ونیسي او د ختر سیمې ته ونه وزي، نو کوچنۍ کوچنۍ دورې وهي. ټولې نه، خو ډېری الوتکې په دفاعي سامان الاتو سمبال دي. د الوتنې پر مهال ځانګړي تودوخیز څراغونه ویشتل کېږي، چې د جوړوونکیو او انجینیرانو په وینا باید هغه اتومات توغندي، چې تودوخه تعقیبوي، هغه باید د ځان لور ته ورکش کړي. ستونزمنه ده سړی ووایي، چې دغه اوزار څومره اغېزمن دی، خو ما یو ژوندی شاهد هم ونه لید ، که څه هم له دغو چارو سره ما مینه هم درلوده.

الوتکه له ډېر غورهار سره ټاکلي بې ختره لوړوالي ته پورته کېږي. په دې کې ۲۰ دقیقې تېرېږي. لاندې کابل د یوه روښان داغ په څېر ښکاري، چې شاوخوا ترې توره تیاره چاپېره ده. روښان داغ ورو ورو تیاره او له لوړو غرونو پنا کېږي.

ښکته ډېر لري د اور بځري روښانېږي او بیرته ورکېږي، لکه د اورلګیت خلی چې ووهې. دا زموږ او یا خو د افغاني توپچي پر نامالومو موخو (هدفونو ) ډزونه کوي. الوتنه ډېر ځنډ نه کوي، الوتکه ورو ورو په ښکته کېدو پیل کوي.

د جلال اباد هوایي ډګر هم روښان نه دی. د الوتنې د پټارې په پای کې موټر ولاړ دی او کله چې الوتکه د الوتنې پر پټاره په ښکته کېدو کېږي، څراغونه بلېږي. موږ له الوتکې ژر ښکته کېږو. ان-۲۲ ډوله الوتکه ځای پر ځای راتاوېږي او بې له یوې دقیقې ځنډه د شپېني اسمان په لور پورته کېږي. د هغې د الوتنې په لور له ځمکې څو سره ټکي پورته کېږي. دا رسام ګولۍ وې.

ketabton.com - The Digital Library

له لرې د دغو ګوليو الوتنه ګرندۍ او ډاروونکې نه ښکاري. د ډزونو غږونه موږ ته نه رارسېږي.

نیمه شپه ده، هوا لنده، ډېره توده او درنه ده. کمیس سملاسي په بدن پورې نښلي. په کوڅو کې هېڅوک نشته. د کوڅو لږ شمېر څراغونه ارام بلېږي. کولپ شوې هټۍ، د کورونو غلي دېوالونه، پوسترونه او سره شعارونه روښانوي. «زموږ اردو د زیارکښ ولس ساتونکې ده!» او داسې نور نور. پر دې بله ورځ مالومېږي چې په ښار کې د تبلیغاتي پاڼو او پوسترونو بېلګې بېخي ډېرې دي. ستونزمنه ده سړی ووایي چې د دغو بیدارو شعارونو د لوستلو او یا هغوی ته د لید کولو په وخت کې د جلال اباد د خلکو څه ډول احساسات راپارول کېږي. فکر کېږي چې هېڅ ډول احساسات یې نه راپاروي. زموږ یو بې تېروتنې احساس راپاروي، هغه دا چې په دغو شعارونو کې زموږ د سلاکارانو فکر ښه کار کړی دی. دغه شعارونه له اصلي وضعې سره په انډول کې موږ ته هغه شعارونه راپه یادوي، چې په لسګونو کاله زموږ د ښارونو په کوڅو کې ځوړند ول. په شعارونو کې هغه کلیمې کارول شوې، چې زموږ په شعارونو کې لیدل کېږي. ریښتیا دا چې په ځینو ځایونو کې د ب. کارمل چټل شوي او څیري شوي عکسونه هم لیدل کېږي. که څه هم ډېر وخت کېږي چې هغه افغاني لیډر نه دی. ښکاري چې کوم چا خپل کار سم سرته نه دی رسولی. زموږ د تبلیغ او ترویج د قوانینو له مخې دغه عکسونه باید بېخي لرې شوي او یا خو سم سریښ شوی وای. دا خو یا د ټولیزې لټې، بې علاقه ګۍ نښه ده او یا هم د ژوند د کوچنیو مسایلو په وړاندې بې پروایي ده.

ketabton.com - The Digital Library

موږ د ننګرهار ولایت د دولتي امنیت د اداري په ودانۍ کې ځای پر ځای کوي. دا د اپوزیسیون د یوه لوی مشر ، د ملي اسلامي جبهې د مشر س. ا. ګیلاني کور دی. هغه اوس د لندن‌مهال لپاره له پولې ها خوا ته په پېښور کې مېشت دی.

کور لوی او پراخ دی، خو داسې ښکاري چې چندانې پام ورته نه کېږي. د دروازو کولپونه یې ځینې مات شوي دي. د برېښنا مزي یې په ځینو ځایونو کې پرې شوي دي. دېوالونه یې د لاسونو د لګېدو له لامله تور او غوړ شوي دي. غولی یې وران او ناهوار دی. که چیري ګیلاني د خپل کور دغه حالت لیدلی وای، نو هرو مرو به خواشینی شوی وای، خو ترمیم یې دومره لوی لګښت نه غواړي. مهمه دا ده چې کور جوړ دی، بڼ یې جوړ دی، چې یوه ګړندۍ ویاله پکې بهېږي او لویې ونې پکې ولاړې دي.

داسې ښکاري چې د کور اوسني خاوندان په خپل لندمهالتوب باندې پوهېږي، ځکه خو د ګیلاني په اړه له یوڅه درناوي سره خبرې کوي. هغه له کوچنیو اپوزیسیوني ګوندونو د یوه ګوند ساده مشر نه دی او یا خو لکه د انقلابي-ایډیولوژیکي یرغل په پړاو کې چې به یې دا ډول په دې نامه یادول، لکه د انقلاب ضد ځواکونو مشر. د سید احمد ګیلاني د کورنۍ شجره د اسلام د ستر روحاني عبدالقادر ګیلاني را پیل شوې ده. عبدالقادر ګیلاني د ۱۲ پېړۍ په نیمایي کې په بغداد کې خاورو ته سپارل شوی دی. هغه د قادریې ټولنې بنسټ ایښودونکی وو. د دغې کورنۍ ځینې غړي د هماغه عبدالقادر ګیلاني د ارامځای د ساتونکو په توګه پاتې شول، خو د کورنۍ یوه بله

ketabton.com - The Digital Library

ځانګه يې د ۲۰ پېړۍ په سر کې افغانستان ته راغله س. ا. ګيلاني د همدغې ځانګې مشر ، روحاني ښوونکی او نژدې د دوو ميليونو هندي، پاکستانی او افغاني مسلمانانو پير دی.

سخته ډېره ګرمي ده. د ماسپښين پر مهال د ګرمۍ درجه له ۴۰ درجو هم اوړي. هغه کوټې چې کولرونه لري، د يخچال په شان دي، خو په هغو کې هم لږ تر لږه د هوا د تودوخې درجه مثبت ۳۰ ته رسېږي.

د والي په لور وخوځېدلو:

د ښار په کوڅو کې عادي سوله ييز ژوند دوام لري. کوچني هلکان يوې او بلې خواته منډې وهي. هتۍ، پرانيستې او له توکيو ډکې دي. د ښار اوسېدونکي يې له کومې بېړې سره په خپلو کارونو پسې روان دي. ولايتي چوپتيا او ارامتيا شتون لري. ربښتيا ، پرون ښار په رياکتيفي توغنديو ويشتل شوی دی چې ۷ کسان پکې وژل شوي دي. په ټوليز ډول دلته چوپتيا تلپاتې او ډاډمن څيز نه دی، غوږونه بايد څک وساتل شي.

د والي کور ته نژدې د خلکو ګڼه ګونه ده. ځينې خلک پر واښو ولاړ دي او يا څو څو کسه يوځای ولاړ دي، والي ته د ورتګ انتظار باسي. ښايي چې نن دلته خلک د تل په پرتله لږ وي او د نظم ساتونکي ډېر وي، ځکه چې بهرني مېلمانه راغلي دي.

والي وکيل اعظم شينواری په دې تېره لنډه موده، د مۍ مياشتې په نيمايي کې پر دغه څوکۍ ګومارل شوی دی. هغه له انقلاب نه مخکې وختونو کې د

ketabton.com - The Digital Library

پارالمان وکیل و او له هماغه وختو نه یې د «وکیل» ویارمنه کلیمه له نامه سره یوځای شوې ده. د ۱۹۷۸ ز کال د اپریل له میاشتې وروسته له خپلو ډېرو هم قومي پښتنو شینوارو سره یوځای پاکستان ته ولاړ. له کډوال ژونده مایوس شو او له هېوادمشر نجیب الله سره تر ډېرو پټو خبرو اترو او لیدنو کتنو وروسته خپل پلرني جلال اباد ته راستون شو.

د والي پر څوکۍ تر کېناستو وروسته یې سملاسي د ځینو پرېکنده کړنو په سرته رسولو پیل وکړ. په ښار کې یې د مشروباتو د پلور چارې بندې کړې. رنډۍ تونونه یې بند کړل. په کابل کې چارواکي، چې لوی او پراخ پروګرامونه یې ډېر خوښول، والي ډېر حیران کړل. د جلال اباد مسلمانان چې د اسلامي قوانینو د سرغړوونکیو د نارو او چیغو تماشه یې ډېره کړې وه او د نه پوهېدو ور له سیاسي ایډیولوژیکی دم او جادو سره روږدي شوي ول، سملاسي یې د نوي والي په وړاندې ډېر درناوی ښود.

د والي په دوتر کې د لږ طاقت کولر چالان دی او غوړېږي. وکیل اعظم رسمي وړینه دریشي اغوستې او سپینه پښتنه لونګۍ یې پر سر ده. مالومه شوه چې هغه یو مهربان، نیک خویه سړی دی، چې ورین تندی لري او ډېر ویندوکی (ډېرې خبرې کوونکی) سړی دی. موږ د هغه په ژوندلیک پوه شو. له کابله یې شکایتونه درلودل، هغه مو واورېدل، د توکو او پیسو له کموالي یې شکایت کاوه (دغه دی وګورئ، دې دفتر ته خلک په ډار سره د واک لوړ استازي ته راځي، ګوري چې دلته دفتر ناهوسا او چټل دی او د ترمیم لپاره یې هېڅوک پیسې نه راکوي) له سیمه ییزې ګوندي کومېټې او د هغه له

ketabton.com - The Digital Library

مشرتابه هم خوابدی وو، ځکه چې هغوی له وندیمارانو (قصابانو) نه په مالیه کې غوښه اخیسته. له ګوندیانو څخه یې نور مهم او د پراخې پیمانې شکایتونه هم درلودل (پخپله هیڅ شی هم نه شي کولای او نه غواړي چې ویې کړي، وګړي ډاربړي، خو د سیمه ییزو چارواکیو د کار په لاره کې خنډونه اچوي.)

خبرې له جوش نه ډکې، تودې او اوږدې وې. د حالاتو ډېر اړخونه روښان شول. والي ته د رښتونې مرستې او ملاتړ ډاډ ورکړ شو. درې ورځې وروسته ښار ته د باروړونکیو موټرونو کاروان راورسېد، چې اوړه، بوره او نور اړین توکی پکې بار ول.

والي له افغاني دود سره سم د هر مېلمه له مخ سره درې واره خپل مخ ولګاوه، تر موټرونو پورې یې بدرګه کړو او زموږ د موټرونو کاروان د د ا. خ. د. ګ د ننګرهار ولایت د ولایتي کومېټې په لور وخوځېد.

د ولایتي کمېټې منشي سرفراز مومند هم د سیمې د مومندو له قبیلې څخه وو. په دې وروستیو وختو کې له کابله جلال اباد ته رالېږل شوی وو. تر دې مخکې په دیپلوماتیکي کار بوخت وو. مومند یو تېز، ښوی، چټک او زړور سړی وو، چې ډېرې خبرې یې کولې، خو د ده ژبورتوب ځانګړی وو. ناڅاپه یې خبرې پیل کړې او د ارقامو په څرګندولو یې پیل وکړ: دومره کسان د ځوانانو سازمان ته جذب شوي..دومره د سولې کاروانونه جوړشوي..دومره رسالې چاپ شوې او خپرې شوې..دومره جرګې جوړې شوې دي..خو دا خبرې موږ وخته اورېدلې وې. سرفراز چې څومره ډېرې خبرې کولې، هغومره

ketabton.com - The Digital Library

څرګندېده چې په دې ښار کې دی خپل ځان ښه نه احساسوي، په وضعه خبر نه دی. داسې ښکاري چې د هغې پوهېدو او خبرېدو ته هڅه نه کوي. د ټاپه شويو ګوزاريزو غونډلو (جملو) شاته يې وارخطايي او تشوالی ښکاري. زه يې نه پېژنم، وکيل اعظم ماته تر ده ګټور شخصيت ښکاره شو. ښايي چې په هره ايډيولوژۍ کې تر ټولو مهم سالم عقل وي؟

له سرفراز سره ليدنې کتنې، چې درې واره د مخونو په لګولو او د تودو هيلو په څرګندولو سره پای ته ورسېده، يو وار بيا مونږ دې ته اړ کړو چې په خواشينۍ سره د ځينو افغاني واقعياتو، د ا. خ. د. ګ د رول په اړه چې واکمن رول يې درلود او که مخکښ، په فکر کې ډوب شو. جلال اباد ته له تګه مخکې د ګوند د دغو ستاينو په اړه بحث پای ته ورسېد او غلی شو، ځکه چې مالومه شوه چې ګوند له دغو دوو ستاينو څخه يوه هم نه لري. خو څه موده مخکې زمونږ د ګوندي سلاکارانو ترمنځ د دغه جدي مسلې په اړه سخته او غوسه ناکه مباحثه جوړه شوه. بايد وويل شي چې ډېرو لږو سلاکارانو د افغانستان په اړه څه ناڅه مالومات درلودل او ژبه يې زده وه. سلا د نړيوالو او دولتي دندو، مسايلو د په پام کې نيولو سره ورکول کېده. زمونږ ډېر سلاکاران هېواد ته راستانه شول، په داسې حال کې چې نه خو ملي روغې جوړې ته د ا. د. خ. ګ په ستنېدو پوه شول او نه هم د واکمنۍ له خيالي انحصاره د دغه ګوند په مجبوريت پوه شول. په ټوليزه توګه هغوی با وجدانه، زيارکښ او باپرنسيپه خلک ول. زه د هغوی په وړاندې نه، بلکې د په کار اچول شويو تفکراتو او کړنو په وړاندې...

ketabton.com - The Digital Library

تر دې وروسته موږ د پوځ د لومړۍ قول اردو بولنتون (قرارگاه) ته ولاړو. زړور جنرال اصف دلاور وضعه کره بيان کړه، بې له ستاينې يې د دوښمن ځواک وشنه. د جنرال په غږ او خبرو کې هيڅ ډول رېږدېدنه نه وه. هغه خپل افغانان د اور د کرښې په ها خوا او دې خوا دواړو خواوو کې پېژني، د باندونو له ډېرو مشرانو سره پېژني او هيڅ ډول کومه ناڅاپي پېښه هغه ته نه شي ورپېښېدلای. اصف له بل شي شکايت لري، هغه دا چې وتونکي شوروي پوځ هغه ته يوازې د دريو مياشتو پوځي زېرمه پرې ايښې ده. موده کوم وخت، د چا له خوا د جوړو شويو نورمونو له مخې ټاکل شوې؟ په دغه جگړه کې نورمونه نشته. دوښمن له خلاسې پولې ها خوا ښې پرېمانه رياکتيفي گولۍ، د هاوانونو کارتوس تر لاسه کوي او د کارتوسو او مهماتو په لگښت کې سپما نه کوي. په هغه ځای کې چې يو وخت به د توپک د يوه کارتوس په لگښت کې ډېره سپما کېده، اوس هوا ته ترې لاسي بمونه او توغندي پورته کېږي. زموږ لوری شمېر (حساب) نيسي، چې له نورم سره برابر شي او که نه سپکه وسله د پخوا په شان د وياړ وړ ده، خو هاوانونو ته نه شي رسېدای.

جنرال له خلقي او پرچمي بې اتفاقۍ شکايت نه درلود او له سياسته يې ډډه نه کوله. د هغه لپاره د جگړې مسئاله څرگنده ده. تر هغه وخته پورې چې دوښمن د سولې لار غوره نه کړي، له هغه سره بايد وجنگېږي. توغندي پر ښار لگېږي او په دواړو خواوو کې خلک وژل کېږي. هغه سيمه چې توغندي ترې توغول کېږي، مالومه شوې او د ډلې بولندوی يې مالوم شوی دی. په دې شپو ورځو کې به د هغوی پر دريځ گوزار وشي. بيا به نو پر ښار د توغنديو توغول بند شي. (کله چې موږ کابل ته ولاړو همدغسې هم پېښ شول) په نه

ketabton.com - The Digital Library

رغېدونکې توګه هغه پوځ شنډېږي او تبا کېږي، چې له فزيکي پلوه نه، بلکې له رواني پلوه مات شوی وي. خو د اصف پوځ له منځه نه ولاړ (دا په بشپړه توګه يوه غيراحتمالي خبره ده) د هغه پوځ وکولی شول چې د شوروي پوځ او زموږ د سلاکارانو له ګډونه پرته ټينګار وکړي.

داسې يوه هڅه وشوه، چې د دفاع وزارت، د کې. جي. بي رياست او د کورنيو چارو وزارت له خوا په جلال اباد کې د هوايي ډګر د الوتنې پټارې ته نژدې ځانګړی ځای جوړ شو. نوموړې ډله په همدغه ځای کې ځای پر ځای شوه. د سلاکارانو ډلې دغه ځای د «لوی قبر» په نامه ونوماوه. د دغه ځای په اړه شفاهي بيان ډېر پټ وو او روښان نه وو، خو روسی انسان په خپل طبيعت او ذات کې دا شی لري، چې له اصلي نورمه په خلاف پر شيانو بېلابېل نومونه او لقبونه کېږدي. دا چې «لوی قبر» او «لوی قبر» نو څه چې لوی قبر دی؟

د څلوېښتم لښکر پوځ په دغه «لوی قبر» کې د سلاکارانو ډله پرې ښوده خو په دې بله ورځ کابل ته يو اندېښمن راډيوګرام راغی. په دغه راډيوګرام کې د سلاکارانو مشر داسې رپوټ راکړی وو چې د ياغيانو يرغل حتمي دی او ويلي يې وو چې د سلاکارانو ډله دې په بيړه له جلال اباده ولېږدول شي. په هماغه ورځ له کابله الوتکې راغلې او د سلاکارانو ډله يې بوتله. دغه پرېکړه په پوځي توګه شوې وه، ډېره کره وه او عمليات په ښه ډول سرته ورسېدل، خو د پرېکړې پټ رښتينی سبب ښکاره خبره وه، چې کابل ته د ډلې د راستنېدو پر ورځ په رسمي ډول روښان شو.

ketabton.com - The Digital Library

د شوروي اتحاد د وسله وال پوځ د ستر درستيز مشري په پرېکنده ډول په جلال اباد کې د سلاکارانو د پرې ښودلو خلاف وو. د شک لپاره بنسټ دا وو چې د شورويانو پر دغه گوښه شوې ډله کېدای شي ياغيان بريد وکړي، خو له شک لرونکيو څخه هېڅا هم دا سپېڅلې غونډله (جمله) ونه ويله، چې جگړه، جگړه ده. ډېر شيان په لوړ غږ يا په خبرو کې نه يادېدل. هر څه په لوړه کچه سره ښه، جوړ، سم او معقول برېښېدل، خو په تصادفي خبرو او يا هم په ناپامه څرگندونو کې د دوښمن په وړاندې ډار او په هغه متحد باندې بې باوري څرگندېده چې ډېر کلونه يې هغه ته درس ورکاوه، سپارښتنې يې ورکولې او د هغه مشري يې کوله. د جلال اباد ډله (سلاکاران)، چې په کابل کې راټوله شوې او جوړه شوې وه، له څرگندې موخې سره، که څه هم دغه موخه د کاغز پر مخ راښکاره شوې نه وه، بې له ځنډه د ټاکل شوي ځای په لور والوته. په هوايي ډگر کې له تخنيکي ستونزو سره سره، چې هغه د برېښنا نشتوالی او له «لوی قبر» نه په ۲۰۰ يا ۲۵۰ متره واټن کې د توغندي گولۍ ولگېده. «دوښمن د بريد لپاره چمتو کېږي» ډلې کوم ځنډ ونه کړ.

نه، حالات عادي نه ول. کېدای شو دا وښودل شي چې موږ د جلال اباد له ساتونکيو سره پاتې کېږو او هغوی نه خوشي کوو. زموږ د کلکوالي سمبول اړين وو، خو په اصل کې نور څه راڅرگند شول. که چيري د وروستي پړاو پېښو ته سرې لږ پراخ ليد وکړي، نو ښه به مالومه شي چې دغه حواس، د دوښمن په وړاندې ډار او پر متحد بې باوري تل زموږ د چلند بنسټيز لاملونه ول.

ketabton.com - The Digital Library

د دوښمن په وړاندې ډار څرګند دی. هغه د سیمې په شرایطو ښه بلد دی. په غرونو او تنګیو کې پټېږي، نه لیدل کېږي او هغه په خپل کور کې دی. دوښمن خپل ګوزار کوي او ورکېږي. د هغه له ګوزاره وروسته سوي کورونه، سوي موټرونه او زموږ د هلکانو مړي پاتې کېږي. دوښمن هغه ړیره ور او نالوستی سړی دی چې په هوا کې یې موږ له برلاسی بې برخې کړو. هغه د وژونکي زهرجن مچ په شان زموږ پر شاوخوا تاوېږي. د اوسنی وسلې دروند ګوزار، هوایي یرغلونه، چې له ۷۰۰۰ یا ۸۰۰۰ مترو لوړوالی نه بمونه غورځوي، دوښمن اندېښمنوي، خو له منځه یې نه وړي. پوځي بولندویان زاری کوي (موږ ته دوښمن په لاس راکړئ!) هغوی ته دا جګړه داسې یوه جګړه ښکاري چې کېدای شي سړی پکې دوښمن انتخاب کړي، تاکتیک پکې انتخاب کړي، هغه تاکتیک چې باید دوښمن ترې کار واخلي. داسې برېښي چې هغوی د ستړې هېوادنی جګړې (دویمې نړیوالې جګړې) د دوښمن خیالونه کوي، په داسې شرایطو کې چې وسله اوسنی ده، په هوا کې برلاسي هم اوسنی ده او دوښمن به هم په هماغه ترتیب سره خوځون کوي، چې په ۱۹۴۱ ز کال کې تر مسکوه پورې ورسېد. موږ په ۱۹۳۹ – ۱۹۴۱ ز کلونو کې هم دا چمتواالی نه کاوه، چې د کورنی جګړې د دوښمن په څېر له یوه دوښمن سره مخامخ شو؟ څه بد پاله تصادف دی.

ولې په متحد باندې بې باوري راپیدا شوه؟ څنګه داسې پېښ شول چې ۲۰۰۰ سلاکارانو، ډګروالانو او جنرالانو ونه شو کولی چې د افغان پوځ په تشکیل کې یو کلک او جګړه ییز ټولګی جوړ کړي؟ څنګه داسې پېښ شو چې د افغان پوځ تاکتیک د اوسنیو واقعیاتو پر بنسټ نه، بلکې د روسیې په

ketabton.com - The Digital Library

خاوره کې د جګړې په زړه او بې درمله تجربه باندې ولاړ دی؟ څنګه داسې پېښ شو چې د افغان وسله والو ځواکونو جوړښت زموږ د وسله والو ځواکونو د بېلګې له مخې جوړ شوی، خو د ۹ کلنې جګړې پراکتیک په دغه جوړښت کې هېڅ ډول بدلون نه رامنځته نه کړل؟

په دې کې شک نشته چې موږ افغانانو ته یوڅه ورزده کړي دي، خو مهمه خبره دا چې موږ پر هغوی خپل امرونه چلول، هغوی ته مو قوماندې ورکولې، پر هغوی مو حکومت کاوه، هغوی مو خپلو عملیاتو ته «تړل»، پر هغوی مو خپلې پرېکړې تحمیلولې او له دې سره یوځای مو په لوړ غږ چیغې وهلې، چې زموږ د متحد جګړه ییزه وړتیا کمزورې ده او د بدی ریښه مو په سیاست کې لټوله. ایا دا شونتیا وه چې سلا ورکړ شي، چې پوځ ته ښه کاغوشونه جوړ شي او په دغه کار کې ورسره مرسته وشي؟ سرتېرو ته په منظم ډول ډوډۍ ورکړ شي او تنخوا یې پر وخت ورکړ شي؟ د خپلو کورنیو غم وخوړل شي؟ سرتېري ونه وهل شي؟ نه، زموږ چارې داسې وې چې ټولو کارونو ته مزاحمت کېده. زموږ له خوا خلقي-پرچمي بې اتفاقي، چې د افغاني لوړ مشرتابه یوه لویه نیمګړتیا وه، هم همداسې وه، خو باید وویل شي چې تر وروستیو وختو پورې په پوځي چارو کې ورته اجازه نه ورکول کېده.

موږ له هغوی (افغانانو ) سره مرسته نه کوله، او سلا مو ورکوله، قوماندې مو ورکولې، خپل ترتیب او دود مو هغوی ته ورلېږداوه. د «ته» په خطاب سره مو چلند ورسره کاوه، په سوک مو مېز ورته ډباوه، په انترناسیونالیستي

ketabton.com - The Digital Library

ډګر کې مو ورته د مور ښکنځا کولې، هڅې مو کولې چې افغانان په خپل طرز سره برابر وتوږو. په پایله کې موږ یو کمزوری او داسې متحد لاس ته راوړ چې جګړه ییز قابلیت یې نه درلود. یو حیرانوونکی حالت رامنځته شوی دی. هغه افغان چې زموږ په لور دی هغه ډارن او سست دی. د دې لپاره موږ داسې توضیح لرو، چې دغه واکمني نامتووالی نه لري او خلک یې ملاتړ نه کوي. دا خبره سمه، مدلله او منطقي ده! خو د دوښمن له لوري خلک نه جنګېږي، بلکې مسلکیان، اجیران جنګ کوي، هغه څوک چې د بهرنیو ښوونکیو له خوا روزل شوي، بهرنۍ پیسې ورکړل شوې او په پردۍ خاوره کې پراته دي. زموږ مسلکیان او اجیران چیرته دي؟ هغوی نشته، ځکه چې هغوی زموږ په هېوادني پوځي پراکتیک کې نشته. موږ سرتېري لرو، چې ډېره لږه اندازه پیسې ورکول کېږي او په همدغو ناڅیزه پیسو باندې، چې هر چیرته وي، د غره په سر کې او که په کوم بل ځای کې وي باید ګوزاره وکړي او د پیسو په پار نه، بلکې د ایډیې په پار وجنګېږي. افغاني وضعه هر چا د خپل ځان لپاره په خپل طرز سره تشریح کوله: «لازمه ده په دې اعتراف وشي، چې موږ سیاسي او پوځي ماتې خوړلې ده.» په دې ډول سره څرګنده وه چې پوځي ماتې له سیاسي ماتې راوزېږېده.

جلال اباد ته به ستانه شو. موږ د دولتي امنیت د اوپراتیفي کنډکونو مخکښو پوستو ته روان یوو. لاره لږ د دې لپاره اوږدوو چې د «لوی قبر» کتنه وکړو. لکه څنګه چې پاس یادونه وشوه، په دغه ځای کې زموږ د سلاکارانو ډلې د یوې شپې ورځې په بهیر کې دفاع کوله.

ketabton.com - The Digital Library

دا يو هېښند او اغېز ښندونکی جوړ شوی ځای دی، چې له هېڅ شي سره نه پرتله کېږي. د الوتنې له پټارې په ۱۰۰ متره واټن کې تامبېړ (پړښه) ولاړ دی چې له لويو سيمټي تختو جوړ شوی او يونيم متر قطر لري. (نه غواړم چې د کره اندازې يادونه يې وکړم، ځکه ډارېږم چې تېروتنه ونه کړم ) په دغو تختو باندې يو دهليز غوندې ځای، چې شوروي او افغان پوځ ترې کار اخلي، په شاوخوا او له پاسه پټ شوی دی. دغه ځای کړکۍ نه لري، د ننوتځي او وتځي په مخ کې يې سيمټي تختې کېږ اېښودل شوې دي، د دې لپاره چې د چا خبره کوټې ته د ګوليو او بمونو د ټوټو د ننوتو مخه ونيسي. دغه سيمټي تختې غمجنې، درنې او ډاروونکې ښکاري. د اوسېدو له دغه ځای نه لوی دېوال چاپېر شوی دی. لوی وسپنيز جالونه له ډېرو ډک شوي او په دوه کتاره کې اېښودل شوي دي.

د دېوال په شاوخوا کې ماينونه خښ شوي، بمونه ځای پر ځای شوي دي. دغه د اوسېدو ځای د وروستۍ او وژونکې جګړې لپاره ټاکل شوی او پوځي انجينرانو د هغه په جوړولو کې ښه زيار ايستلی دی.

په پوځي وازونو (جيپونو ) کې پر خامه او بارانونو وهلې لار څو کيلومتره وړاندې تګ کوو او لمر لوېدو ته نژدې د اوپراتيفي کنډک يوې پوستې ته رسېږو. هواره غونډۍ، له هغې نه ها خواته ځمکه چې د هېچا نه ده او چيرته وړاندې دوښمن دی. د غرونو لوړې لمنې ګلابي رنګه غوندې ښکاري. زرغونو وښو څپه وره هواره پټه کړې ده. چوپه چوپتيا ده، ګرمي ده، سره له دې چې شپه هم رانږدې کېږي. وزير يعقوبي ممتازو سرتېرو ته مډالونه

ketabton.com - The Digital Library

ورکوي، د هغوی د ژوند او حال پوښتنه کوي. سرتېرو ځانونه بیدار نیولي، ډارېدلي نه دي، خو بولندوی، بولندوی دی، ځوابونه سم او ستاندارت دي: «هر څه سم دی.»، «شکایتونه نشته.» او داسې نور نور. د ویلو وړ ده چې نه دلته ، نه په هوایي ډګر کې، نه د قول اردو پـه بولنتون کې د ناارامۍ، اندېښنې او تردید هېڅ ډول نښې نه لیدل کېږي. طبیعي لتي او اسلامي برخلیکي اعتقاد؟ برخلیکي اعتقاد په لږه یا ډېره پیمانه له هر انسان سره شته، هر انسان چې په هر کلتور پورې اړه ولري. د برخلیک پر حتمي توب باور، وژنې ته د سست انتظار مانا نه لري. د انسان په برخلیک کې ښایي برې وي، ښایي جګړه وي، ښایي درونه او ستونزمن کار او تېښته وي. دلته پر برخلیک ګروهه نشته. دلته عادي حالت دی، مالوم دوښمن دی، هغه دا چې ژوند په خپل عادي حالت سره روان دی. ښایي چې یو وخت د محکومیت مزاج راپیدا شي او ښایي چې د بري مزاج، خو اوس عادي ورځنی ژوند دی.

ښار ته راستنېږو، تیاره شوه، موږ خوله کړې ده او له ګردونو ډک یو. په لاره کې د پښتنو د اتل عبدالغفار خان قبر تـه ورستنېږو. دا یو تاریخي او افسانوي شخصیت دی. د مهاتماګاندي همکار او ملګری وو. هغه یو مهال مخکې له دې چې خپلمنځي لانجو هندوان او مسلمانان د تل لپاره سره بېل کړل، یو ویاړن لقب درلود ، یانې د «سرحد ګاندي» په نامه یادېده، ځکه هغه ځای چې دی پکې زېږېدلی، لوی شوی او ستر شخصیت ترې جوړ شوی، له پخوا نه تر اوسه د سرحد «پوله» په نامه یادېږي. عبدالغفار د انګرېزانو پر ضد هاند و هڅه کوله، بیا د هند له وېش سره مخالف وو او د یوه خپلواک پښتونستان د جوړېدو په لاره کې یې هلې ځلې کولې. دا یو رومانتیکي تېپ

ketabton.com - The Digital Library

ته ورته انقلابي، ولسي مشر او برجسته تريبون وو ، خو هېڅ ډول جوړونه او سازمان ورکونه يې نه شوکولای، شاخوا ترې شکمن اشخاص راټول شوي ول، د واقعيت له احساسه بې برخې وو او د خپلو مخالفينو د چالاکو چلوټو (دسيسو ) په جالونو کې بند وو. کله چې به واکمنانو ته داسې وبرېښېده چې غفار خان او د هغه د لارې نور اشخاص په ازادۍ کې خطرناک دي، نو هغوی به بې له کوم ټينګاره بندي خانو ته روان ول او کله چې به يې نو چاته زيان نه شو رسولای، په همدومره اسانۍ سره به بېرته له بندي خانو وتل. کله چې به د دې ضرورت وو، چې بايد وسله په لاس واخيستل شي، نو هغوی به خلک دې ته راغوښتل چې له زورزياتي ډډه وکړي. خو کله چې به تاوده هوسونه بيا په سرېدو شول، نو هغوی به بيا د وسله والې هاند و هڅې يادونه کوله. د مهاتماګاندي د ژوند لاره د وژونکي په ګولۍ سره غوڅه شوه، خو عبدالغفار د دغې لارې تر پايه ورسېد ، نږدې سل کاله؟ يې ژوند وکړ او د همدغه کال په دوبي کې په ډيلي کې په حق ورسېد. د هغه مړينې د هغه نيم هېر شوی نوم خلکو ته بيا ور په ياد کړ او په سلګونو زرو افغاني او پاکستاني پښتنو د هغه په جنازه کې ګډون وکړ. د هغه پلرني ښار ته راغلل، په همدغه ښار کې عبدالغفار خان د هغه له غوښتنې سره سم خاورو ته وسپارل شو. خاورو ته سپارلو مراسم، چې ولسمشر نجيب الله هم پکې ګډون درلود ، بې له کومې پېښې پای ته ورسېدل. يوازې تر مراسمو لرې يو بس په بم وچاودېد.

دوه پوړيز کور چې ډېر وخت کېږي رنګ شوی او ترميم شوی نه دی، تش دی. کړکۍ يې د دړو تختو په واسطه بندې شوې دي. د وره پر سر يې يو کمزوری

ketabton.com - The Digital Library

گروپ بلېږي. د کور شاته د مالټو او ليموگانو لوی بڼ په پخېدو دی. خدای بښلی لړ بخيل غوندې وو. په جلال اباد کې داسې يوه ټوکه وه چې هغه هر گهيځ پخپله په ونو کې ټولې مېوې شمېرلې او چې کوم مهال به په کومه ونه کې يوه مالټه هم کمه شوه، نو د کور په غړيو کې به يې جدی بلټنه کوله.

دغه کوچني مسايل به تېر شي، ټولې عادي او نامهمې خبرې به هېرې شي، خو د خلکو په حافظه کې به د ټولو پښتنو د نيکمرغۍ په پار د دغه نيم روحاني مبارز او متحد شخصيت نوم پاتې شي. داسې فکر کېږي چې له غفار خان سره يو ځای د پښتونستان د خپلواکۍ په اړه خيال پرسته (اټوپيي) ارمان هم خاورو ته وسپارل شو. که څه هم د هغه انگازې به لا تر ډېره وخته پورې د پښتنو زلميانو تصور اندېښمنوي او پاکستاني دولتي مشران به لړ لړ ناراموي.

عبدالغفار خان دې خدای وبښي ! دا ډول خلک د تاريخ کتابونه ښکلي کوي.

يوه بله ليدنه کتنه. دا ليدنه کتنه د دوستې قبيلې مومندو له مشر جهانگير سره وشوه. هغه د قومي غونډ مشر دی، چې د جلال اباد او تورخم د لارې څارنه کوي، له راتلونکو خلکو څخه باج راټولوي، رتبه يې ډگروالي ده او جنرالۍ ته د رسېدو فکر لري. جهانگير د ډېرو افغانانو په شان د ډېرو خبرو مينه وال دی، تېز فکره دی، ډېره خندا يې خوښېږي. له کابل او شوروي بولنتونه د وسلې، پيسو او موټرونو انتظار لري. زموږ خبرې اترې هم په همدې اړه دي. جهانگير له دې شکايت لري چې د لږو شيانو ژمنه ورکړ شوې

ketabton.com - The Digital Library

ده، خو په زړه کې خوشال دی، ځکه چې د هېڅ شي انتظار یې نه درلود او څه چې یې غوښتي ول، هغه یې هم د هرحال په شمېر ول.

تر جهانګیر وروسته والي د دې لپاره راځي چې خدای په اماني راسره وکړي. وتلو ته یې زړه نه کېږي، خو کوربه تېنګار ښیي. هغوی د ماښام ډوډۍ له الکولي څښاک سره برابره کړې ده. والي چې د اسلامي قوانینو د مراعتولو مبارز دی، د هغه شتون به خلک دې ته اړایستي وای چې له الکولو ډډه وکړي. تر اوږدې خدای په امانۍ او مخ جنګولو وروسته وکیل اعظم خپل کور ته ولاړ.

له جلال اباده الوتنه هم همداسې ژر ترسره شوه، لکه ورتګ چې وو. الوتکه په داسې حال کې چې څراغونه یې مړه ول، ښکته شوه، مساپر وروختل او سملاسي هوا ته پورته شوه. هوا ته د پورته کېدو پر مهال ډزونه پرې شوي ول. مورږ په ډزونو پوه نه شوو، ځکه چې ډزونه د لاندې خوا نه کېدل، خو کله چې په کابل کې له الوتکې ښکته شو، نو د الوتکې د پرسونل له خوا له دغه خطره خبر شو. د پرسونل په رپوټ کې داسې لیکل شوي ول: «۲۲ بجې او ۲۵ دقیقې (د مسکو په وخت) د الوتکې له الوتو نه ۵ دقیقې وروسته د درنې ماشینګنې ډزونه پر مورږ وشول، چې کارتوس یې رسام ول. الوتکه له ځمکې ۱۲۰۰ متره لوړه وه، د پورته کېدو او الوتنې په دویمه کړۍ کې وه» په کابل کې هوا لږ سړه وه، دومره ډېره ګرمي نه وه او د جلال اباد له «حمامه» وروسته هوا ډېره ښه په اسانۍ سره ساکښل کېږي.

* * *

ketabton.com - The Digital Library

د هرات ولايت د والي رسمي سالون ډېر لوی، سوړ، ډېر پاک دی او زړه وړونکې ښکلا لري. اصيلو او ښکليو پايو لوړ اړ د مجسمو چت نيولی دی. د دېوالونو ژور شينوالی په کږو وږو تزئيني رسمونو رسم شوی او زرين نقش د اسيايي لمر د ځلا په شان ښکاري. د پخوانيو نامتو شاعرانو، پوهانو او حکيمانو انځورونه پرې کښل شوي دي. هغوی پخوا دلته په هرات کې اوسېدلي او ژوند يې کړی دی. پاس چت ته نږدې د سپېڅلي کتاب قران کريم کلام کښل شوی، چې د هر مسلمان لپاره ډېر ارزښت لري او زړه ته يې ډېر نژدې دی. د هرات غالۍ چې په ټوله نړۍ کې نامتو دي، د پښو د گامونو غږ غلی کوي.

موږ يانې د شوروي د بريدوالو (سرحدي) ځواکونو مشري واديم الېکساندروويچ ماتروسف، والينتين الېکسېيويچ ديوين، وزير يعقوبي او زه د ۱۹۸۹ ز کال د نوامبر مياشتې پر ۱۱ گهيځ وختي له کابله الوتنه وکړه. د کابل په هوايي ډگر کې د گهيځ په سپېدو کې افغان بدرگه کوونکي ډله کېدل.

ان-۳۲ ډوله الوتکه پر ځمکه ډېر ژر گړندۍ کېږي او الوتنې ته ډېر ژر چمتو کېږي. په هوا کې څو دورې کوي، د ښار له پاسه، له ځمکې نه لري، څومره چې ژر پورته شي هغومره ښه ده. بايد ۷۰۰۰ متره لوړه شي، بيا نو سټينگر خترناک نه دی. سټينگر افغان ولس ته د مخکينۍ امريکايي ټيکنالوجۍ ډالۍ ده.

ketabton.com - The Digital Library

غرونه له واورو ډک دي او د سهارني لمر په وړانګو کې ګلابي رنګ لري. هسک بې وېخه دی. ښکته لري نرۍ وریځ ښکاري (باید وویل شي چې الوتکه یو څه چټله ده. څوکۍ یې ښورېږي، ژغورملاوستني بېخي نه لري، خو زما په یاد دي چې ۳۰ کاله مخکې زه په همدې ډول یوه الوتکه کې، چې هغه د افغانستان د ملکي هوايي چلند الوتکه وه، سپور شوی وم چې دروازه یې دننه خوا نه پورې کېده.)

د هزاره جاتو بې پایه ټیټ غرونه همداسې مخې ته راروان دي. په تنګو درو کې سیندونه او لوی لښتي ډېر لږ لیدل کېږي. کلي ډېر کوچني ښکاري، پولې پټي د نریو تړانګو په شان ښکاري.

نږدې دوې ګړۍ الوتنه ده. نور نو خوب نه راځي. خبرې کول امکان نه لري، ځکه چې د الوتکې ماشینونه زښت ډېر غورېږي.

د هریرود دره چې هرات پکې پروت دی، ډېر یو خوښ ځای دی، په تېره په لمرین ګهیځ کې. د کابل په پرتله دلته هوا توده ده، شنیلي هم ډېر دي او غرونه دومره غمجن نه ښکاري. له هوايي ډګره تر ښاره ۱۲ کیلومتره لار ده. لار ډېره خرابه ده. د سیمټي تختو ترمنځ د شوبلو، درنو باروړونکو موټرونو، بمونو او ماینونو له لامله ژورې کندې جوړې شوې دي. په لاره کې کله د وسله والو کسانو ډله، کله شوبله، کله زرهپوښ او کله هم جګړه ییز ماشین (ماشین محاربوي) په مخ راشي. ښار ته زموږ ورتګ یوه ډېره مهمه پېښه ده. د ۱۹۸۹ ز کال تر فبرورۍ وروسته دلته هېڅ کوم شوروي پلاوی نه دی راغلی

ketabton.com - The Digital Library

او ښکاره خبره ده، هغه باید وشي چې هېڅ ډول باندېستي ګولۍ شانداره وضعه او مزاج خراب نه کړي.

زه په دې اند نه وم، چې زه به د هرات په شان یو ښار وینم، هغه ښار چې له پخوا زمانو راهیسې یې نه یوازې پخوانۍ کلا او جومات ساتل شوي، بلکې د ختیځ هغه زړه او عجیبه فضا پکې هم ساتل شوې، چې ما لا په ۱۹۵۸ ز کال کې لیدلې، احساس کړې او د تل لپاره زما په حافظه کې ساتل شوې ده.

سهارنۍ سوداګري بې له بیړې دوام لري. د هټیو ورونه پراخ پرانیستل شوي او هټۍ له توکو ډکې دي. بیې د اوس وخت لپاره لوړې نه دي. د باندې په لویو چنګکونو د پسونو تازه غوښې ځوړندې دي. تازه او تودې ډوډۍ پلورل کېږي. په یو شمېر نورو کې بیا خټکي راځوړند شوي دي. د نړۍ تر ټولو خواږه انګور په هرات کې دي. د نړۍ تر ټولو ښې غالۍ په هرات کې دي. هراتیان د خپل ښار هوسناک ساتونکي دي.

لکه په زاړه ختیځ کې چې دود وو، هټۍ بدشکله دي. د حیرانتیا وړ خبره داده، هغه مسلمانان چې شتمن دي د خپل ځان او کالو په برخه کې ډېر بانزاکته دي. هغوی تل پاک او سوتره دي. یا یې ړیرې پاکې خرېیلې او یا خو یې ږیرې سمې منظمې پرې ایښې دي. پاکې چپنې یې اغوستې، لوېدیځې خوشبویي ته لېوالتیا ښيي او د ټولنیزې استوګنې له چاپېریال سره په بشپړه توګه لېوالتیا نه ښيي. د هرات د هټیو کړکۍ چټلې دي. نورې چټلۍ د لارې په ژورو ځایونو او کندو کې غورځول کېږي. د ماتې ښیښې پر ځای له لرګینې دړې یا هم له کوم رانه پلاستیکه کار اخیستل کېږي. خو لکه څنګه

ketabton.com - The Digital Library

چې د هټیو خاوندان وايي، د هغوی په هټیو کې چې هر څه وغواړې موندل کېږي. توکي له ایرانه راځي (تر جګړه ییز و فعالیتونو وروسته اوس سوداګري مخ په ښه کېدو ده.) له پاکستانه پر بېلابېلو لارو د قاچاقي توکو کاروانونه راځي. څلویښتم لښکر په ټولو افغاني ښارونو کې د پوځي ملبوساتو، کانسرواوو، ودکا، بوټانو او کالیو نه ختمېدونکې زېرمې پرې ایښې دي. بهرني توکي ګران دي، خو خوراکتوکي د کابل او ګاونډي ایران په پرتله ارزان دي.

په کوڅو کې موټرونه لږ دي. که څه هم په ښار کې د پیټرولو کمی نشته (سلام دې وي ستر شمالي ګاونډي ته) د ترانسپورت تر ټولو ډېر دودیز ډول ګاډوي او د هغوی په مرسته بارکښې ګاډۍ دي. په کوڅو کې خره په ارامۍ سره روان او له پاسه پرې ښاریان سپاره دي. داسې برېښي لکه د خپلو تاریخي کتابونو له پاڼو څخه چې یې رسمونه راژوندي شوي وي. پټکي یې پر سرونو منظم تاو کړي او غنم رنګي مخونه یې لمر تور کړي دي. سورلي او مساپرین په برګو او ښکلي کړای شویو بګیو کې وړل کېږي. دا بګۍ یو وخت په زاړه هند کې د «ویکتوریا» په نامه یادېدې. د کوچنیو هلکانو، د ګلالیو کوچنیو انسانانویوه ډله چې له لسو کسو کمه نه ده، په ګاډۍ کې ښوونځي ته ځي. د ښځو یوه ډله چې څادرۍ یې پر سر دي، تېرېږي. څادري چې سپینه جامه ده او د لیدو لپاره پکې یوڅو کوچني سوري جوړشوي، هغوی له سره تر پښو پورې پټوي. څادري په ظریف رسم سره ګنډل شوې ده.

ketabton.com - The Digital Library

د هرات جومات، چې په خپل لرغونتوب، اندازې او ښکلا سره نامتو دی، په مخکیني پراخ انګړ کې یې ځای ځای خلک ناست دي. اوس د لمانځه وخت نه دی. هسې څوک په ټیټ غږ سره خبرې کوي، څوک د کتاب په لوست کې ډوب شوي او څوک هم پارسي افغاني شنه اسمان ته ګوري.

موږ وخت نه لرو. په ښار کې یو دوې ګړۍ پلي وګرځېدو. ساده کالي مو اغوستي ول، هتې مو وکتلې او جومات ته نږدې کېناستو. هلته هرو مرو پلټنډ او کنجکاو مرکه کوونکی موندل کېږي. کېداى شي سړى ورسره تور ایراني چاى وڅښي. دومره وخت نشته چې سړى زړه پرې ارام کړي او سړي ته دا امکان ورکړي، چې هغه نړۍ مهربانه ووینې چې انسان پکې ژوند کوي.

موږ د هرات له والي خالقیار سره خبرې وکړې. په ولایت کې بیا رغېدونکی کار روان دی. خلک کار کوي، سوداګري کوي او زده کړه کوي. نږدې ۲۰۰۰ شخصي کورونه جوړېږي. په ښار کې چې یو لک او شپېته زره وګړي ژوند کوي، ۱۲۰ ښوونځي کار کوي او دلته سواد د افغانستان د بلې هرې سیمې په پرتله ډېر دی. سوني او شیعه وګړي ګډ سوله ییز ژوند کوي. باندونه وسلې پرځمکه ږدي او تسلیمېږي. یوازې یو څو نه پوخلاکېدونکي ډلې پاتې دي، خو د هغوی وخت هم لږ پاتې دی. د هرات لوی والي وایي چې «د حکومت د تر ټولو سرسخت دوښمن تورن اسماعیل لپاره، چې یو لوی بولندوی هم دی، یوازې دوې لارې پاتې دي: یا به ایران ته تېښتي او یا به تسلیمېږي.» دا خبرې ډېرې خوشبیني ښکاري، د سړي زړه غواړي چې باور پرې وکړي. څو کاله مخکې شوروي پوځ په هرات کې سختې جګړې پرمخ بیولې. ایا دغو غمجنو

ketabton.com - The Digital Library

پېښو د هراتیانو پر شعور او حافظه دروند اغېز نه دی ښندلی؟ هغوی اوس شمال ته څنګه ګوري، له ډار سره، له کرکې سره؟

له مورې سره مرکه کوونکي دا خبره ردوي او په یوه غږ سره وایي چې ښکاره خبره ده چې جګړه وه، خلک ووژل شول، ویرانی او خرابی وشوې خو دا ټول څه اوس تېر شوي دي. شوروي پوځ له هغه چا سره مرستې کولې، چا چې ورته اړتیا درلوده، ډوډۍ او د خاورو تېل یې ورکول، له باندېستانو نه یې پټول او تل یې د ناروغانو درملنه کوله په ختیځ کې څوک بده او ترخه رښتیا چاته مخامخ نه وايي. هغه باید مالومه شي، وپلټل شي او له ناسیده لارو څرګنده شي. دلته زمونږ سرتېرو جګړې کولې او زمونږ هوایي ځواکونو وحشي، خطرناک بمي ګوزارونه کول، چې افغانان پکې وژل کېدل. د ځمکې له مخ نه د هغوی کورونه پوپنا کېدل! ښکاره خبره ده چې دا پېښې بې اغېزه نه دي پاتې شوې، خو زمونږ خاوندان هم چالاکي نه کوي. له بل پلوه له حالته هم مونږ د هغوی له خولې نه یو خبر شوي، بلکې په خپلو سترګو مو لیدلې دي. کله چې جګړه وه، خلکو په یو ډول احساس سره ژوند کاوه، خو جګړه چې پای ته ورسېده اړینه ده چې ټوله بدي هېره شي. بې له شمالي ګاونډي به د هرات ولایت حالت ستونزمن وي.

داود خان د یوې لویې پښتني وسله والې ډلې مشر دی. ډېر کلونه یې له حکومت سره هم جګړه کړې او هم ورسره ملګری وو. په هرات کې د شوروي پوځ د دریځ په وروستیو وختونو کې د دغه پوځ ښه ملګری وو. هغه یو ښکلی او شیک سړی دی. د نورزي قبیلې دودیزه لونګۍ یې پر سر ډېره ښه

ketabton.com - The Digital Library

ښکاري او هغه ته ځانګړې زړورتیا ور په برخه کوي. هغه هم له هغو خلکو څخه وو چې پر موږ يې ډزونه کول، خو له دې سره سره له تېر وخت نه بدې خاطرې نه لري. اړينه ده چې له شوروي اتحاد سره دوستي وشي، بې له دې افغانستان راتلونکی نه لري. داود خان د خپل ځان په اړه وايي چې هغه نالوستی دی. هغه لکه د نورو ډېرو په شان جګړې مخکې کړ. د پام وړ خبره دا ده چې دا ټول د لوی استعداد خاوندان يوازې د اپوزيسيون په لوري کې راپيدا شول. په دې بل لوري کې يوازې غلځی پښتون نجيب الله يوه استثنا وه.

هر حکومت بايد دغسې شخصيت د خپلو ملګرو په ډله کې ولري، لکه داوود خان، خو د هغه په وفادارۍ بايد تکيه ونه کړي. داود خان يو خپلواک مارغه دی. هغه له هغه چا سره دی، څوک چې تر ټولو ډېر پياوړی وي. که چيري حالت لږ بل ډول بدل شوی وای، نو ښايي چې هرات به يې تر توغنديز باران لاندې نيولی او لوټ کړی وای.

له داود سره مو خدای پاماني وکړه او د هغه د پخواني سيال امير سيد احمد په لور روان يو. امير اليزی پښتون دی او تر نورو ټولو مخکې د حکومت لور ته رااوښتی دی. د هغه باند خپل ځان لومړی د ځايي غوند په نامه ياد کړ. وروسته يې بيا دفرقې په نامه ياد کړ، په شوروی وسله ښه سمبال دی، له هغه شمېره بې. ټي. ار-۸۰ هم لري. امير په صادقانه توګه د حکومت د جدي دوښمن تورن اسماعيل خان پر وړاندې جنګېدلی دی. تورن اسماعيل د امير

ketabton.com - The Digital Library

شخصي دوښمن هم دی. هغه ته د بريو په پار د بريدجنرالي پوځي رتبه ورکړ شوه.

د ځايي غونډ په ښاري بولنتون کې امير له خپلو سلگونو مرستندويانو او لاسلاندې کسانو سره زموږ هرکلی وکړ. د سياسي چارو مرستيال، چې ډېر ښه وياند گڼل کېده، چای پر مېلمنو وېشه.

کوربه ځلېده، د هغه مخ په گڼه او ځوانه ږېره کې داسې ځلېده لکه لمر په پاڼو کې. د منصب او رتبو په اړه خبرې هسې د نزاکت له مخې کېدې. په اصل کې د امير بولنتون ته د دريو شوروي جنرالانو او والي ورتگ مهم وو.

بولنتون په هغه ودانۍ کې ځای پر ځای شوی، چې زموږ په مرسته جوړه شوې او د مېلمستون لپاره بېله شوې وه. پخپله ودانۍ ښه ساتل شوې، که څه هم څو توغندي هم پرې لگېدلي دي. د مخې لويې کړکۍ په دړو باندې بندې شوې دي، دننه ودانۍ پاکه او منظمه نه ده، په هر ځای کې گردونه پراته دي. يوازې د بولندوی بريدجنرال امير سيد احمد دوتر پاک او سوتره دی. دوتر ته پرله پسې تيليفونونه راځي، خو جنرال د هغوی زنگ ته کومه پاملرنه نه کوي، ځکه چې په نړيواله ديپلوماسۍ بوخت دی. په لري کونج کې د فرقې د بولندوی مرستيال او د هغه ورور ناست دي، مالومېږي چې د دويمې کچې وگړي دي.

اوس نو کابل ته د روانېدو وخت راورسېد. امير د دې لپاره چې موږ ته يوه ښه خاطره راوبښي، داسې وايي: «زه تاسې ته دا گرانتيا درکوم، تر هغه وخته پورې چې ستاسې الوتکه ۷۰۰۰ متره له ځمکې نه پورته نه شي، په ټول هرات

ketabton.com - The Digital Library

کې به د یو ډز غږ څوک وا نه وري» دا یوه ځانګړې مخه ښه وه. موږ له مېله پال بولنتونه اغېزمن روانېږو.

زموږ د کاروان موټرونه په معمولي نظم سره روان دي. په مخ کې ب. ار. د. ایم ، په هغه پسې ۵ وازونه (جیپان) چې پلاوی او بدرګه کوونکي کسان پکې سپاره دي او په پای کې زرهپوښ روان دی. ناڅاپه ټول کاروان درېږي. زموږ پر کاروان د هاون ډزونه کېږي. د هاوان درې ګولۍ له موږ نه سل متره مخکې د لارې پر سر لګېږي. موږ دې ته اړوتو چې ژر تر ژره له موټره راښکته او په زرهپوښ کې سپاره شو.

په دې وخت کې امیر په زرهپوښ کې راورسېد. هغه لږ شرمینده وو، خو وارختا نه شو لاس یې ښي لورى ته اوږد کړ او ویې ویل: «زه د لارې دغه خوا څارم، ډزونه له هغې خوا شوي دي.»

څوک ژوبل نه شول. د کلکې دوستۍ ځلا د مېلمنو او کوربه مخونه روښانه کړي ول. اړینه وه چې ټول په ګډه سره کومه الهام بښونکې سندره ووایو، خو د دې لپاره هېڅ اړینې کلیمې ونه مونده، نو ځکه مو په غېږه سره په عادي مخه ښه او یو بل ته د ښو هیلو په څرګندولو بسنه وکړه.

امیر سید احمد په ۱۹۹۰ ز کال کې په جګړه کې ووژل شو.

* * *

ketabton.com - The Digital Library

دغه گام چې په ناکامۍ سره پای ته ورسېد د ماجرا په نامه یادېږي. په افغانستان کې زموږ له خوا پورته شوی گام، چې د ۱۹۷۹ ز کال په دویمه نیمایي کې پیل او یوازې اوس پای ته ورسېد ، یوه ماجرا وه.

داسې پټ لاسوندونه، چې د ح. امین د راپرزولو د پرېکړې پر بهیر، د ب. کارمل تر مشرۍ لاندې د حکومت پر جوړېدو او افغانستان ته د شوروي پوځ پر لېږلو رڼا واچوي، په کې. جي. بي کې نشته. زما د ملگریو د کیسو او خبرو په وینا ډېرو لږو داسې لاسوندونو شتون درلود چې یوه کاپي یې درلوده او پخپله د یو. و. اندروپوف په شخصي سپارښتنې سره له منځه وړل شوي دي. زه نه پوهېږم چې یوري ولادیمیرووېچ د څه شي له مخې دغسې عمل کاوه. ښايي چې هغه به لا په هماغه وخت کې دا احساس کړې وه، چې چارې به بده پایله ولري. د رژیم پایښت، ټینگوالی او تلپاتې والی، د ښکتنیو لپاره د باور سمبول وو. کېدای شي چې د هغه د کچې شخصیت د بنسټیزې ډبرې ناپایداري او لنډمهالتوب احساس کړی وي.

د افغاني پوځي -سیاسي کمپاین تاریخ لیکونکي دې ته اړ دي چې په ډېرو ناباوري توکو، یانې رسمي لاسوندونو او د شاهدانو په شواهدو بسنه وکړي.

برېژنیف او د هغه ملگري څه شي دې ته اړایستل چې افغانستان ته نظر وکړي؟ ایا د امریکا متحدو ایالتونو په اړه هغوی داسې دایمي ډار احساساوه، چې مصنوعي وي؟

ketabton.com - The Digital Library

ز. بژیزینسکي د افغاني پېښو د تودوالي پر مهال داسې ویلي وو: «د امریکا د متحده ایالاتو لپاره تر ټولو ډېر بیړنی او ستونزمن جیوپولیتیک لومړیتوب، د شوروي اتحاد د سویل لویدیځې پولې ته څېرمه سیمه ده، چې ایران او افغانستان له پاکستان سره یکې یو ځای مهم رول لوبوي. مسکو په داسې حال کې چې غالب دریځ لري، دا وس لري چې په لري لوېدیځو او ختیځو سیمو کې د امریکا د متحده ایالاتو د متحدینو ترمنځ ټینګ او سیده اړیکي وشلوي...» (۳)

نوموړي داسې سلا ورکوله:

«د واشنګټن لپاره لازمه ده چې له پاکستان سره د لویې مرستې کولو او له ایران سره د اړیکو د ښه کېدو له لارې د شوروي مخته تګ په وړاندې خپل ټینګار پیاوړی کړي.

-[...] د ټینګار له ځواکونو سره دې مرسته او د هغوی ملاتړ دې وشي. هممهال دې د شوروي اتحاد دا چمتووالی په ژوره توګه مالوم کړای شي چې د افغانستان رښتونی ناپېیلتوب په پښو دروي [...]

-د راډیویي خپرونو او نورو وسایلو له لارې دي شوروي مسلمانانو ته د هغوی د سیاسي شعور په لا جوتولو کې هڅې وشي، چې په راتلونکي کې د شوروي له خوا د نورو اسلامي ولسونو ښکېل کمزوری کړي.»

یو له نامتو سیاستپوهانو او ماهرانو څخه ز. بژیزینسکي ونه شو کړای چې د شوروي اتحاد شونتیاوې او نیت په سمه او عیني توګه وشني. هغه زموږ د

ketabton.com - The Digital Library

هېواد پولو ته ځېرمه د خپلو ګټو د ساتنې په خاطر د امریکا متحده ایالاتو ته د غیرفعال سیاست سلا نه ورکوي، بلکې په شوروي اتحاد کې د بېلابېلو مېشتو قومونو په اړوند د «نورو وسایلو» په کارولو سره د کارند یرغلیز سیاست سلا ورکوي. د کریملین مشرانو د سرې جګړې په هماغه نړۍ کې ژوند کاوه، چې بژیزینسکي ژوند پکې کاوه. سرې جګړې خپل سنجش او پرتله دیکته کوله، سیاسي او پوځي خوځښتونه یې ښودل، دولتي مشران یې بې علاجه حالت ته راجلبول. په ویتنام کې په امریکایي جګړې باندې همدغسې کانه وشوه، په افغانستان کې هم په شوروي جګړې باندې همداسې پېښه وشوه. ډېرې تېرې شوې پرېکړې د نن ورځې له دریځه ناڅرګندې ښکاري. دغه ټولې پرېکړې په خپل وخت کې په سختګیره توګه د عیني او ذهني لاملونو د قید او شرط له مخې وړاندې کېدې او پلې کېدې او نه شو کېدای چې بل ډول وي.

نیت او موخه په یوه داسې پټ حالت کې زېږېده چې ان زموږ د ترل شوې او پټې ټولنې لپاره هم غیرعادي وه. د هغوی نوښتګرو دا زړه نه کاوه چې د ماهرانو او کارپوهانو پام ورته راواړوي، دومره وخت یې نه پیدا کاوه چې د افغانستان تاریخ ته نظر وکړي او د افغانانو په اړه په کوم څه ځانونه پوه کړي. د سفارت، کې. جي. بي، ګ. ر. او (یانې د شوروي اتحاد د وسله وال پوځ د کشف لوی ریاست) په تلګرامونو او رسمي بیړنیو لیکونو کې یوازې د پېښو د هماغې شېبې د بهرنۍ څېرې په اړه څرګنداوي ورکول کېدل. بې له دې چې د پېښو په پټ رښتوني سبب او د هغوی په ژورتیا ځانونه پوه کړي، هغوی یې په داسې کلیمو سره تعبیرولې لکه د ګوند په منځ کې هاند و هڅه،

ketabton.com - The Digital Library

انقلاب او د انقلاب ضد طبقاتي تقابل افغاني واقعیت له اندازې زیات ساده کاوه، په معکوسه او غلطه بڼه یې اړاوه.

دا نیت د داسې خلکو په سر کې راپیدا شو، چې د مطلق واک پلویان ول. هغوی په دې نه پوهېدل چې اپوزیسیون څه شی دی. (نه پوهېږم چې د تېري نوښت لومړی چا څرګند کړ. ښایي بریژنیف، ښایي چې اوستینوف، اندروپوف او یا به هم پوناماریوف تر ټولو لومړی د تېري نوښت څرګند کړی وي.) د دغو خلکو لویه بدبختي دا وه چې هغوی نه یوازې نه شو کولی چې په ریالیستي ډول د تېري د موضوع او موخو شننه وکړي، بلکې د هغوی په واک کې د شته میخانیزم شننه یې هم نه شو کولای. د ډاډمنتوب لپاره څو کلونو ته اړتیا وه، هېڅ‌چا په ښکاره پر دې اعتراف نه کاوه، چې د مؤسسو (وزارتونو او ریاستونو) ترمنځ سیالي دا وس لري چې هر ډول کړنه او کار فلج کړي، او د ګوندي، کامسامول، اداري سلاکارانو ډله بې صلاحیته ده او پوځ په افغاني شرایطو کې د جګړه ییزو فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره مساعد نه دی. هېڅ‌چا په ښکاره په دې اعتراف نه کاوه چې دغه پاسني ټول یاد شوي مسایل زموږ د خپل سیستم د زوال محصول دی.

دا هڅې چې لومړی چا افغانستان ته د پوځ د لېږلو خبره رامنځته کړه، د قاعدې له مخې نه څرګندېږي او هغو کسانو ته پاملرنه کېږي چې د اخرت په ورځ به د دغې پوښتنې ځواب وایي. داسې ویل کېږي چې د دې کار نوښتګر د ګوند «خړ کاردینال» م. ا. سوسلوف وو چې پر بریژنیف یې لوی اغېز درلود. له یو څه ناڅه ډاډمنتوب سره کېدای شي وویل شي چې اندروپوف د دغه ګام

ketabton.com - The Digital Library

مخالف وو. په شوروي اتحاد کې د کې. جي. بي او اندروپوف په وړاندې د جوړ شوي کمپاین په اړه د ختیځ المان د دولتي امنیت وزیر ای. میلکه په ۱۹۸۹ ز کال کې په غوسه وو او په برلین کې یې ماته وویل چې اندروپوف پخپله یو وخت ده ته په دې اړه ویلي وو، خو بیا هم د هغه وخت د کلکتیف کلیمې په مانا سره، دا پرېکړه ډله ییزه شوې وه.

که چیري د ۱۹۷۹ ز کال ټولیز نړیوال حالت او د شوروي مشرانو نړۍ درک ته پام وشي، نو په افغاني چارو کې د هغوی د لاسوهنې پرېکړه بشپړه تشریح کېدای شي. په ایران کې د امریکایانو ناکامي په برخه شوه او د هغوی د سمندري ځواکونو بېړۍ په پارس خلیج کې راپیدا شوې. د شوروي اتحاد او لوېدیځوالو ترمنځ مخالفت نور هم پسې زیاتېده. افغانستان ته د امریکایانو د ننوتلو شونتیاوې عیني وې، که څه هم مبالغه هم پکې شوې وه. فکر کوم چې په دې کې لوی رول د دې دندې خیالي اسانتوب ولوباوه، هغه دا چې حفیظ الله امین دې له څوکۍ گوښه کړی شي او پر ځای دې داسې خلک ورته وټاکل شي، چې له شوروي اتحاد سره ټینگ، ډاډمن اړیکې ولري، او دې ته چمتو وي چې کابل ته ستانه شي او دولتي کودتا وکړي.

په افغانستان کې د شوروي لوري هر گام په پټو سترگو اخیستل کېده او کله چې به ژوند د هغه ناسموالی وښود، نو په همدې ډول به د یوه بل ناسم او ناچمتو شوي گام نیت کېده. ستراتېژیکي نوښت هیڅ وخت زموږ لاس ته نه راته. پېښې په طبیعي ډول رامنځته کېدې او مخته تگ یې کاوه. مسکو

ketabton.com - The Digital Library

یوازې په اومو خیالونو باندې ځان ته دا تسلي ورکوله چې پېښې د ده په لاس کې دي او څاري يې.

د و. ا. کریوچکوف په وینا (هغه نه غوښتل چې د ۱۹۷۹ ز کال د پای په اړه ډېرې خبرې وکړي) سیاسي بیورو دا نیت درلود، چې شوروی پوځ به په افغانستان کې لږ وخت تېر کړي. پوځ باید د گارنیزیونونو په څېر ځای پر ځای شي. په جگړه ییزو فعالیتونو کې گډون ونه کړي، خو په خپل شتون سره باید د ب. کارمل ملاتړ وکړي، هغه پیاوړی کړي، د اپوزیسیون او بهرنیو ځواکونو مخه ونیسي.

پر هماغه لومړي ورځ پر شوروي پوځ ډزونه وشول او ښکاره خبره ده چې هغوی هم ځواب ورکړ. د سترگو په یو رپ کې...هغه څه پېښ شول چې وروسته په نزاکت سره «له وگړیو سره تماس» په نامه يادېده. د جگړې اور ورو ورو ونه لگېد، بلکې یو ناڅاپه یې روښانه لمبه پورته شوه. شوروي سرتېرو او افسرانو په صادقانه ډول خپله دنده سرته رسوله. سیاسي مشرتابه دا مېړنتوب او زړورتوب نه درلود په دې اعتراف وکړي چې د ب. کارمل او زموږ د پوځ په وړاندې باندونه نه دي ولاړ، بلکې پراخ ولسي تېنگار ولاړ دی.

پوځ يې دې ته اړایسته چې په باندونو پسې منډې ووهي. سیاسي کارکوونکیو خپلو لاسلاندې کسانو ته مارکسیزم-لینینیزم، د خلکو د پرگنو د ادارې او د پلینومونو د پرمخ بیولو هنر ورزده کاوه. په پرله پسې ډول د دې پوښتنې پلټنه روانه وه چې په افغانستان کې د دغه ستر گام په

ketabton.com - The Digital Library

مشرتابه کې ځوک ولاړ دی. د شوروي اتحاد سفیر، لوی ګوندي سلاکار، لوی پوځي سلاکار، د دفاع وزارت ځانګړی استازی او که د کې. جي. بی استازی؟ هر یوه د خپلې مؤسسې (وزارت، ریاست، کومېټې) استازي کوله او هر یوه ب. کارمل ته خپلې «سلاوې» ورکولې، خو دا کار یې تل په ادب سره نه کاوه. یو ستر ځواک په یوه تشه کې ډوبېده. افغاني افسرانو ته د لېنین نامتو مقاله «د مارکسیزم درې سرچینې او درې مرکبې برخې » په مفصله توګه تدریس کېده. ځوک چې به له پوځي دندې وتښتېد نو داسې پرېکړه به وشوه، چې مسؤلیت یې د کورنۍ پر غاړه دی او کورنۍ یې باید ځواب ووایي. هرې پوځي، ګوندي، دولتي ځوکۍ ته چې به ځوک وړاندیز شو، نو هغه به د شوروي ملګرو له خوا یا منل کېده او یا به هم نه منل کېده. د همدې مسئلې پر سر د شوروي ادارو ترمنځ سختې لانجې کېدې. چلوټه (دسیسه) په افغانستان کې زموږ د ټولو کړنو مهمه او نه بېلېدونکې برخه شوه.

د افغاني حماسې په ټولو پړاوونو کې د کودتا له سرته رسولو نیولې د پوځ تر وتلو پورې، کې. جي. بي کارند رول لوباوه.

زموږ سلاکارانو د دولتي اطلاعاتو خدماتو (وروسته د دولتي امنیت وزارت په نامه ونومول شو)، چې مشر یې د افغانستان اوسنی هېوادمشر نجیب الله وو، کارکوونکو ته زده کړه ورکوله. له افغانانو سره یې د اوپراتیفي چارو او ګامونو په طرحه کولو او سرته رسولو، د دولتي اطلاعاتو د خدماتو د کار او کارندتیا په لاپیاوړي کولو کې مرسته کوله.

ketabton.com - The Digital Library

د همدغه ګډ کار په بهیر کې د افغان واکمنو او اپوزیسیون د وسله والو ډلو ترمنځ د قراردادي اړیکو نظریه طرحه او پلې کېده. دا یو ډېر ستونزمن او ډېر وخت غوښتونکی کار وو، چې د مخالفینو د لښکرځای، پنډغالي (کمپ)، د ځینو قومي، قبیلوي ډلو د مشرانو ترمنځ یې د دوه اړخیزو اړیکو په اړه بشپړ مالومات غوښتل. د دې لپاره منځګړي لټول کېدل چې د اړینو تماسونو په نیولو کې یې مرسته کوله او اوږدې خبرې اترې کېدې. د اپوزیسیون له لوري سره چې به دا موافقه وشوه چې ډزونه به نه کوي او بندوي به یې، نو د دغې موافقې په بدل کې به خوراکتوکي، پیسې او وسله ورکول کېده، خو دواړو خواوو تل له دغې موافقې سرغړونه کوله. حکومتي واکمنو به ډېری مهال خپلې ژمنې نه پلې کولې او د اپوزیسیون لوري یې هم خپلې جګړه په ټول افغانستان کې روانه وه، خو د دولتي اطلاعاتو خدماتو کار مهمه پایله ورکوله. اپوزیسیون نه شو کولی چې د حکومت پر وړاندې یوه لویه ګډه او پراخه جبهه جوړه کړي، ځکه چې لامل یې نه یوازې د هغوی ترمنځ جوړښتیایي مخالفتونه ول، بلکې نور لاملونه یې هم درلودل. د امریکا د متحده ایالاتو د سي. آی. اې او د پاکستان د پوځي څارګرۍ ټولې هغه هلې ځلې، چې د اپوزیسیون یوموټي توب او کلکوالي ته یې وقف کړې وې، د افغانستان د دولتي امنیت د ارګانونو، چې د شوروي اتحاد د کې. جي. بي پر ملاتړ او مرسته یې تکیه درلوده، له هلو ځلو او هڅو سره برابرې وې. پوځي څارګرو د اپوزیسیون له ډېرو مشرانو سره اړیکي ټینګول او پراختیا یې ورکوله، چې د هغوی له ډلې څخه نامتو احمد شاه مسعود هم وو. (۴)

ketabton.com - The Digital Library

له وسله والو ډلو سره کار له خطر سره تړلی وو. په ۱۹۹۰ ز کال کې د افغانستان د دولتي امنیت د وزیر مرستیال جلال، د هېواد په لوېدیځ کې د اپوزیسیون له یوې ډېرې لویې وسله والې ډلې سره ستونزمنې خبرې اترې وکړې. په هرات کې د پوخلاینې په شانداره مراسمو کې جلال مخامخ د ماشینګنې په ډزونو وویشتل شو او د ضربې په ګولیو یې سوری کړ. د هرات والي خالقیار چې د ده په څنګ کې وو، سخت ټپي شو.

افغانان خیرغوښتونکي، نېک، صمیمي او مېلمه پال خلک دي، خو کېدای شي چې هغوی مکار او ظالم هم واوسي. څوک چې دا خبره هېروي غم به یې په برخه شي.

نجیب الله نه یوازې چې د دولتي اطلاعاتو او خدماتو مشر، بلکې زړه او ځان یې هم وو. ما د نجیب الله په اړه ډېرې خبرې لا په تهران او وروسته بیا په مرکز کې اورېدلې وې. د هغه په اړه خلکو له ځرګند درناوي سره خبرې کولې. له هغه سره زما ډېرو لیدنو کتنو د هغه په اړه د ډېرو خلکو ښه لید نور هم ښه مالوم کړ. نجیب الله ځوان، پیاوړی دی او ښه ونه لري. هغه هوښیار دی، دا وړتیا لري چې نوی څیز ژر ښه زده کړي او ځان پرې پوه کړي. هغه له موهوماتو خالي دی، هغه موهومات چې د شوروي ملګرو په مرسته یې افغاني، ګوندي، حکومتي مشري منجمد کړې او مقید کړې وه. نجیب الله ډېر ښه ویاند دی، ډېرې ښې کیسې کوي، د تېز فکره اقتراح ماهر او ماستر دی. تېزفکره اقتراح په ختیځ کې لوی ارزښت لري.

ketabton.com - The Digital Library

هېوادمشر (نجیب الله) وفادار او رښتونی افغان دی. هېڅوخت یې هغه جوړجاړي (سازش) ته د رسېدو لارې نه دي پټې کړې، چې تر ټولو ستونزمن او له عقله لرې برېښېده. د چالاکو مانورونو استعداد لري او د حالت د بدلون په وړاندې ډېر حساس دی. په ۱۹۹۱ ز کال کې له مسکوه کابل ته د ب. کارمل مرموزه راستنېدنه د نجیب الله له خوا منل شوې وه. هېڅ یو شوروي سازمان، مؤسسه د کې. جي. بي په شمول، سره له دې چې په دې اړه ورځپاڼو هم خپرونې کړې وې، په دې مسئاله کې برخه نه وه اخیستې. نجیب الله دا وړتیا لري چې په راتلونکي کې هم د خپلو سیاسي سیالانو په تړاو ناڅاپي خوځونونه سرته ورسوي.

نجیب الله کولای شي د هغو کسانو نوملړ پای ته ورسوي، چې د شوروي مشرانو په حکمت، د شوروي اتحاد د سیاست په پرله پسې توب او منطق باندې یې باور درلود، د شوروي ګتو ساتنه یې کوله او په دې ډاډمن ول چې ستر دولت به یې له هر ډول بدبختیو او مصیبتونو څخه وساتي.

شوروي سیاست هېڅ وخت په خپلوکوچنیو متحدینو حساب نه کاوه. په ډېرشمو کلونو کې د کومینترن مشران له منځه یووړل شول. د څلوېښتمو کلونو په پای کې د ایران شاهي واکمنۍ ته ازربایجاني او کوردي دموکراتان د دې لپاره وسپارل شول، چې له منځه یې یوسي. د خروشوف په وخت کې د «ولسي دموکراسۍ» د هېوادو مشران پرې ښودل شول، د شوروي سیاست په نوبتي کړلېچي او بدلون کې د هغوی راتلونکیو پیروانو ته شا واړول شوه.

ketabton.com - The Digital Library

* * *

د ۱۹۸۲ ز کال د می میاشتې پر لومړۍ، د افغانستان د خلق دموکراتیک گوند عمومي منشي او د انقلابي شورا رئیس ببرک کارمل په شوروي اتحاد کې له یوې میاشتې «استراحت او درملنې» وروسته خپل هېواد ته ستنېده.

افغان مشر، چې ورور هېواد ته یې سفر په بې غمۍ او خوښۍ پیل شوی وو، ډېر حیران، سربداله او وارخطا وو. په مسکو کې د دوستانه خبرو اترو په بهیر کې هغه ته په ځرگند ډول وویل شول چې په نړۍ او افغانستان کې حالت مخ په بدلېدو دی، دی نور ستړی شوی دی، د انقلابي ولس د مشرۍ درونډ پېټی نور نه شي وړلای او اوس نو هغه وخت راغلی چې د عمومي منشي لومړی لمبر ځوکۍ له خپلو همکارانو څخه څه ناڅه ځوان شخص ته خوشي کړي. هغه ته د افغان ولس لپاره د هغه د سترو خدمتونو، د انقلاب په چارو او د افغان-شوروي دوستۍ د ټینگېدو په برخه کې د هغه د لویې ونډې، د هغې مینې او صداقت په باب چې له ده سره یې شوروي مشران او ټول شوروي ولس لري، یادونه وشوه. افغان مشر ته یې واک و ځواک ته د هغه د رسېدو عوامل او شرایط هم ور په یاد کړل. له هغه نه یو شی غوښتل کېده، هغه دا چې په خپله خوښه په ښکاره ډول خپله استعفا اعلان کړي. هغه به د انقلابي شورا د ریاست پر ځوکۍ پاتې شي. دولتي ځوکۍ به کارمل ته دا امکان ورکړي، چې د افغان انقلاب لپاره کار او خدمت وکړي، له ویاړ او درناوي به برخمن وي.

ketabton.com - The Digital Library

شوروي لوري په لومړي سر کې په دې کې شک نه درلود ، چې کارمل به له سمې او معقولې سلا سره سم چلند وکړي او هغه څه چې له هغه غوښتل شوي، هغه به سرته ورسوي. هغه په تېر ماضي پورې اړه درلوده او د شوروي د نوي سیاسي تفکر له نوې رامنځته شوې نظریې سره جوړ نه راته. کارمل خپل کوم خپلواک بنسټ نه درلود ، هغه په خپلو همکارانو حساب نه کاوه او په سپکه سترګه یې ورته کتل او همدغو همکارانو یې ستونزمنه چلبازي ورته جوړه کړه چې په مسکو کې په خبرو اترو سره پای ته ورسېده. د وروستیو اوو ۷ کلونو په بهیر کې کارمل په ټینګار او ډاډمنۍ سره په وارو وارو دا خبرې تکرارولې، چې هغه کمونیست دی. له اندازې زیات د شوروي اتحاد کمونیست ګوند او شوروي اتحاد ته وفادار دی او په هغه باندې خلکو باور درلود. په مهمه مسأله باندې ټول پوهېدل، چې په افغانستان کې شوروي پوځ په ټولو افغاني مؤسسو کې پروت دی. په ټولو ګوندي کمېټو کې شوروي سلاکاران شته او کارمل د مانور لپاره هېڅ ډول ډګر او خپلواکي نه لري.

په مسکو کې شوروي مشران د خپل متحد (کارمل) د برخلیک په اړه دې پایلې ته راغلل چې (د هغه د ګوښه کولو لپاره ) له هغې معمولې او مروجې لیارې کار واخلي، چې د ګوند په دننه کې د کادري مسئلو د هواري لپاره ترې کار اخیستل کېده. یانې دا چې غواړي یې او که نه یې غواړې منې به یې. ښکاره خبره ده، چې دا ډول کوچني تخنیکي تفصیلات لکه د کارمل روغتیایي حالت، د هېچا لپاره د لېوالتیا وړ نه ول. د هغه روغتیایي حالت په هغه اندازه چې په مسکو کې یې انتظار کېده، تر هغه ډېر ښه وو. هېچا دې

ketabton.com - The Digital Library

ته پاملرنه ونه کړه چې مخکې له مخکې ډاکترانو ته لارښوونه وکړي. هغوی هم په صادقانه ډول دا ثابته کړه چې ان د هغه د ينې دايمي ناروغي هم خطرناکه ځانګړنه نه لري او ناروغ (کارمل) بايد يوازې د الکولو له کارونې ډډه وکړي. د کارمل لپاره دا کومه ستونزه نه وه، هغه لا تر دې مخکې له الکولو سره مخه ښه کړې ده.

کارمل د شوروي ملګرو د دريغ په پوهېدو سره وويل چې دی له هغوی سره موافقه لري، خو دی بايد کابل ته ولاړ شي، خپلو همکارانو ته خبر ورکړي، فکر پرې وکړي چې هر څه په سمه او مؤدبه توګه سرته ورسېږي. افغان (کارمل) چالاکي کوله، هڅه يې کوله چې له وخته کار واخلي او تر ټولو مهمه دا چې کابل ته ستون شي. کارمل په پای نه لرونکې خونړۍ چلوټه ماره (دسيسه کاره) فضا کې لوی شوی دی. د شوروي سياستوالو، دولتي ګوندي جګپوړيو مامورينو په ځانګړنو او عادتونو ښه پوهېده او د خپل برخليک په اړه يې اومه خيالونه نه پالل. بايد وويل شي چې هغه هغو بدلونونو ته پام نه کاوه، چې د شوروي اتحاد په لوړ مشرتابه کې رامنځته شوي ول، ان په ګواښ کولو کې يې زياتی کاوه.

په مسکو کې يې پر کارمل باور وکړ ، خو نه په بشپړه توګه. داسې يوه ډاډمن او بااتوريته سړي ته اړتيا وه چې د واک و ځواک سپارلو مراسم وڅاري او د ناکامۍ مخنيوي وکړی. دا سړی د کې. جي. بي د رئيس مرستيال او د کې. جي. بي د لومړي لوی رياست مشر و. ا. کريوچکوف وو، چې له اندروپوف سره يوځای د افغاني ګام په لومړي پيل کې ولاړ وو او په افغاني چارو کې د

ketabton.com - The Digital Library

شوروي لاسوهنې په تاريخ کې يې ورووستی رول نه درلود. هغه په کابل کې د حالت په ځانګړتياوو پوره خبر وو. د رژيم له ټولو لويو اشخاصو سره يې پېژندل او د هغوی په منځ کې يې لويه اتوريته درلوده. ولاديمير الېکساندرووېچ (کريوچکوف) له ستونزمنو حالاتو څخه د وتلو د لارو موندلو په برخه کې پياوړې او برجسته مهارت درلود.

کريوچکوف د مې مياشتې له لومړۍ نېټې نه دويمې نېټې ته د شپې کابل ته په الوتکه کې الوتنه وکړه. هغه ته يې بې پولې او بې سرحده واک ورکړی وو. کارمل بايد بې له شورماشوره د ادب له مراعتولو سره له خپلې څوکۍ ګوښه شي، هغه ادب چې په هغه وخت کې د دا ډول پېښو پر مهال په سوسياليستي هېوادو کې دود وو.

د کابل په هوايي ډګر کې د ښوونځي ۱۵۰ زده کونکيو د کارمل هرکلی وکړ. په دې اړه مورډ د مې مياشتې د لومړۍ نېټې په ماخوستن د تيليفون له لياري خبر شو. کارمل دا وړتيا او استعداد نه درلود چې د خپل نامتووالي اصلي کچه وسنجوي. له شوروي اتحاده د نوم غټولو اخيستل شوي او تقليد شوي سيستم يو ناوړه رول ولوباوه. د لاريونونو لويو ګڼو ګوڼو، چې د ګران مشر لوی لوی عکسونه به ورسره ول، د لويو لويو چيغو درلودونکو پوسترونو، شعارونو، په ټولو ګوندي او دولتي تدابيرو کې د ليډر په وياړ د هغه د روغتيا په خاطر نارې سورې، د هغه د شتون په ځايونو کې د هغه بې شماره ډېرو عکسونو، د شوروي رسمي استازو له حده وتلې غوړه مالۍ، مشر هم له ولسه او هم له هغه ګونده بېلاوه چې هغه يې مشري کوله. له ډېر ميليونيز

ketabton.com - The Digital Library

ښاره هغه ته د ۱۵۰ کسانو له خوا هرکلی، چې د ښوونځي زده کونکي ماشومان ول، کولای شوای داسې یو څوک په فکر کې ډوب کړي لکه د هغه غونډې چې د لویوالي سودا رونډ کړی وو. کارمل ټوله پړه پر خرابه هوا وراچوله او ویل یې چې دا د هغه د سیالانو چلوټې (دسیسې) دي. بې له شکه چې دې دواړو شتون درلود، خو دې هم شتون درلود چې ولس، د ګوند عادي غړیو او لیکو د افغان انقلاب د مشر او د لوړ مشرتابه د ټولو چارو په وړاندې مطلقه بې علاقه ګي درلوده.

د مشر مناظرین په ښکاره ډول ډېری ول. په هغه پسې د غښتلي شوروي اتحاد سیوری او عملي رښتونې شوروی شوبلې ولاړې وې. په دې ورځو کې «محدودو پوځي ټولګیو» لوړ جګړه ییز چمتووالی نه وو کړی. د ځواکونو انډول دومره نابرابر وو چې د وسله والې ښتې نه، بلکې د علني سیاسي لانجې د مخنیوي په اړه خبرې کېدې.

په کابل کې د شوروي استازو او یا هم په مسکو کې د شوروي نورو مشرانو په پرتله، کریوچکوف له کارمل سره پېژندل او له پخوا یې تر ټولو ښه پېژندلی وو. که چیري افغان دا وړتیا ولري چې په کوم چا باور وکړي، نو کارمل پر کریوچکوف باور درلود.

د می میاشتې په دویمه کریوچکوف چې له مسکوه کابل ته د سفر په ترڅ کې یې په تاشکند کې الوتکه ښکته شوې وه، نو بې له دې چې له دغې الوتنې وروسته دمه وکړي، له کارمل سره د لیدنې کتنې په خاطر دولتي ماڼۍ ته ولاړ.

ketabton.com - The Digital Library

په سالون کې چې په لړه بخیله رڼا روښان او غمجن غوندې وو، د افغانستان مشر د مسکو استازي ته منتظر وو. په غېړه سترې مه شي، درې واره د ولیو جنګول، د یو بل د حال او احوال پوښتنې دودیزه بڼه ده، د م. س. ګورباچوف او نورو شوروي مشرانو له خوا ورته سلامونه ورسېدل.

د مانۍ د خاوند (کارمل) په لومړیو خبرو کې یو ډول دوه مانیز ګواښ څرګند شو. «د شوروي ډاکترانو د غمخورۍ له برکته زه ځان ډېر ښه احساسوم. زه په بشپړه توګه روغ، رمټ یم او په دې پوهېږم چې دا د ځینو اعصاب راپاروي.» کریوچکوف خپل ځان داسې وښود چې ګواکې دی خو د هغو کسانو په ډله کې نه راځي چې د ده د ګران افغان ملګري د ښې او کلکې روغتیا له لامله خپه دي او د چا خبره زور ورکوي، نو خبرې یې له لیرې، په مسکو کې له کارمل سره له وروستیو خبرو راپیل کړې. د مسکو د استازي خبرې صمیمانه او ژر ژر روانې وې.

هغه وویل، موږ پوهېږو چې په افغاني مشرتابه کې ټاکلې ستونزې رامنځته شوې دي. تاسې ملګری کارمل په دې اړه اندېښنه لرئ او زړه مو ناارام دی. تاسې چې په دې وروستیو تېرو وختونو کې له خپلو نژدې همکارانو او ملګرو سره کومې لیدنې کتنې او خبرې اترې درلودې، د هغوی په اړه په مسکو کې خبر خپور شوی دی. (باید داسې ویل شوي وای چې لیدنې کتنې نه، بلکې سختې نښتې شوې وې، خو د خبرو لهجې نزاکت غوښت.) زموږ مشرانو وپتېیله چې له تاسې سره لکه له یوه لوی صادق ملګري،

ketabton.com - The Digital Library

انترناسيوناليست، هېوادپال او د هغه همکار په توګه خبرې وکړي، چې تل يې ټوليزې ګټې له شخصي ګټو لوړې ګڼلې دي.

پستې پستې خبرې لکه د رڼو اوبو د کوچني لښتي په شان بهېدې. ژباړنکی په خپل رول کې ننوت او د کريوچکوف لهجې يې ورته ژباړلې. د کارمل څېره ورو ورو تورېده.

مسکو داسې سنجش او امېد لري چې د تشکيلاتي مسئلې د حل نوبت به ملګريه کارمله ستاسې له لوري پيل شي. («تشکيلاتي مسئاله» د ګوندي پرسونل په ژبه کې د مسؤل شخص د ګوښه کولو او يا هم د ټاکلو په مانا ده. افغانانو دغه قالب زموږ له ګوندي سلاکارانو تقليد کړی دی) دا کار به هم د ټولو چارو او هم ستاسې لپاره ګټور وي. تاسې به د پخوا په شان د هېواد په چارو کې کارنده برخه اخلئ او له تاسې سره به د شوروي ملګرو په مينه بيا بيا ډاډمن شئ.

په سالون کې چوپه چوپتيا ده. د مېز پر سر شين چای په سړېدو دی. د مينې، دوستۍ او وفادارۍ موضوع په صادقانه او صميمي غږ سره اوربدل کېږي. داسې برېښېده چې کارمل به اوس نرم شي او همدا اوس اوس به د مېز له شا راولاړ شي، بې ارادې اوښکه به ژر پاکه کړي، خپل ګران شوروي ملګري به په غېږ کې ونيسي او د ټول هغه څه له سرته رسولو سره به راضي شي، څه چې مسکو ورته ويلي دي.

کارمل وايي، چې هغه عقيده من مسلمان دی، خدای (ج)، د هغه پيغمبر حضرت محمد (ص) او د هغه څلورو يارانو ته کلکه عقيده لري. د شوروي

ketabton.com - The Digital Library

اتحاد، د هغه د مشرانو په وړاندې د هغه احساسات او درناوی هم دغې عقیدې ته نژدې دي. دا زما د ژوند اصولي موخه ده.

کارمل ګړبند دی، هغه دا عادت لري چې ډېرې خبرې وکړي. عادي مفکوره او خبرې سره ژویي او ژویي. له کنایو سره لېوالتیا لري. نن د کارمل له خولې سولېدلې او زړې خبرې په غیرعادي غږ سره سختې، ظالمې، وچې او له کرکې سره وتلې. هغه خپله غوسه په خپل ځان کې بنده کړې وه، خو غږ یې ورو ورو لوړېده، له خولې یې جملې بېلې بېلې، په واټن سره راوتې او کمېدې.

کارمل ویل، ټول هغه مالومات چې په دې وروستیو کې سفیر او د کې. جي. بي استازي مسکو ته ورکړي، هغه ټول درواغ دي!

اوس نو کارمل ته په بشپړه توګه دا روښانه او مالومه شوه چې مسکو ته د هغه بلنه د چلوټې (دسیسې) یوه برخه وه. هغه یې له کابله د دې لپاره لرې کاوه چې د چلوټه مارانو، نور، کشتمند، نجیب او زیري لاسونه خلاس کړي. کارمل دا نه ردوي چې په مسکو کې ټاکلې موافقتنامې لاسلیک شوې، خو په هغه وخت کې هغه ډېر څه نه لیدل. د عمومي منشي استعفا او د چلوټه مارو لاسونو ته د واک و ځواک لېږد به په ګوند کې، په ولس او وسله والو ځواکونو کې لویه کرکه راپیدا کړي. د شوروي اتحاد اتوریتې ته به ډېر لوی زیان ورسوي، چې د حالت د بیرته سمولو لپاره به په لسګونو کاله وخت ته اړتیا پیدا شي.

ketabton.com - The Digital Library

کارمل دا فکر کاوه چې اوس څه وکړي؟ د مسکو سلا مشورې ومني او د شوروي اتحاد پر ګټو ګوزار وکړي؟ او که موافقتنامې له سره وګوري؟ په دې وخت کارمل په خبرو کې بند بند شو، خبرې یې په ستونې کې وغړېدې او ناڅاپه یې داسې چیغه کړه: ما مړ کړئ ! ما قرباني کړئ ! او داسې وکړئ چې دا قرباني زما ولس ومني ! زه مړینې، بندیخانې او شکنجو ته چمتو یم !

هغه د کریوچکوف خبرو ته غوږ نه نیوه، اجازه یې نه ورکوله چې د ده خبرې ورغوڅې کړي، توند او غضبناک مونولوګ ته یې ادامه ورکوله. له چتې ووت، خاورې او ایرې یې پر سر بادولې، قهر او غضب ورنه بادېده او د هغو خاینانو په پته، چې د چا خبره ده سړي ترې جوړ کړي ول، یې تر ټولو بدې کلیمې کارولې. کارمل خپل ټول اندونه په لوړ غږ سره په خبرو کې څرګند ول. هغه د بې اتفاقۍ ټول شوني لاملونه یو په بل پسې یادول او بې له کوم بدلونه هماغې یوې پایلې ته راته: د مسکو د پرېکړې سببونه له افغاني وضعې بهر شتون لري او د شوروي اتحاد د ستر (نړیوالې کچې درلودونکي) سیاست له خوا دیکته کېږي.

کریوچکوف په داسې ډېرې نرمۍ سره کارمل ارامولو، لکه سړی چې خپل ډېر ګران، نژدې بې درملنې او بې علاجه ناروغ ته له خواخوږۍ سره تسلي ورکوي. په غوړه مالۍ سره یې د هغه د ځان پرستۍ ستاینه کوله. هغه ته یې د ویاړ او درناوي ګلابي لیرلید انځوراوه او دا چې دده ملګری به د راتلونکي او پاتې ژوند ټول کلونه په شوروي اتحاد او افغانستان کې د درناوۍ په فضا کې تېر کړي. له مسکوه راغلی مېلمه هڅه کوي دا جوته کړي، هغه

ketabton.com - The Digital Library

خلک چې کارمل یې چلوته ماران ګڼي، هغه دده همفکره او هم عقیده دي او ده ته ډېر درناوی لري. بله دا چې مسکو په رامنځته شوې وضعه کې لاس نه لري، وضعه یوازې له افغان ملګرو سره او تر ټولو مخکې پخپله له کارمل سره د مرستې کولو غوښتنه پر مخ بیايي. بله خبره دا چې د مسکو له خبرو اترو په افغانستان کې څوک نه دي خبر...په دې وخت کې کارمل اغزن او غضبناک ځواب ورکوي:

-تاسې فکر کوئ چې افغانان خره دي؟

هغه په یوه خبره هم باور نه کوي. د هغه برخلیک مخکې له مخکې ټاکل شوی دی. د کریوچکوف په پستو خبرو کې د وسپنې غږ اورېدل کېږي، خو کارمل سرټمبه دی، د هغه خبرې پرله پسې دي. هغه څه د پاسه شل کاله سیاسي هاند وهڅه کړې ده. هغه د مسکو ګوډاګی نه دی! خو په ټولو چارو کې یې په شوروي اتحاد ډډه لګولې وه او نه شي کولای داسې مفکوره ومني، چې خلک غواړي هغه له سیاسته بهر وغورځوي. هغه وایي:

-داسې پلان جوړ شوی، چې ما له منځه یوسي! زما په زرګونو همکاران او ملګري به بندیخانې ته وغورځول شي!

-تاسې زموږ په ګرانټیو باور نه لرئ؟

کارمل په شوروي ګرانټۍ باور نه لري او موږ ته دا رایادوي چې په ۱۹۷۹ ز کال کې په مسکو کې د برېژنیف او تره کي تر تودې لیدنې کتنې یوه اونۍ

ketabton.com - The Digital Library

وروسته تره کی د امین له خوا ووژل شو. په ټولیزه توګه کارمل وایي چې شورویان ولې د هغه د هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي.

دا خطرناکه سیمه ده. کارمل ورو ورو د ادب او نزاکت له چوکاټه وځي. همدغه دی (کارمل) او د ده همفکران ول چې هر څه یې دې ته چمتو کړل، چې شوروي اتحاد وکولای شول د دوی په چارو کې لاسوهنه وکړي. کریوچکوف سخت ځواب ورکوي، چې شوروي لوري ته ټاکلي حقوق دا موضوع ورکوي، چې په افغانستان کې شورویان انترناسیونالیستي دنده سرته رسوي او وژل کېږي.

په دې وخت کې ناندرۍ او جدال پیلېږي.

-تاسې باید خپل ځان د افغان انقلاب لپاره وساتئ !

کارمل په قهر سره چیغې وهي:

-افغان انقلاب په ارامه پرېږدئ. تاسې وایاست چې په افغانستان کې شوروي وګړي وژل کېږي؟ وزئ، خپل پوځ مو وباسئ ! پرېږده چې افغانان پخپله د خپل انقلاب ساتنه وکړي !

کریوچکوف ټینګار کوي: د کارمل د استعفا نوښت له کابله راپیل شوی دی. مسکو له افغان مشرتابه سره یوازې مرسته کوي. کارمل باید له موافقتنامو سره برابر چلند وکړي، خړه پړه وضعه باید نوره پسې خرابه نه کړي، ځان باید د افغان انقلاب او افغان-شوروي دوستۍ په خاطر وساتي. د مسکو

ketabton.com - The Digital Library

استازی (کریوچکوف) ځان داسې ښيي، چې د شوروي پوځ په اړه خو نو يادونه نه ده شوې.

کارمل په خپلو خبرو ټينگار کوي: حالت په بشپړه توگه هاغه ډول نه دی، لکه څنگه چې يې په مسکو کې تعبيراوه. د هغه (کارمل) لپاره وخت په کار دی، چې د ټولو مسايلو په اړه يو وار بيا فکر وکړي. کريوچکوف کولای شي چې دلته په کابل کې ځنډ ونه کړي، مسکو ته ستون شي او هلته له لوړو خلکو سره سلا وکړي. که چيري اړتيا پيدا شي کريوچکوف کولای شي بيا کابل ته راشي.

دواړه لوري سخت ستړي ستومانه شوي دي. ټول دلايل څو څو واره ويل شوي او څرگند شوي دي. په بشپړه توگه د حل رکود ته ورسېدل. کريوچکوف په نرمۍ سره موسکی کېږي او سبا ته له کارمل سره د ليدو کتو لپاره اجازه غواړي، په دې اميد چې گهيځ تر ماښام حکيم دی. ستړی شوی ژباړونکی ستړي شوي مشر ته د متل مانا په يو ډول د ډولونو سره تشريح کوي. مشر په بې توپيره (بې تفاوته) څېرې سره راضي کېږي.

د ورځې په دويمه نيمايي کې د دفاع، کورنيو چارو او د دولتي امنيت وزيران کارمل ته ورځي. هغوی په ډانگ پېيلي توگه کارمل ته وايي، چې بايد استعفا وکړي. کارمل په بد چلند او بې ادبۍ سره ځوابونه ورکوي، خو دا په اصل کې د مايوسۍ او نا امېدۍ څرگندونه ده، نه ولس او نه هم گوند د خپل مشر په دفاع کې ودرېد.

ketabton.com - The Digital Library

کارمل تسلمېږي. د ا. خ. د. گ پلینوم د هغه استعفا تصویبوي. نجیب الله د گوند د عمومي منشي په توگه ټاکل کېږي.

تر ډېر سپکاوي او تحقیره یو کال وروسته ب. کارمل په سیاسي جلاوطنۍ کې وو. هغه ته یې د مسکو په «میووسکی» ډگر کې په نوي بلاک کې نوی کور ورکړ، چې په موبل باندې ښه سمبال وو. په «سیریبریانني بور» کې، چې یو وخت «وان مین» په کې اوسېده، یې ښه لوی اطرافي کور ورکړ. د شوروي اتحاد د سرې میاشتې له خوا ورته په پر له پسې ډول ټاکلې اندازه پیسې ورکول کېدې. د ا. خ. د. گ د مرکزي کومېټې له خوا ورته د تقاعدۍ پیسې په نامنظمه بڼه ورکول کېدې. د کې. جي. بي ساتونکو پرې پیره کوله، روغتیایي اړتیاوې یې د شوروي اتحاد د عامې روغتیا وزارت د څلورمې ادارې له لوري سمبالېدې. د شوروي اتحاد د کمونیست گوند د مرکزي کومېټې له خوا ورته موټر ورکړ شوی وو، خواره یې هم د مرکزي کومېټې له خوا برابرېدل.

کارمل یې نه ډار کړی وو، نه یې ورته ډېرې پیسې ورکړې وې او نه یې له اندازې زیاته ډوډۍ ورکوله، خو بیا هم یو څه ځرب شوی او چاغ شوی وو. هغه خپله کرکه نه پټوله. هغه په نجیب او خپلو پخوانیو همفکرانو پورې زهرجنه خندا کوله، زهرجن پسخند یې پرې واهه، ان تر دې چې له خولې نه به یې ناړې بادېدې. هغوی ته یې د ډېر بد برخلیک غوښتنه کوله. د خپل ولس د برخلیک په خاطر یې ژړل. افغانستان ته یې د تگ په پار ډېر لاس او پښې وهلې. له شوروي مشرانو سخت ډېر مایوس وو. په هغوی یې هېڅ باور نه

ketabton.com - The Digital Library

درلود او له هغوی نه یې د هیڅ شي انتظار نه ایست، خو له دې سره سره یې د هغوی په پټه له ډېر احتیاط سره خبرې کولې. تر ټولو یې دا ښه ګڼله چې په دې اړه بېخي ونه غږېږي. داسې فکر کېږي، چې هغه د درد او د پټې بدنیتۍ په ګډ احساس سره په دې پسې سترګې اړولې، چې هغوی (شورویان) څنګه د فساد ، فتنې، بې اتفاقۍ او ویرانۍ په ګرداب کې ډوبېږي. څنګه هغه لوی دولت له منځه ځي چې دی، یانې کارمل او د هغه ګوند یې د خپلو ګټو خدمت ته ګومارلي ول.

کارمل له مسکوه ځان په بیړه راخلاس کړ او د ۱۹۹۱ ز کال په دوبي کې کابل ته ولاړ. پر دغه مهال په مسکو کې د افغاني چارو په اړه چا دومره اندېښنه نه کوله.

ستر جنرال و. ای. وارېنیکوف چې په ۱۹۸۹ ز کال کې یې له افغانستانه شوروي پوځ په مهارت سره بې له سرزیانه راوایست، د پخواني افغان مشر په اړه یې داسې ویلي وو: «کارمل نه د خپلو همفکرانو له خوا ، نه د ولس له خوا او نه هم زموږ د سلاکارانو له خوا د هیڅ ډول باور او اعتماد وړتیا نه درلوده. هغه د لوړې درجې عوام فریب او ډېر ماهر فرکسیون باز (ډلپال) وو. » (۵)

نه شم کولای چې له والینتین ایوانوویچ (وارېنیکوف) سره موافق شم. دا د کارمل په اړه یوه بله بې عدالتي ده. کارمل چې له خپلو «مشرانو ورونو» یې ډېر څه زغملي ول، ټولو شوروي ملګرو په هره کچه کې چې وو ، له کارمل نه ځان ته خپل یو کارمل جوړ اوه. هر یوه چې څنګه غوښتل په خپله خوښه یې له

ketabton.com - The Digital Library

کارمله هماغسې کارمل جوړ اوه. د هغه پړه او بدبختي په دې کې وه، چې هغه د بې استعدادو ، ظالمو او بې سوادو استادانو خوشباوره او راستمن شاګرد وو.

* * *

د افغانستان ولسمشر نجيب الله وکولی شول، بې له دې چې پر شوروي پوځ ډډه ولګوي، د اپوزيسيون پر وړاندې ټينګار جوړ کړي. د هغه د واکمنۍ په اړه يوازې هغه مهال کېدای شي مخوينه وشي، کله چې په بشپړه توګه په شوروي پورې اړه درلوده. دغه تړلتوب اوس په تېر وخت پورې اړه لري. د نجيب الله مخې ته به ډېرې ستونزې راشي. خبره په دې کې نه ده چې هغه د شوروي اتحاد په مرسته واکمنۍ ته ورسېد. نجيب الله له خپل بل هر يوه سياسي سيال نه پياوړی دی. هغه د کابل، جلال اباد ، کندهار، هرات، مزارشريف ښارنه کوي. په افغانستان کې واک و ځواک له يوه لاسه بل ته له سوله ييزې لارې نه لېږدول کېږي. هاند و هڅه به دوام ولري...

ketabton.com - The Digital Library

# لمنليک

۱- سپین گارد: په روسیه کې د ۱۹۱۷ ز کال بلشویکي انقلاب نه وروسته د ځاري حکومت پوځ، چې د سپین گارد په نامه یادېده، پرضد وسله واله هاند وهڅه روانه وه. د سپین گارد پوځیانو تر انقلاب وروسته هم د بلشویکانو پر وړاندې ټینگار کاوه. په پایله کې د سره بلشویک پوځ له خوا وځپل شول، ووژل شول، یو شمېر یې تسلیم شول او یو شمېر نور یې نژدې گاونډیو هېوادو ته کډوال شول. (ژباړن).

۲-ل و. شېبارشین چې د پخواني شوروي اتحاد د کې. جي. بي مرستیال او د کې. جي. بي د لومړي لوی ریاست (بهرنی ځارگری) رئیس وو، لا په ۱۹۹۲ ز کال کې د شوروي اتحاد او احمد شاه مسعود ترمنځ له پټو دوستانه اړیکو څخه پرده پورته کړې ده. (ژباړن)

۳-بژیزینسکي. ز. ، د لوبې پلان، ایم پروگرس، ۱۹۸۲ ، ۱۹۹ م.

۴-ل و. شېبارشین دلته یو وار بیا له پخواني شوروي اتحاد سره د احمد شاه مسعود په پټو اړیکو باندې اعتراف کوي. (ژباړن)

۵-اوگونیوک. ۱۹۸۹ ، ۱۲ گڼه (ل).

ketabton.com - The Digital Library



د دي کتاب ليکوال ليونيد ولاديميرووېچ شېبارشين(۱۹۳۵-۲۰۱۲) .

ketabton.com - The Digital Library



# د دې کتاب د ژباړن لنډه پېژندنه

د دې کتاب ژباړن محمد طاهر کانی په ۱۳۴۴ ل کال کې د کندوز ولایت د دښت ارچي ولسوالۍ په شېرخان جم کې زېږېدلی دی.

لومړنۍ زده کړې یې په دښت ارچي کې او منځنۍ هغه یې د کابل په رحمان بابا لېسه کې پای ته رسولې دي. لوړې زده کړې یې په ۱۹۹۱ ز کال کې د اوکراین جمهوریت د لووف ښار په پوځي پوهنتون کې د ښوونې او روزنې او کلتورپوهنې په څانګه کې د ماسترۍ او د ډېر ښه (سره) برې لیک په اخیستلو سره پای ته رسولې دي.

ketabton.com - The Digital Library

تر دې مهاله يې دغه اثار خپاره شوي دي:

۱-تنکۍ پاڼې (شعري ټولګه)، د ۱۳۷۹ل ل (۲۰۰۰ ز) کال مسکو چاپ.

۲-افغانستان-زما وروستۍ جګړه، (ژباړه)، د ۱۳۸۰ل ل (۲۰۰۱ ز) کال پېښور چاپ.

۳- کوچنی شاهزاده (ژباړه)، د ۱۳۸۰ل ل (۲۰۰۱ ز) کال مسکو چاپ.

۴- افغانستان له شخصي دوسيې څخه (ژباړه) د ۱۳۸۲ ل ل (۲۰۰۳ ز) کال چاپ.

۵-د مسکو لاس (ژباړه) همدا اثر.

ناچاپ:

۱-واوره او توپان، د لېف نيکولايېويچ تولستوی د داستانونو ژباړه.

۲-بهرني ليکوال (ژباړه او څېړنه).

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*